د افغانستان اسلامي امارت
د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت
مالي او اداري معينيت
د اطلاعاتو او عامه اړيکو رياست

مهاجر مجله

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت
نشراتي ارګان پرليسې شلمه ګڼه ژمی ۱۴۰۲



د تورخم په فرضي کرښه کې له پاکستان څخه د جبری راستنېدونکو د راستنېدنې بهير

مهاجر نامه

د امتیاز څښتن:
د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت
مسئول مدیر: مفتي عبدالمطلب حقاني
د تحریر هیئات:
مفتي عبدالمطلب حقاني
یونس تنویر
عرفان همت
کړاو منګل
جمال ناصر نادري
راپور ورکونکی :
احمد شکیب حبیبي
ژباړه او ایډیټ:
صهیب راوي
عکاس:
نظام الله سبحاني
ګرافیک او ډیزاین:
عبیدالله بیدار

سرلیکونه	مخګنه
سرمقاله	۱
د وزارت د چارواکومهم فعالیتونه	۲
په ولایتونو کې د خدماتو وړاندې کول	۴۵
د دې ګڼې د انځورونو البوم	۷۱

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

الله تعالی ﷻ خپلو پیغمبرانو ته د کفر د شر څخه د خلاصون په موخه د هجرت کولو امر کړی، د خدای تعالی ﷻ په پراخه ځمکه نیک بندګان د دین، سر، مال او ناموس د ژغورلو په موخه تل هجرتونو ته اړ شوي او مهاجر شوي دي، نو په همدې اساس د مهاجرت داستان د کفر په مقابل کې د خپل دین، سر، مال او ناموس د ساتلو په موخه د بشریت د تاریخ له پیله ان تر ننه دوام لري. لکه څرنګه چې مهاجرت سنت او له بدو انسانانو څخه د ځان ژغورلو په موخه د الله تعالی ﷻ امر دی او رسول اکرم ﷺ هم خپلو لومړنیو پلیونو ته د حبشې په لور د هجرت کولو امر کړی دی.

د خدای تعالی ﷻ په لار کې هجرت کول په لومړنیو کې له سختو تکالیفو څخه ډک وي، خو وروسته یوه ستره بریا ورکوي، همدا د نبو او بدو په مقابل کې د الله تعالی ﷻ فیصله ده. د همدې هیلې له مخې افغان ولس د ناټو - امریکا، روس، انګریز او مغلو په مقابل کې هجرتونو ته اړ شوي او الله تعالی ﷻ بریا ور په برخه کړې ده.

له بل پلوه افغانانو په پنځو لسیزو کې د نامناسبو شرایطو، لکه فقر، د خوړو کموالی، طبیعي پېښو، بیکاری، خپل منځي جګړو، وچکالی او د غوره عاید د نه درلودو په وجه هم مهاجرتونه کړي دي.

په افغانستان باندې د شوروي اتحاد سره سم په ۱۹۷۹ ز کال نږدې ۷ میلیونه افغانان پاکستان هېواد ته مهاجر شول خو پاکستان هېواد افغان مهاجرینو ته هغه ډول حقوق ور نه کړل کوم چې د مهاجرینو نړیوال کنوانسیون له مخې یې غړي هېوادونه پناه غوښتونکو او مهاجرینو ته ورکوي، ولې بیا هم ۴ لسیزې راهیسې دغه هېواد د نړیوالې ټولنې او ملګرو ملتونو د کډوالو عالي ادارې په مرسته د یو شمېر افغان مهاجرینو کوربه توب کوي.

هم دا راز په ایران، ترکیه او یو شمېر نورو هېوادونو کې ګڼ شمېر افغانان د مهاجرت شپې سبا کوي او د قانوني حقوقو له ننګونو سره لاس او ګرېوان دي او له نا څرګند راتلونکي څخه کړېږي.

په ډېرې خواشینۍ سره باید وویل شي، چې د انساني قاچاق په برخه کې یو زیات شمېر اروپایي هېوادنه او په ځانګړې ډول امریکا د افغانانو انساني قاچاق ته ملا هغه وخت وټړله، چې کله د ۱.۱.۱ فتحه رامنځته شوه او د اشغال لمن ور ټوله شوه، نو یادو هېوادونو د خپلو افرادو په نوم یو زیات شمېر هېوادوال په غیر قانوني ډول د کابل له هوایي ډګر څخه انتقال کړل، چې لا تر اوسه هم په نا مناسبو شرایطو کې ژوند کوي. یادې کړنې ته د مهاجرینو وزارت د انساني قاچاق نوم ورکوي او له نړیوالو محاکمو غواړي، چې یاده قضیه دې وپلټل شي او پکې د خیل هېوادونه دې جریمه او د خیل افراد دې په سزا ورسول شي.

دا کړنه د نړیوال میثاق د هغه پرتوکول خلاف ده، چې پکې ویل شوي دي: د ځمکې، هوا او سیند له لارې انساني قاچاق منعه دی او انساني قاچاق د یاد پرتوکول خلاف عمل دی.

د مهاجرینو وزارت د انساني قاچاق په مقررې کار پیل کړی دی او ډېر ژر به د مشرتابه دفتر ته د منظورۍ په موخه واستول شي او په پلې کیدو کې به یې هیڅ دریغ ونه کړي.

له هغه وخته چې د ۱.۱.۱ یو ځل بیا په ټول هېواد حاکم شوی دی د هېواد په ټولو سرحدي پولو کې د کډوالو یو دقیق نظارت روان دی او هڅه کیږي، چې په غیر قانوني لارو باندې د هېواد له پولو څخه څوک ولاړ نه شي. د افغانستان اسلامي امارت په پرلپسې توګه هڅه کړې، چې افغان مهاجرین په خوندي، باعزته او ابرومندانه توګه خپل هېواد ته را ستانه کړي او خپل هېواد کې ور ته د بیا پیوستون او میشتېدنې ټولې اسانتیاوې برابرې کړي.

د افغان مهاجرینو قضیه د دولت د ملي پالیسۍ برخه پاتې شوې تر څو دولت د خپلو شته امکاناتو او نړیوالې ټولنې په ملاتړ د خپل نفوس ناتکمیله فصل بشپړ کړي، افغان مهاجرین راستانه کړي او هېواد دننه ولسونو سره یې مدغم کړي؛ ترڅو د هېواد په بیارغونه او پرمختګ کې فعاله ونډه واخلي او له ټولو هغو خطراتو مخنیوی وشي، چې له دې لوري د هېواد ملي سالمیت، امنیت او پرمختګ ته ګواښ پېښوي.

د کابل په هوايي ډګر کې د راستنېدونکو د ښه راغلاست دفتر د مهاجرینو چارو د وزیر په شتون کې پرانیستل شو

د مهاجرینو چارو د وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني په شتون کې د کابل په هوايي ډګر کې د راستنېدونکو د ښه راغلاست په موخه د دغه وزارت او د مهاجرت نړیوال سازمان(IOM) ګډ دفتر د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانیستل شو.

دغه دفتر د امریکایي قواوو له وتلو وروسته زیانمن او له فعالیتونو غورځېدلی و، چې د مهاجرینو چارو وزارت د حقوقي ملاتړ ریاست په هڅو او د مهاجرت نړیوال سازمان په همکاری بیا ځلې فعال او راستنېدونکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو له پاره چمتو شو.

د مهاجرینو چارو وزیر د یاد دفتر د څانګو د پرانستلو او کتنې په ترڅ کې د مهاجرت نړیوال سازمان د مرستو د همغږۍ له مسؤول ښاغلي عدنان بغجتي سره په خبرو کې د دغه سازمان له همکاریو څخه مننه وکړه او ویې ویل: د راستنېدونکو د ناسم وضعیت په پام کې نیولو سره له تاسې دا غوښتنه ده، چې خپلې نغدي او خوراکي مرستې د کمیت او کیفیت له پلوه زیاتې کړئ او د مرکز او ولایتونو ترمنځ د واټن په پام کې نیولو سره د راستنېدونکو د اوسیدو له پاره د هوایي ډګره بېرون لنډ مهاله ځایونه چمتو شي، چې په دې برخه کې ستاسې همکاریو ته اړتیا لرو.

ښاغلي عدنان ژمنه وکړه، چې مطرح شوې غوښتنې به د سازمان له مسؤولینو سره شریکې کړي.

د حقوقي ملاتړ رییس الحاج غلام نبي داد خېل په وینا اوسمهال ټولو راستنېدونکو ته د یاد سازمان له لوري۱۴۷ یورو، خواړه او اوبه وېشل کېږي او روغتیایي خدمات ور ته وړاندې کېږي.

هغه زیاته کړه چې د یاد دفتر دوه څانګې لري یوه څانګه یې د وزارت او IOM کار کوونکو او بله څانګه یې د راستنېدونکو د ښه راغلاست له پاره ټاکل شوې، چې په یو وخت کې د شاوخوا ۵۰۰ راستنېدونکو ظرفیت لري.



اروپایي ټولنه له مهاجرینو چارو وزارت سره خپلې همکاری او مرستې زیاتوي

دغه خبره د اروپایي ټولنې شارژ دافیرې میرمن رافیلا یودیچه د مهاجرینو چارو وزارت له وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني سره په لیدنه کې وکړه.

د اروپایي ټولنې شارژدافیرې او د دغې اداري د بشري مرستو مسؤل ښاغلي پوپوسکي د راستنېدونکو او بېځایه شوو په برخه کې د مهاجرینو چارو وزارت د کړنو څخه مننه وکړه او ویې ویل، دغه وزارت ته د دوی راتګ د مرستو د دوام او زیاتوالي په برخه کې د اروپایي ټولنې د ژمنتیااو له دغه وزارت سره د همکاری ننبه ده او مور ډاډ ورکوو،چې افغانان به یوازې نه پرېږدو.

د اروپایي ټولنې د بشري مرستو مسؤل ښاغلي پوپوسکي له پاکستان څخه د افغان مهاجرو د وېستلو د پلان په اړه وویل، چې له دې ناستې وروسته به د پاکستاني چارواکو سره د همدې موضوع د خبرو په موخه پاکستان هېواد ته لاړ شي.

هغه زیاته کړه چې د افغان مهاجرینو د ویستلو موضوع یوه مهمه موضوع ده او ژمنه کوم، چې دا مسئله به د جینوا په ناسته کې مطرح کړم.

د مهاجرینو چارو وزیر د یادې ټولنې له همکاریو څخه مننه وکړه ویې ویل، چې د ادارو د لګښتونو څرنګوالي ته باید جدي کتنه وشي، ځکه د اکثرو ادارو اداري لګښتونه د هغو مرستو په پرتله زیات دي، چې د دوی له لارې وېشل کېږي اود پروژې اداري لګښتونه باید له ۳۰ سلنو څخه زیات نه شي.

ښاغلي حقاني د راستنېدونکو، زلزله ځپلو او د ژمي په رارسېدو سره د روغتیایي کڅوړو او د خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو د د کمیت او کیفیت د زیاتوالي او همدارنګه د هغه موقتي استوګنځایونو د جوړولو غوښتنه وکړه، چې د اسلامي امارت له خوا د راستنېدونکو له پاره په پام کې نیول شوي دي.

د اروپایي ټولنې شارژ دافیرې او د بشري مرستو مسؤل وویل، چې اروپایي ټولنې د هرات ولایت له زلزله ځپلو سره د مرستې له پاره ۳ نیم میلونه یورو اعلان کړې دي او په نړۍ راتلونکي کې به یې د لګښتونو څرنګوالی د مهاجرینو چارو له وزارت سره شریک کړي.

هغه زیاته کړ د اورپایي ټولنې، د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري، د مهاجرت نړیوال سازمان او د مهاجرینو چارو وزارت په ګډې ناستې کې اړتیا ده، چې د شته ستونزو، مستحقینو ته د لاسرسي او د مرستو دوبش د څرنګوالي په اړه هر اړخیزې خبرې وشي او راتلونکې اوونۍ به ګډه ناسته ترسره کړو.



د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د منځنۍ اسیا له پاره د اروپایي ټولنې پراختیایي مرستو له مسوولې سره ولیدل

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د ۱۴۰۲ کال د لړم میاشتې پر ۳ مه نیټه د مرکزي اسیا له پاره د اروپا یې ټولنې د پراختیایي مرستو مسؤلې میرمن سارا او د دې ټولنې له مرستیال سفیر ښاغلي لودیک سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل.

په دې لیدنه کې د مهاجرینو پر ستونزو، د هرات د زلزلې له املې د بې ځایه شویو خلکو پر ستونزو او له هغوی سره د مرستې پر څرنګوالي خبرې وشوې.

میرمن سارا د هرات له زلزلې ځپلو سره د اروپایي ټولنې له خوا د څلور نیم میلیونه یورو د مرستې په اعلانولو سره وویل، چې له راستنېدونکو سره د ۱۵ میلیونه یورو په ارزښت یو ټرون لاسلیک شوی او دا کار د راستنېدونکو له پاره د ټولنې چمتووالی په ډاګه کوي او هېڅکله افغانان یوازې نه پریږدو.

ښاغلي خلیل الرحمن حقاني د اروپایي ټولنې د همکاریو د قدردانۍ ترڅنګ وویل: له افغانستان سره مرستې دېرې اعلان شوي، خو له بده مرغه مثبته پایله یې نه تر سترګو کېږي.

هغه زیاته کړه، د مرستو دېره برخه د هغو بنسټونو او پروژو په اداري چارو لګېږي چې اړتیا نه لري او دغه مرستې باید د راستنېدونکو لپاره د سرپناه، کلینیکونو، ښوونځیو او نورو بنسټې پروژو په جوړولو ولګول شي، چې د ژوند شرایط ورته برابر شي او په ژوند کې یې بدلون راشي.

حقاني زیاته کړه چې دغه وزارت په ۲۸ ولایتونو کې د مهاجرینو ښارګوټي لري ، په دغو ځایونو کې د راستنېدونکو د استوګنې لپاره د ژوند د لومړنیو اړتیاوو برابرول اړین دي او له هېوادونو او بنسټونو څخه غواړو چې په دې برخه کې همکاري وکړي.



راستنیدونکو ته د خدمتونو وړاندې کولو هم مهاله؛ په تورخم کې دوه کمپونه د استوګنې له پاره ګټې اخیستنې ته وړاندې شول.

د مهاجرینو چارو وزارت له خوا د راستنېدونکو له پاره د ۵۰۰۰ کسانو په ظرفیت دوه کمپونه د ۱۴۰۲ کال د لړم میاشتې پر ۱۰ مه نیټې اخیستنې ته وړاندې شول.

په تورخم کې د مهاجرینو چارو وزارت د رسنیز تیم د معلوماتو له مخې، دغه دوه کمپونه د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر حاجي خلیل الرحمن حقاني له خوا د مل پلاوي د مخابراتو وزارت سرپرست مولوي نجیب الله حقاني، د حج او اوقافو وزارت مرستیال شیخ زر محمد حقاني، مولوي رحمت الله مکي، د پوسټ اداري مرستیال مولوي عبدالصبور ابودوجانه، د ۲۰۱ سېلاب قول اردو قوماندان خالد بن ولید او د ننګرهار والي ملا محمد نعیم اخوند په ملتیا پرانیستل.

ښاغلي حقاني وویل؛ په دغو کمپونو کې راستنېدونکو ته ټول لومړني خدمتونه وړاندې کیږي.

هغه زیاته کړه، چې د تورخم له لارې شاوخوا یو ۱ لک او ۵۰ زره مهاجرین راستانه شوي، نارینه او ښځینه روغتیایي ډلې دوی ته روغتیایي خدمتونه وړاندي کوي ، خوراکي توکي، اوبه او نورو خدمتونه هم وړاندې کېږي.

حقاني وویل چې د تورخم له لارې شاوخوا ۱ لک او ۵۰ زره کسان راستانه شوي او د هغوی راتګ په عادي ډول روان دی.

دغه راز د مخابراتو وزارت سرپرست مولوي نجیب الله حقاني په یادو کمپونو کې د انټرنیټي خدمتونو وړاندې کولو، په یاده شوې سیمه کې د مخابراتي شرکتونو د انتنونو د نصبولو او راستنېدونکو ته د تابعیت تذکرې په پام سره د سیمکارتونو د وېش په اړه معلومات ورکړل،

د ښاغلي مولوي عبدالصبور ابودجانه له خوا په ټانکر موټرو د اوبو د دوامداره وېش او د راستنېدونکو د لېږد بهیر او هغه کسان چې د موټر د کرایې وس نه لري خپلو کورونو ته د رسونې ډاډ ورکړل شو.

ابو دوجانه وویل چې د تورخم سیمې ته د ګرځنده تشنابونو او امبولانسونو د لېږد سربېره د خالد بن ولید ۲۰۱ قول اردو څه باندې سل ډوله بېلابېل نقلي وسایل د راستنېدونکو په خدمت کې دي.

دغه راز د اطلاعاتو او کولتور وزارت سرپرست مولوي خیرالله خیرخواه د لارښوونې پر بنسټ د راستنېدونکو د روحي ارامتیا په موخه د تورخم فرضي کرښې ته څېرمه د ډاډګیرنې او آرامۍ جملې لیکل شوې دي.

په راپور کې ویل شوي، چې له راستنېدونکو سره د لومړنیو مرستو په موخه دوه میلیارده افغانۍ ځانګړې شوې او راستنېدونکي په پوله کې د چارواکو شتون څخه مننه‌وی او د خدمتونو وړاندې کولو ته خوشبین دي.

د جبري راستنیدونکو هېوادوالو په اړه د ملي دفاع وزارت د سرپرست مولوي محمد یعقوب مجاهد څرګندونې

مولوي محمد یعقوب مجاهد په خپلو خبرو کې راستنېدونکو هېوادوالو ته ډاډ ورکړ چې د اړتیا په پرمهال به د ځمکنیو ځواکونو په څېر د ملي دفاع وزارت هوایي ځواکونه هم د دوی په خدمت کې وي.

هغه وویل شپه او ورځ د دوی خدمت ته چمتو دي او هڅې روانې دي چې د راستنېدونکو هېوادوالو مناسب هرکلی وکړي.

دغه راز وویل راستنېدونکو ته ډاډ ورکوي چې خپل وطن ته په راستنیدو سره به نور نه ځوریږي او سرلوړی ژوند به ولري. مجاهد زیاته کړه چې اسلامي امارت د راستنېدونکو کارموندنې پلانونه او طرحې لري او دا مهال د امیرالمومنین په لارښوونه جوړ شوی عالي کمیسیون د خپلو کمیټو له لارې په جلا جلا څانګو کې په خدمت بوخت دي ښایي په لومړیو کې به ستونزې رامنځته شي، خو ورو ورو به ستونزې حل کېږي او د خدمتونو د پراختیا هڅې به هم وشي.

دغه راز هغه دا حالت د ملت او دولت لپاره یو ازمېښت ګڼي او وایي چې ملت او دولت باید په ګډه کار وکړي چې له دې ازمېښته تېر شي او د خپلو راستنېدونکو هیوادوالو حقونه پوره کړي.



د ملګرو ملتونو د بشري مرستو مسوول د مهاجرینو چارو وزارت له سرپرست سره ولیدل

د مهاجرینو د چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د ۱۴۰۲کال د لړم میاشتې پر ۱۳مه د ملګرو ملتونو د بشري مرستو له مسؤل دانیال انډرس او د یونسیار او IOM د دفترونو له استازو سره پخپل کاري دفتر کې ولیدل.

په دې لیدنه کې د راستنېدونکو د ستونزو، د دایمي سرپناه او د کار د زمینې د برابرولو په اړه نظرونه شریک شول.

انډرس د راستنیدونکو اوسنی وضعیت د اندېښنې وړ وباله او پر ګډو همکاریو یې ټینګار وکړ.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست وویل، اسلامي امارت د راستنېدونکو له ثبت او راجستر او ځای پر ځای کېدنې څخه نیولې تر دایمي ځای پر ځای کېدنې او هغوی ته د کار د زمینې برابرولو پلان جوړ کړی دی او د دې پلان د پلي کولو له پاره د اسلامي امارت مسئولین په تورخم او سپین بولدک کې بوخت دي او همکارې اداري باید په دې برخه کې له اسلامي امارت سره همکاري وکړي.

هغه له ملګرو ملتونو وغوښتل چې له خپل دریځ څخه په ګته اخیستنې پر هغو هېوادونو ټینګار وکړي چې د مهاجرینو کوربه توب کوي چې د مهاجرینو له منل شویو حقونو څخه د سرغړونې مخه ونیسي.

په دې لیدنه کې د وزارت مرستیال محترم محمد ارسلاح خروټي هم ګډون درلود، هغه د ښو خدمتونو په وړاندې کولو کې د ښکېلو غاړو ترمنځ همغږي اغېزناکه وبلله او زیاته یې کړه چې د اسلامي امارت دومره پراخه اندازه چمتووالی د حکومت د ژمنو څرګندونه کوي او همکارې اداري هم باید د بېړنیو حالاتو په پام کې نیولو سره خپل کاري پرسونل زیات کړي او خپل کاري وخت هم ۲۴ساعتونو ته لوړ کړي

دغه راز دې په ولایتونو کې د راستنېدونکو د ځای پرځای کولو له پاره هم چمتووالی ونیول شي.



کندهار کې د میرویس نیکه خصوصي پوهنتون د راستنېدونکو ځوانانو لپاره وړیا بورسونه ورکوي

د مهاجرینو چارو وزارت او د کندهار د میرویس نیکه خصوصي پوهنتون تر منځ د ۱۴۰۲کال د اکتوبر پر ۱۷مه نیټه د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې به یاد پوهنتون د هغو ځوانانو له پاره چې بیرته راستنیدو ته اړ کیږي د طب، اقتصاد او حقوقو په برخو کې ۷۰وړیا بورسونه ورکوي ، چې له دې سره به راستنیدونکو ته په ۸۰ سلنه تخفیف درس ورکول کېږي.

دغه هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني یاد لایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د میرویس نیکه خصوصي پوهنتون د لیدنې پر مهال د دغه پوهنتون له رئیس فاروق نعیمي سره لاسلیک کړ.

د میرویس نیکه پوهنتون رئیس ژمنه وکړه، چې د دغه پوهنتون تدریسي روغتون به ټولو راستنېدونکو ته په وړیا توګه روغتیایي خدمات وړاندې کوي.

دمهاجرینو چارو سرپرست وزیر د دغه پوهنتون د رییس د ښه احساس په قدردانې سره وویل چې د تحمیل شوو جګړو له املې دزیاتو ځوانانو د زده کړو بهیر نیمګړی پاتې دی او د دغې ستونزې د حل له پاره باید کار وشي .

هغه له نورو پوهنتونونو څخه هم غوښتنه وکړه چې د زده کړو د اسانتیاوو رامنځته کولو کې همکاري وکړي دغه راز یې هغه له لوستو افغانانو څخه چې په بېلابېلو هېوادونو ته کډوال شوي، وغوښتل چې هېواد ته راستانه شي او په خپلو علمي پانګو هېواد ته خدمت وکړي.



د کورنیو چارو سرپرست وزیر خلیفه سراج الدین حقاني د ۱۴۰۲ کال د لړم میاشتې پر ۱۸ مه نیټه له پاکستان څخه جبري راستنېدونکو سره د تورخم په کمپ کې ولیدل

د کورنیو چارو وزارت سرپرست هېواد ته د خپلو هېوادوالو د راستنېدو هرکلی وکړ او له افغان مهاجرینو سره یې د پاکستان حکومت چلند ناعادلانه وبالله او د هغوی دا کړنه یې له تمې لرې وګڼله.

نومورې د کمپونو په جوړولو او د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د اړوندو ادارو د هلو ځلو د قدردانۍ ترڅنګ راستنېدونکو ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت به دوی ته نورې اسانتیاوې هم برابرې کړي.

د راستنېدونکو په استازیتوب ځینو کسانو خبرې وکړې او د مسولینو د هڅو کورودانی او ستاینه یې وکړه.



کندهار کې د ځینو پوهنتونونو له خوا په جبري توګه راستنېدونکو ته ۴۰۰ وړیا بورسونه اعلان شول

د کندهار ولایت د څلورو خصوصي پوهنتونونو رئیسانو د مهاجرینو چارو وزارت له سرپرست سره د ۱۴۰۲ کال د لړم پر ۱۸ مه نیټه په جبري توګه راستنېدونکو ته ۴۰۰ وړیا بورسونه اعلان وکړ.

الحاج خلیل الرحمن حقاني کندهار ته د خپل سفر په ترڅ کې د ملالۍ، لمر، سبا، بینوا او بست پوهنتونونو له رئیسانو او استازو سره د ملالۍ پوهنتون په تالار کې ولیدل.

ښاغلي حقاني وویل، علمي بنسټونه باید په داسې ډول جوړ شي، چې زدکړیالان نور بهر ته د تللو اړتیا و نه لري او زموږ ځوانان باید د وطن دوستۍ په روحیه په یوه ځانګړي مسلک کې زده کړې وکړي، چې د شخصي ګټو پر ځای ملي ګټو ته ترجیح ورکړي.

هغه زیاته کړه، د شهیدانو وینه په علمي او پوهو شخصیتونو ساتل کېدای شي او د دوی په هلو ځلو به د هغو د وطن د ابادۍ ارمان پوره کېږي او تاسو د دې ډګر اتلان یاست.

په دې غونډه کې د ملالۍ پوهنتون له خوا په طب، حقوقو او سیاسي علومو کې ۱۰۰، د سبا پوهنتون له خوا د اقتصاد او کمپیوټر ساینس په برخه کې ۱۰۰، د بینوا پوهنتون له خوا د کمپیوټر ساینس او انجینرۍ په برخه کې ۱۰۰او د لمر پوهنتون له خوا هم ۱۰۰ وړیا سکالرشیفونه راستنېدونکو ته اعلان شول.

همدارنګه د هلمند ولایت بست پوهنتون د راستنیدونکو لپاره د ښوونې او روزنې، حقوقو او انجینرۍ په څانګه کې ۸۰ سلنه تخفیف اعلان کړ.

د یادو بنسټونو مسوولینو ژمنه وکړه چې هغه راستانه شوي کسان به په دندو وګماري چې د کار وړتیا ولري.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د دغو پوهنتونونو له مسوولینو مننه وکړه او د راستنېدونکو له پاره یې د نورو تحصیلي بنسټونو د مرستې او همکارۍ غوښتنه څرګنده کړه.

شوو کمیټواو د هغوی د فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل او زیاته یې کړه، چې د ایران سربېره په هره ورځ لسګونه مهاجرې کورنۍ له پاکستان څخه دغه ولایت ته راستنېږي.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست ډاډ ورکړ، چې دې ولایت ته د راستنېدونکو مهاجرینو ستونزو ته به ځانګړې پاملرنه کوي.




د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د هرات له والي سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني هرات ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۰۲لمریز کال د لړم پر ۱۹مه نیټه د هرات له والي شیخ نور احمد اسلام جار سره لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د هرات ولایت د زلزله ځپلو او راستنېدونکو د ستونزو او د هغوی د حل د څرنګوالي په اړه څرګندونې وشوې.

دواړو خواوو د ژمي د موسم له رارسېدو وړاندې د دغو اړمنو کورنیو له پاره د سرپناه پر برابرولو ټینګار وکړ.



د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د نیمروز له والي سره لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني نیمروز ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۰۲کال د لړم میاشتې پر ۱۸مه نیټه د نیمروز له والي مولوي نجیب الله رفیعي سره لیدنه وکړه.

په دې لیدنه کې د راستنېدونکو مهاجرینو د ستونزو او هغوی ته د لومړنیو خدمتونو او اسانتیاوو د برابرولو په اړه څرګندونې وشوې او د نیمروز والي د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست ته د ګومارل



د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د نیمروز ولایت کې د راستنېدونکو له موقتي کمپ څخه لیدنه وکړه

د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني نیمروز ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۰۲کال د لړم میاشتې پر ۱۸مه نیټه د نیمروز ولایت د زرنج ښار کې د راستنېدونکو له موقتي کمپ څخه لیدنه وکړه.

هغه د یاد ولایت د مهاجرینو چارو رئیس ته لارښوونه وکړه، چې د جبري راستنېدونکو له پاره دې لومړنۍ اسانتیاوې برابرې شي.



حقاني د هرات زلزله ځپلو ته په خطاب کې وویل:

اسلامي امارت به تر هغه وخته له تاسو سره همکاري کوي چې ستاسو کورونه بیرته جوړ او ژوند مو عادي حالت ته راشي.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني دغه څرګندونې د ۱۴۰۲ کال د لړم میاشتې پر ۲۰ مه نیټه د هرات ولایت زلزله ځپلې سیمې زنده جان ولسوالۍ څخه د لیدنې پر مهال وکړې.

هغه د خدای له درباره د شهیدانو له پاره د مغفرت او ټپیانو ته د عاجلې روغتیا دعا وکړه.

محترم حقاني صاحب د پښې له املې زیانمنو ته ډاډ ورکړ چې د اسلامي امارت همکاري به د دوی تر ودانیو جوړولو دوام کوي او ژوند به یې خپل عادي حالت ته راځي.

د زنده جان ولسوالۍ مسؤلینو د حقاني صاحب او ورسره د اسلامي امارت د بیړنیو کړنو ستاینه وکړه.



د مهاجرینو سرپرست وزیر د هرات ولایت د مهاجرینو چارو ریاست کړنې وارزولې

د مهاجرینو د چارو سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني هرات ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۰۲ لمریز کال د لړم میاشتې پر ۲۱مه نیټه د مهاجرینو چارو اداري کړنې وارزولې.

حقاني د دې ریاست د لیدنې پر مهال د کارکوونکو ستونزې او وړاندیزونه واورېدل او د حل ډاډ یې ورکړ.

دغه راز هغه د یاد ریاست مسولینو ته لارښوونه وکړه، چې د راستنېدونکو د ښه راغلاست او هرکلي لپاره شپه او ورځ تیار او چمتو واوسي.

د هېواد د لوړیځې حوزې پوهنتونونه راستنېدونکو ته ۳۵۵ وړیا سکالرشیپونه ورکوي

الحاج خلیل الرحمن حقاني هرات ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د جامي پوهنتون په غونډه کې د غالب، اشراق، حارثه، خواجه عبدالله انصاري، جامي، الغیث، حکمت، حنظله، ابو نصر، اسیا، غالب، شرق، هریوا، کاردان، غرجستان فراه، کهکشان له مسؤلینو سره وکتل. د اسیا، جورجیا فراه، کاردان شرق پوهنتونونو او ځینو خصوصي ښوونځیو سره د ۱۴۰۲لمریز کال د لړم پر ۲۱ نیټه هوکړه لیک لاسلیک کړ.

د پورته هوکړه لیک پر بنسټ، یاد پوهنتونونه به د اجباري راستنیدونکو لپاره د طب، کمپیوټر ساینس، انجنیري، اقتصاد، قضا او څارنوالي، حقوقو او سیاسي علومو، ټولنیزو علومو، شرعیاتو، ژبو او ادبیاتو په برخه کې ۳۵۵وړیا بورسونه ورکړي.

همدارنګه هغه راستنېدونکي کسان هم استخداموي چې په هره برخه کې کاري وړتیا لري.

الحاج حقاني د یادو بنسټونو د دې اقدام په ستاینه کې وویل، پوهنتونونه د هېواد راتلونکی ټاکونکي دي، تاسو باید ځوانان داسې وروزئ، چې د پردیو غلام نه شي او وطن ته ژمن پاتې شي.

نوموړي د عصري تعلیماتو تر څنګ پر دیني زدکړو ټینګار وکړ او زیاته یې کړه، چې دا مهال هېواد یووالي او عصري زدکړو ته ډېره اړتیا لري او علمي بنسټونه کولای شي دغه اړتیاوې پوره کړي.



د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو سرپرست وزير د پکتيا له والي سره وليدل

د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت سرپرست الحاج خليل الرحمن حقاني د لړم مياشتې پر ۲۷ مه نيټه د دغه ولايت له والي مولوي محب الله حماد او يو شمېر قومي مشرانو سره وليدل.

په دې ليدنه کې پکتيا ولايت ته د راستنيدونکو لپاره د اسانتياوو او مرستو د برابرولو په اړه د دواړو خواوو ترمنځ بحث او خرګندونې وشوې.

د پکتيا والي د مهاجرينو چارو سرپرست وزير ته د خدمتونو د وړاندې کولو په اړه معلومات ورکړل او ويې ويل: له سوداګرو او بنسټونو سره مو ناستې کړې، د جبري راستنېدونکو د ګومارنې او ستونزو ته د رسېدو په اړه به کمېټه جوړه شي.

بنـاغلي حقاني له قومي مشرانو وغوښتل، چې له جبري راستنېدونکو سره په هره برخه کې مرسته وکړي.

په دې ناسته کې د پکتيا د قومونو ترمنځ پر شته ستونزو خبرې وشوې او د اصلاحاتو او پخلاينې په اړه لازمې پرېکړې وشوې.



د رياست الوزرا اداري مرستيال په کندهار کې د جبري راستنېدونکو له موقتي کمپونو څخه ليدنه وکړه.

د کندهار ولايت د مهاجرينو چارو رياست د خبر له مخې، د رياست الوزرا اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي د لړم پر ۲۸مه نيټه د دغه ولايت په سپين بولدک کې د جبري راستنېدونکو له موقتي کمپونو څخه ليدنه وکړه.

په دې غونډه کې د کندهار والي او د ښاغلي حنفي تر څنګ د کورنيو چارو، کرنې، اوبولګولو او مالداری وزارتونو مرستيالانو، د مهاجرينو چارو رئيسانو او د کمېټې مسؤلينو هم حضور درلود.

په دغه ولايت کې د جبري راستنيدونکو د موقتي کمېټې رئيس د رياست الوزرا اداري مرستيال ته د هرکلي تر څنګ راستنيدونکو ته د موقتي کمېټې د خدمتونو او خپلو ورځنيو کارونو په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړل.

د رياست الوزرا اداري معين له ټولو مسولينو څخه چې شپه او ورځ يې د راستنېدونکو خدمت له پاره وقف کړي دي، منه وکړه .

حنفي وويل، ما له ټولو هغو دروازو څخه ليدنه کړې، چې له پاکستان څخه مهاجرين ترې خپل وطن ته راستنېږي، بايد ووايم، چې په دې برخه کې کندهار ولايت د نورو ولايتونو په پرتله د خپلو هېوادوالو په چوپړ کې د ورسپارل شويو دندو د ترسراوي له امله ښه دی.

نومورې د هر راز همکاری ډاډ څرګند کړ او په دغه ولايت کې يې د موقتي کمېټې د مسوولينو د ښو کړنو ستاينه وکړه.



د مهاجرينو چارو سرپرست وزير د زابل له والي سره ليدنه وکړه

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست الحاج خليل الرحمن حقاني زابل ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۰۲ لمريز کال د لېندۍ پر ۲ مه نېټه د دغه ولايت له والي مولوي حزب الله افغان سره په خپل کاري دفتر کې ليدنه وکړه.

د زابل والي د مهاجرينو چارو سرپرست وزير ته په دغه ولايت کې د مهاجرينو د راستنېدو بهير، هغوی ته د برابر شويو خدمتونو او د کاري کميټو د فعاليتونو په اړه معلومات ورکړل.

ښاغلي حقاني د مهاجرينو په برخه کې د دوی هڅې وستايلې او ډاډ يې ورکړ، چې له اړوندو ادارو سره په همغږۍ به د ستونزو د حل له پاره لازم اقدامات ترسره کړي.

هغه همدا راز د مهاجرينو استوګنځايونو په ثبات او پاکولو ټينګار وکړ او زياته يې کړه: اسلامي امارت به ډېر زر د مهاجرينو د استوګنځايونو د جوړولو کار پيل کړي.



د زابل ولايت د مهاجرينو چارو رياست دندې و ارزول شوې

د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت سرپرست الحاج خليل الرحمن حقاني زابل ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ۱۴۰۲ کال د لېندۍ مياشتې پر ۲ مه نېټه د دغه ولايت د مهاجرينو چارو له رياست څخه ليدنه وکړه او د دغه رياست دندې يې وارزولې.

د مهاجرينو چارو آمر ملا عبدالقهار په هغه ولايت کې له پاکستان څخه د جبري راستنېدونکو او هغوی ته د اساسي خدمتونو د وړاندې کولو په اړه د مهاجرينو چارو وزير ته هر اړخيز معلومات ورکړل.

د مهاجرينو چارو وزارت سرپرست د يادې ادارې د چارو د ارزونې تر څنګ د کارکوونکو ستونزې واوريدې او د حل ډاډ يې ورکړ.

ښاغلي حقاني د دوی د کارونو پر چټکتيا او رونټيا ټينګار وکړ او زياته يې کړه: جبري راستنېدونکو له پاره بايد منظم او چمتو واوسو او چې څومره شونې وي بايد خدمت يې وکړو.

مېرمن رفيلا: اروپايي ټولنه له جبري راستنېدونکو سره ۱۴۲ميليونه يورو مرسته کوي

په هغه کتنه کې چې د ۱۴۰۲ کال د لېندۍ پر ۷مه نېټه د مهاجرينو چارو وزارت سرپرست الحاج خليل الرحمن حقاني او په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د دفتر سرپرستې مېرمن رفيلا لوديک او ورسره مل پلاوي ترمنځ په وزارت کې ترسره شوه، دواړو لوريو د کډوالو چارو په اړه بحث او خبرې وکړې.

ښاغلي حقاني له پاکستان، ترکيې او ايران څخه د مهاجرينو د جبري راستنېدو او د هغوی د شمېر په اړه خبرې وکړې او زياته يې کړه چې د مهاجرينو کوربه هيوادونه په ځانګړې توګه ايران، پاکستان او ترکيه بايد له مهاجرينو سره له ناسم چلند او د دوی د ملکيتونو او شتمنيو له ناقانونه اخيستنې څخه ډډه وکړي او د دوی بشري حقونو ته دې درناوی وساتي.

همدارنګه ښاغلي حقاني د راستنيدونکو له پاره د سرپناه، خيمو او خوراکي توکو په برابرولو کې د اروپايي ټولنې د همکاری او مرستې غوښتنه څرګنده کړه او د چارو د رونټيا او حساب ورکونې ډاډ يې ورکړ.

اغلې رفيلا د مهاجرينو چارو وزارت له لوري جبري راستنېدونکو ته د سملاسي اقداماتو او سالم مديريت ستاينه وکړه او زياته يې کړه چې کار بايد په ګډه ترسره شي او له يونسيار او د مهاجرت نړيوال سازمان سره همغږي نوره هم پراخه شي.

نومورې له راستنېدونکو سره د اروپايي ټولنې د ۱۴۲ میلیونه یورو مرستې اعلان وکړ او ویې ویل چې په هر ډول حالاتو کې به له دغه وزارت سره خپلو همکاریو ته دوام ورکوي.

مېرمن رفېلا وویل، چې په نړۍ راتلونکي کې به د افغانستان په سرحدي سیمو کې د راستنېدونکو حالت له نړۍ وخېړي.

په دې ناسته کې د پالیسۍ او پلان او مرستو د همغږۍ دفتر رئیسانو هم حضور درلود.



د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست په لغمان ولایت کې د جبري راستنیدونکو پنډغالي ولیدل.

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني لغمان ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د لېندۍ په ۱۵ مه نېټه په دغه ولایت کې د جبري راستنیدونکو کورنیو له موقتي کمپونو څخه لیدنه وکړه.

د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست سرپرست مولوي حبیب الرحمن ارباب په یادو کمپونو کې د جبري راستنېدونکو کورنیو د موقتي او دایمي سرپناه ستونزې او ننګونې له سرپرست وزیر سره شریکې کړې.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست هغه ته د یادو کمپونو د ستونزو د حل او د راستنېدونکو د ښه ژوند په برخه کې د لا همکارۍ ډاډ ورکړ.



د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د فاریاب له والي سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني د لېندۍ پر ۱۸ مه نیټه د فاریاب له والي مولوي شعیب رسالت سره د هغه په کاري دفتر کې ولیدل.

په دې لیدنه کې د دغه ولایت امنیه قوماندان او د امنیت امر هم ګډون درلود، په دغه ولایت کې د راستنېدونکو پر ستونزو، تازه مېشتېدنې او د لومړنیو مرستو د برابرولو په اړه بحث او خبرې وشوې.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست وویل: له فاریاب سره د زیاتو مرستو په رسولو کې به نورې هڅې هم وکړو.



د ترکیې سفیر د مهاجرینو و چارو وزارت له سرپرست سره ولیدل

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني د ۱۴۰۲ لمریز کال د لېندۍ میاشتې پر ۱۹ مه نیټه په کابل کې د ترکیې له سفیر ښاغلي جنګ اونال سره پخپل کاري دفتر کې ولیدل.

په دې لیدنه کې ترکیه کې د مېشتو افغان مهاجرینو ستونزو، د دغه هیواد له زندانونو څخه د افغان بندیانو خلاصون او نورو مسایلو په اړه خبرې وشوې.

جنګ اونـال وويـل، ترکيـه لـه افغانسـتان سره ښـې او ژورې اړيکـې لـري او هلتـه د افغـان ډيپلوماتانـو شـتون او د پلاوو تـګ راتـګ د افغانستان په اړه د ترکيې د ښه نيت څرګندونه کوي.

هغـه زياتـه کـړه، پـه ترکيـه کـې د افغـان کډوالـو پـر وړانـديې د پوليسـو د ناسـم چلنـد د راپورونـو شـمېر کـم شـوی او کـه پـه کـوم ځای کې شکايت وشي، په اړه به يې اقدام وشي.

د مهاجرينـو چـارو سرپرسـت وزيـر وويـل، افغانـان او تـرکان د ديـن او عقيـدې لـه مخـې تاريخـي مـشترکات لـري او دا مـشترکات بايـد د ښو اړيکو لامل شي.

حقـاني زياتـه کـړه، افغانسـتان او ترکيـه اسلامـي هېوادونـه دي او لـه کډوالـو سره بايـد د اسلام د احکامـو او لارښـوونو لـه مخـې چلنـد وشي، پـکار ده، چـې د غيـر قانـوني کډوالـو د قانـوني کېـدو پـه برخـه کـې کار وشي او افغانانو ته د کار وېزې او نورې اسانتياوې برابرې شي.

دواړو خواوو په لا نورو ليدنو او همغږۍ ټينګار وکړ.



د مهاجرينـو چـارو سرپرسـت وزيـر د قطـر لـه سـفير سره ليدنه وکړه

د مهاجرينـو چـارو وزارت سرپرسـت الحـاج خليـل الرحمـن حقـاني د ۱۴۰۲لمريـز کال د لينـدۍ مياشـتې پـر ۲۰نيټـه پـه کابـل کـې د قطـر هېـواد لـه سـفير سـعيد بـن مبـارک الخيارين سره پخپـل کاري دفتر کـې وليدل.

ښـاغلي حقـاني د قطـر لـه سـفير سره پـه خبرو کـې د راسـتنيدونکو د سـتونزو او د هغـوی د اړتيـاوو پـه اړه معلومـات ورکـړل او د دواړو هېوادونو ترمنځ د ښو اړيکو او د قطر او افغانستان ترمنځ د همکاريو يادونـه يـې وکـړه او ويـې ويـل چـې د ژمـي پـه را رسـېدو بـه د کډوالـو ستونزې نورې هم زياتې شي

حقـاني زياتـه کـړه، چـې دغـه وزارت د خپـل پلان لـه مخـې هڅـه کـوي، چـې د راستنېدونکو سـتونزې هـوارې کـړي او پـه دې برخـه کـې د بشردوستو هېوادونو مرستې او همکارۍ ته اړتيا ده.

د قطر سفير وويل، له افغانانو سره پر دوستي ويارم.

هغـه زياتـه کـړه، چـې هېـواد يـې د هـرات لـه زلزلـه ځپلـو سره ۶۰ ټنـه خوراکـي او غيـر خوراکـي توکـي برابـر کـړي او لـه راسـتنېدونکو سره به هم له مرستې ډډه ونه کړي.

هغـه ووېـل، د اسلامـي هېوادونـو پـه غونـډه کـې چـې پـه دې وروسـتيو کـې پـه دوحـه کـې جـوړه شـوې وه، افغانسـتان څخـه د ملاتـړ سربېره د بشري مرستو پر اړتيا هم خبرې وشوې.

د مهاجر نړیواله ورځ ونمانځل شوه

۲۷/۹/۱۰۴۲

د مهاجر نړیواله ورځ چې د ډیسمبر له ۱۸ مې نیټې سره برابره ده؛ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت له‌خوا د حکومت د رسنیو په مرکز کې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې، چې د ریاست الوزرا مرستیالانو، د اسلامي امارت د کابینې غړو او د نړۍ‌والو مؤسسو مسؤلینو پکې ګډون درلود؛ ونمانځل شوه.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د دوشنبې په ورځ په دغه غونډه کې وویل: زمونږ په هېواد کې د مهاجرینو د ټېرو څلورو لسیزو ستونزې د لومړي ځل له‌پاره د پخواني شوروي اتحاد تر یرغل وروسته راپیل شوې؛ خو آن تر اوسه پورې زمونږ هېوادوال له دغو ستونزو سره مخ دي. په نړیواله کچه افغان مهاجرین له ډېرو ستونزو سره لاس او ګرېوان دي او دا دویم ځل دی، چې د امریکا او د هغوی د متحدینو په دغه اقدام سره په میلیونونو افغانان مهاجرین او بې ځایه کېږي او دا بهیر تر اوسه دوام لري.



مونږ د نړۍ له هېوادونو او ګاونډیانو څخه هیله کوو، چې له افغان مهاجرینو سره د نړۍ‌والو او بشردوستانه قوانینو په رنا کې چلند وکړي، مونږ له هغوی څخه غوښتنه کوو، چې زمونږ له مهاجرینو سره همکاري وکړي.

اسلامي امارت په زوره شړل شویو او اجباري مهاجرینو سره لومړنۍ مرستې کړې دي او په دې برخه کې له ټولو ملي او بین المللي همکارو مؤسسو څخه د زړه له کومې مننه کوم او په راتلونکي کې یې هم د همکاریو د دوام غوښتونکي یو.

په دې مناسبت د اسلامي امارت د رییس‌الوزرا ملا محمد حسن اخوند په پیغام کې، چې د قاري عبدالستار سعید له خوا ولوستل شو، راغلي، چې زمونږ هغه هېوادوال چې په بهر کې ژوند کوي، له ډېرو ستونزو سره مخ دي. له اجباري راستنو شویو سره د همکارۍ له اړخه د اړوندو کمیسیونونو او کمیټو له همکارۍ څخه مننه کوم؛ اسلامي امارت او ټول نظام د مهاجرینو خدمت ته ژمن دی او دا خپله ديني او ملي وجیبه ګڼي.

له ملي سوداګرو او نورو بنسټونو څخه هیله کوم، چې د خپل توان له مخې له خپلو وروڼو سره همکاري وکړي، په دې برخه کې له نړۍ‌والو همکارو بنسټونو څخه هم مننه کوم.

په دې غونډه کې داقتصادي چارو معین ملا عبدالغني برادر وویل:



په ملیونونو مهاجرین د ژوند له لومړنیو اسانتیاوو څخه بې برخې دي، مونږ له ګاونډیو هېوادونو څخه د نړۍ‌والو قوانینو سره سم نېک چلند غواړو.

اسلامي امارت د جبري راستنېدونکو له‌پاره د ژوند اساسي اسانتياوې برابرې کړې دي؛ په دې برخه کې چې له موږ سره کومو ملي سوداګرو او همکارو موسسو مرسته کړې ده، مننه ترې کوو.

د وزارت مالي او اداري مرستيال الحاج محمد ارسلاح خروټي وويل: خوښ يو، چې نن له بمي بريدونو، چاودنو، جګړو او بريدونو څخه په خلاص خپلواک افغانستان او د اسلام په مقدس نظام کې سره راټول شوي يو.

موږ د خپلو وروڼو په یاد کې دلته سره راغونډ شوي يو، چې د دغو ستونزو له امله لا هم په نورو نړيو کې د کډوالۍ ترخې شېبې زغمي.

له بده مرغه سړکال موږ دا ورځ په داسې حال کې نمانځو، چې په ټېرو دوو میاشتو کې د پاکستان موقتې اداري د ټولو اسلامي، بشري، ګاونډيو او نړيوالو معيارونو خلاف د افغان کډوالو ژوند نه يوازې چې ستونزمن کړی، بلکې په زوره يې بېرته ستنولو ته اړ کړي دي؛ بلکې د دوی شتمنۍ يې ترې ضبط کړې، ځينې ماشومان يې له مور او پلار پرته په زور له خپلو کورنيو جلا او اخراج کړل او يا يې برعکس مور او پلار يې وشړل او اولادونه يې په هغه هېواد کې پاتې شول.

ښاغلي خروټي زياته کړه، سره له دې چې د افغانستان د اسلامي امارت د واکمنۍ پر مهال ډېر افغانان هېواد ته راستانه شوي؛ خو اوس هم شاوخوا ۷ ميليونه افغانان په ګاونډيو او نورو هېوادونو کې د کډوالۍ ژوند تېروي.



د دغو افغانانو د ستونزو د هوارۍ په موخه د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت د کوربه هېوادونو له چارواکو سره منظمې ناستې وکړې، په همدې موخه يې يو شمېر هېوادونو ته سفرونه کړي او وخت په وخت يې له چارواکو سره کتلي دي.

په دغو کتنو کې د کوربه هېوادونو او د کوربه هېوادونو له ډيپلوماتانو سره د کډوالو د ستونزو د حل او د هغوی د جبري شړلو پر سر خبرې اترې او بحثونه تر سره شوي دي؛ دغه راز د پاکستان او ايران له زندانونو څخه څه باندې ۳ زره بنديان او د ترکيې له زندانونو څخه څه باندې ۷ زره تنه بنديان ازاد شول او له خپلو کورنيو سره يوځای شول.

د اسلامي امارت په راتګ سره په هېواد کې سوله ټينګه شوې او د ژوند او کار شرايط يې ډېر ښه شوي، له همدې امله د مهاجرينو پخپله خوښه راستنېدنه د افغانستان اسلامي امارت له مهمو کاري لومړيتوبونو څخه ده.

د افغانستان د اسلامي امارت له بريا وروسته وضعيت ښه شوی، له پاکستان، ايران او ځينو نورو هېوادونو څخه شاوخوا ۸.۲ميليونه افغانان بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي.

د مرستندويه مؤسسو په مرسته په تېرو ۱۲ میاشتو کې له يو اعشاريه درېيو ميليونو بېرته راستنېدونکو سره د هېواد په صفري کرښو کې نغدي، خوراکي او غيرخوراکي مرستې تر سره شوې دي او هغوی يې خپلو اصلي مېنو ته ستانه کړي دي.

په دې وروستيو کې پاکستان د افغان مهاجرينو پر وړاندې د ټولو اسلامي، بشري او نړيوالو معيارونو خلاف يو اړخيزه پرېکړه کړې ده، چې له دې پرېکړې وروسته د مهاجرينو چارو وزارت د بشري ناورين د مخنيوي په موخه دغه موضوع جدي ونيوله.

موږ عالي قدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله، ښاغلي محترم رييس‌الوزرا، د هغوی مرستيالانو او د اسلامي امارت ټولو مشرانو ته خبر ورکړ، له هغوی سره مو ببرنۍ ناستې وکړې او د ببرنيو اقداماتو غوښتنه مو وکړه، له دوی څخه د زړه له کومې مننه کوو، چې زموږ غوښتنې يې ومنلې او د راستنېدونکو مهاجرينو د ستونزو د حل له‌پاره يې يو عالي کميسيون جوړ کړ او دوی ته يې ټولې شته اسانتياوې او بشري ځواک برابر کړ او د دغه کميسيون تر چتر لاندې يې ۱۵ کمپټې جوړې کړې.

په دغه لنډ وخت کې د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت رهبري غړو په ځانګړې توګه سرپرست وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني له ټولو سرحدي ولایتونو او هغو ولایتونو څخه، چې مهاجرین بېرته ورته راستانه شوي، لیدنه وکړه او ټولې ستونزې یې وارزولې.

هغه د کارونو د چټکتیا او د تشو د ډکولو په اړه اړوندو مسؤلینو ته سپارښتنې وکړې.

هغه وویل: موږ د افغانستان له ملي سوداګرو او عامو خلکو څخه غواړو، چې د اسلامي مسولیت او افغاني غرور پر بنسټ خپلو مهاجرو وروڼو ته سینه پراخه کړي او له خپلو راستنېدونکو مهاجرینو سره د کورنیو، خوراکي توکو او نغدي مرستو په برابرولو کې مرسته وکړي او خپلو اسلامي او ملي تعهداتو ته ژمن واوسي.

موږ خپلو ټولو هېوادوالو او مهاجرو وروڼو ته ډاډ ورکوو، چې اسلامي امارت او د افغانستان غیور ملت ستاسو له مظلومیت څخه غافل نه‌دی، شپه او ورځ بیدار یو او د هېوادوالو د هوساینې له‌پاره مو له ټولو هغو لارو چارو کار اخیستی، چې تمه یې کېږي.

له ټولو مهاجرینو وروڼو څخه هیله کوو، چې د افغانستان ملت له تاسو پرته نیمګړی دی، تاسو باید پخپله خوښه ببرته خپل وطن ته راستانه شئ او خپلې پانګې خپل هېواد ته انتقال کړئ، د افغانستان اسلامي امارت به تاسو ته ټولې هغه اسانتیاوې برابرې کړي، چې ستاسو په کاروبار او پانګونه کې له تاسو سره مرسته کولی شي.

د رییس‌الوزرا اداري مرستیال، مولوي عبدالسلام حنفي وویل: د بهرنیانو د تېري او د خپلمنځي جګړو له املې تر اوسه په میلیونونو افغانان مهاجر شوي او ګاونډیو هېوادونو یې د ورورولۍ او نړۍوالو قوانینو خلاف په زوره په شړلو پیل کړی دی. اسلامي امارت وکولای شول، چې موضوع په سمه توګه مدیریت کړي، د اسلامي امارت د رهبر له فرمان سره سم کمیسیون جوړ شو.

ښاغلي حنفي د غونډې ګډونوالو ته د ببلابېلو کمټو د خدمتونو او فعالیتونو په اړه هم معلومات ورکړل.

د مهاجرینو د نړۍوال سازمان مشرې ماریا مویتا په دې غونډه کې وویل: هغه افغانان چې ببرته ستنېدو ته اړ شوي، له ډېرو ستونزو سره مخ دي، دغه سازمان په افغانستان کې خپلو مرستو او ملاتړ ته دوام ورکوي؛ دغه سازمان له یو میلیون ډېرو وګړو سره د صحت، سرپناه او زېربنا په برخو کې مرستې کړې دي او په راتلونکي کې به هم دوام ورکوي.

د یاد وزارت مسلکي معین مولوي عبدالرحمن راشد پخپلو خبرو کې زیاته کړه، چې اسلامي امارت او رهبرانو یې د مهاجرینو د ستونزو په حل کې له فکره کار اخیستی دی او په دغه نظام کې د یوه مسؤل شخص په توګه له ټولو هغو همکارو موسسو څخه منه کوم، چې په دې برخه کې یې له موږ سره همکاري کړې ده.

د انرژۍ او اوبو وزارت سلاکار ډاکټر فاروق اعظم، مولوي نورالحق او حاجي دین محمد د غونډې له نورو ویناوالو څخه وو، چې هر یوه یې د یادې موضوع په اړه خبرې وکړې.

غونډه د شعرونو او ترانو په ویلو او په نېکو دعاګانو سره پای ته ورسېدله.

د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د مهاجرت نړیوال سازمان له عمومي رییسې سره ولیدل

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سرپرست الحاج خلیل الرحمن حقاني د ۱۴۰۲لمریز کال د لیندۍ پر ۲۸مه د مهاجرت د نړیوال سازمان له عمومي رئیسې مېرمن امي ای پوپ او مل پلاوي سره پخپل کاري دفتر کې وکتل.

په پیل کې ښاغلي حقاني په پاکستان، ایران، ترکیې او نورو کوربه هېوادونو کې د افغان مهاجرینو د وضعیت او ستونزو په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل: باید د هېواد د فرضي کرښو لیدنه وشي چې د افغان مهاجرینو وضعیت له نږدې وګورئ.

د ژمي ساړه موسم په رانږدې کېدو له دوی سره مرسته وکړئ او په راتلونکي کې یې د کور، تعلیم او روغتیا په برخه کې لاسنیوی وکړئ.

اغلې امی ای پوپ ښاغلي حقاني ته ډاډ ورکړ او ویې ویل: مور غواړو له تاسو سره په پوره همغږۍ کې له راستنیدونکو سره مرسته وکړو، همدارنګه په دې ناسته کې د بې ځایه شویو د څارنې سیستم (DTM) پر جوړولو هم هوکړه وشوه.

هغې زیاته کړه، دا سیستم له پاکستان، ایران، ترکیې او نورو کوربه هېوادونو څخه د افغان مهاجرینو او راستنېدونکو کره شمېر پېژندلو کې راسره مرسته کوي او د دغه سیستم په مرسته کولای شو له نړیوالو مرستندویه موسسو څخه د افغان مهاجرینو له پاره ډېرې مرستې ترلاسه کړو.

د مهاجرت د نړیوال سازمان مشرې وویل: مور پوره هڅه کوو چې په راتلونکي کې له راستنېدونکو سره په ژمنیو مرستو برابرولو او په نورو برخو کې مرسته وکړواو په کار کې بشپړې همکاری او همغږۍ ته چمتو یو.



د وزارت مالي او اداري مرستیال په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ له رییس سره ولیدل.

د مهاجرینو چارو وزارت مالي مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د ۱۴۰۲لمریز کال د لړم میاشتې په نهمه نیټه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ له سرپرست ښاغلي ایان ستیورتال سره په خپل دفتر کې ولیدل.

په دې لیدنه کې دواړو لورو په هغو مسئلو چې پخوا وربانديې هوکړه شوې وه او له پاکستان څخه د جبري راستنېدونکو د مرستو په باب خبرې وشوې.

ښاغلي خروټي په هرات ولایت کې د زلزلې ځپلو وضعیت ته د رسېدو په برخه کې د دغې ادارې د کارونو ستاینه وکړه او د پاکستان د حکومت له خوا د افغانانو د جبري شړلو د مخنیوي او په ایران او ترکیې کې یې د مهاجرینو د ستونزو په حل کې له هغو څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه.

د کمیسیون مشر د زیانمنو شویو سره د مرستو د دوام ډاډ ورکړ، د شته ستونزو هوارولو له پاره یې په همغږۍ ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه، چې مطرح شوي وړاندیزونه به د کمیسیون له مسوولینو سره شریک کړي.

په دې لیدنه کې د وزارت د مقام دفتر رئیس الحاج محمد اجمل ویاړ هم ګډون درلود.



د وزارت مالي او اداري مرستيال د مهاجرت نړيوال سازمان له رييس سره وليدل

د مهاجرينو چارو وزارت مالي مرستيال الحاج محمد ارسلاح خروټي د ۱۴۰۲لمريز کال د لړم د مياشتې په ۱۱نيټه په افغانستان کې د مهاجرت د نړيوال سازمان بشري مرستو ته د لاسرسي له مسؤل ښاغلي عدنان بغجتي سره پخپل کاري دفتر کې وليدل.

په دې ناسته کې د يادسازمان له خوا په پولو کې جبري راستنېدونکو سره د بشري مرستو او خدمتونو د وړاندې کولو په تړاو خبرې وشوې.

ښاغلي عدنان له راستنېدونکو سره د روغتيايي مرستو، د څښاک د پاکو اوبو او د ترانسپورت د کرايې په برخه کې د نغدو پيسو د برابرولو يادونه وکړه او ويې ويل، چې له زيانمنو کسانو سره مرسته زمور لومړيتوب دی.

هغه وويل، ښې اړيکې او ښه همغږي د ښو خدمتونو لامل کېږي او د مهاجرت نړيوال سازمان په دې برخه کې ژمن دی.

ښاغلي خروټي د تورخم او سپين بولدک په فرضي پولو کې د دغې اداري له خوا د مرستو د زياتوالي غوښتنه وکړه او د مهاجرينو د جبري شړلو په اړه يې د ملګرو ملتونو او نړيوالې ټولنې د جدي دريځ غوښتنه څرګنده کړه او ويې ويل: د مهاجرينو جبري بيرته ستنيدنې مخه بايد ونيول شي او ويې ويل چې بيرته راستنېدنه بايد له اصولو او ميکانيزم سره سم په درنښت، خوندي او منظم ډول ترسره شي.

په دې ليدنه کې د وزارت مقام د دفتر رييس الحاج محمد اجمل ويار او د راستنېدنې رياست رييس مولوي شکرالله شاکر هم ګډون درلود.



متحده عربي اماراتو له مهاجرينو وزارت سره د ۲۰ زره خېمو مرسته وکړه

د متحده عربي اماراتو د مرستو پنډ چې ۲۰زره خېمې پکې وې، د ۱۴۰۲لمريز کال د لړم مياشتې پر ۱۵ مه نيټه د کابل نړيوال هوايي ډګر ته راورسېده.

د مهاجرينو چارو وزارت مالي مرستيال او سرپرست الحاج محمد ارسلاح خروټي د کابل په هوايي ډګر کې د مرستو له ترلاسه کولو وروسته وويل: مور له متحده عربي اماراتو څخه مننه کوو چې په داسې حساس وخت کې يې له مور سره مرسته کړې ده.

هغه زياته کړه، په زوره راستانه شوي مهاجرين لا زياتو مرستو ته اړتيا لري او د نړۍ له هېوادونو څخه مو غوښتنه دا ده چې په دې برخه کې پاملرنه وکړي، تر څو په ګډه په دې برخه کې شته ستونزې هواري کړو.

خروټي زياته کړه؛ مرسته شوې خېمې به ډېر ژر له پاکستان څخه په زوره راستنېدونکو ته ورسوي.



د جبري راستنيدونکو جدي ستونزو ته په پام سره له نړيوالې ټولنې او هېوادونو څخه د لا زياتو مرستو غوښتنه کوو

دا خبره د مهاجرينو چارو وزارت مالي مرستيال الحاج محمد ارسلاح خروټي د ۱۴۰۲ لمريز کال د لړم مياشتې په ۱۶ مه نيټه پخپل کاري دفتر کې د ملګرو ملتونو د مرستو د همغږۍ دفتر او د مهاجرت د نړيوال سازمان له مسوولينو سره په ليدنه کې وکړه.



خروټي زياتـه کـړه؛ پـه زور راسـتانه شـوي مهاجريـن د سرپنـاه، جامـو، د کورنيـو او خوراکـي توکـو پـه برخـه کـې لـه جـدي سـتونزو سره لاس او گريـوان دي، کـه څـه هـم اسلامـي امـارت د خپـل وس برابـر د دوی پـه خدمـت کـې دی، خـو د راسـتنيدونکو شـمېر او د هغـوی د سـتونزو د کچـې پـه پامنيـوي لا زياتـو مرسـتو او همکاريـو تـه اړتيـا لـرو، مـوږ لـه ملگـرو ملتونـو او هېوادونـو څخـه غوښتنه کـوو چـې پـه دې برخـه کـې خپلـې مرسـتې زياتـې کـړي، چـې د هـوا پـه سـړېدو سره له زياتو ستونزو څخه مخنيوی وشي.

هغـه وويـل، د تورخـم پـه فـرضي پولـه کـې د وزارت د کارکوونکـو د کاري سـاعتونو پـه پرتلـه د همـکارو ادارو کاري سـاعتونه کـم دي، مـوږ غوښتنه کـوو چـې د دوی کاري سـاعتونه دې زيـات شي او د دې تـر څنـگ دا غوښتنه هـم کـوو، چـې ستاسـو لـه خـوا هـم د پکتيـا او پکتيـکا پـه پولـو کـې کارکوونکـي وگومـارل شي؛ ځکـه چـې لـه يـادو پولو څخه هم راستنېدونکي را روان دي.

مـوږ لا هـم د هغـو مرسـتو او توکـو د لېږدولـو پـه برخـه کـې مرسـتې تـه اړتيـا لـرو چـې د وزارت لـه خـوا چمتـو شـوي او يـا بـه پـه راتلونکـي کـې لـه کابـل څخـه د تورخـم او سـپين بولـدک تـر فـرضي پولـو پـورې ولېږدول شي، ځکـه د دولتـي ادارو موټـر د کورنيـو پـه لېږدولـو بوخـت دي.

خروټي زياتـه کړه؛ زه د ملگـرو ملتونـو او لـه اړونـدو دفترونـو څخـه غوښتنه کـوم چـې لـه پاکسـتان سره د ډيپلوماټيکـو اصولـو لـه لارې پـه جدي توگه تماس ونيسي، چې د جبري راستنېدو مخه ونيول شي.

د ملگـرو ملتونـو او د مهاجـرت د نړيـوال سـازمان د مرسـتو د همغږۍ د څانگـې مسـوولانو د مهاجرينـو چـارو لـه وزارت سره د خپلـو همکاريـو پـر دوام د ټينگار ترڅنـگ زياتـه کـړه، چـې د جبري راسـتنيدو د ځنډولـو پـه اړه د دوی مسـوولين هـم پـه دې برخـه کـې همـکار دي او له پاکستاني لوري سره اړيکه شوې او خبرې روانې دي.

دوی دغـه راز وويـل، چـې پـه دې ناسـته کـې بـه راپورتـه شـوې سـتونزې او وړانديزونـه د خپلـو ادارو لـه مسـوولينو سره شريـک کـړي او د دې ترخنـگ بـه هڅـه وکـړي، چـې پـه سرحدونـو کـې د خدمتونـو وړاندې کولو لپاره خپل کسان زيات کړي.

د وزارت مـالي مرسـتيال او سرپرسـت د ايټاليـا موسسـې NOVE ONLUS لـــه عمومي رييس سره وليدل

د مهاجرينـو او راسـتنيدونکو چـارو وزارت مـالي مرسـتيال الحـاج محمـد ارسلاح خروټي د ۱۴۰۲ کال د لـړم پـر ۲۹ مـه نيټـه پخپـل کاري دفتر کـې د ايټاليـې د وسـزو يـزو سـويره موسسـې لـه عمومـي رئيسـې آغلې سوسانا فيورتي سره وليدل.

پـه دې ليدنـه کـې هغـو افغانانـو تـه چـې لـه پاکسـتان څخـه پـه زوره راسـتانه شـوي دي د يـادې ادارې د مرسـتو او خدمتونـو د وړانـدې کولـو په باب خبرې اترې او د نظريو تبادله وشوه.

ښـاغلي خروټـي د دغـه ادارې لـه خـوا د مرسـتو د پيـل سـتاينه وکـړه او زياتـه يـې کـړه، چـې مرسـتې بايـد د اړتيـا سره برابـرې وي، نړيـوال بنسټونه او موسسـې بايـد پـه دې سـخت او سـتونزمن حالـت کـې چـې افغـان مهاجريـن ورسره مـخ دي، خپلـې مرسـتې لـه پخـوا څخـه زياتـې کړي.

مالـې مرسـتيال وويـل: "مهاجرينـو سره بايـد د سـياسي وسـيلې پـه توگـه چلنـد ونـه شي، بايـد د دوی د بشري حقونـو او دنـدو لـه مخـې ورسره چلند وشي."

مېرمـن سوسـانا فيورټـي د جبري راسـتنېدونکو لپـاره د يـادې ادارې د ملاتـړ او مرسـتې ډاډ ورکـړ او ويـې ويـل چـې مـوږ بـه لـه يـو بـل سره پـه همغږۍ او همکارۍ کار وکړو.

پـه دې ليدنـه کـې لـه وزارت څخـه د راسـتنېدو د هڅونـې مسـوول مولوي محمد جان خدرخېل هم گډون درلود.

.





مالي مرستيال د مهاجرت نړيوال سازمان له مرستيال سره ليدنه وکړه

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي مرستيال الحاج محمد ارسلاح خروټي د ۱۴۰۲ کال د لېندۍ په لومړۍ نيټه د مهاجرت د نړيوال سازمان له مرستيال او رئيس ښاغلي توماسو سره په خپل کاري دفتر کې وليدل.

په دې ليدنه کې ښاغلي خروټي په پولو کې د يادې موسسې د فعاليتونو د قدردانۍ په ترڅ کې له پاکستان څخه د جبري راستنو شويو مهاجرينو لپاره چې خپلو اصلي ځايونو ته ستنېږي د دغې اداري د مرستو د چټکتيا او زياتوالي غوښتنه وکړه.

ښاغلي توماسو د افغان مهاجرينو د ستونزو د هواري په برخه کې د دغه وزارت له همغږۍ څخه د ستاينې په ترڅ کې وويل: مونږ به د افغان مهاجرينو د وضعيت د ښه والي او د هغوی د درناوي او ساتنې په برخه کې د مرستو او ښه حل په برابرولو کې ژمن پاتې شو.

مالي مرستيال د دغې ناستې موخه د دواړو خواوو ترمنځ د خدمتونو په برخه کې د لا زياتې همغږۍ رامنځته کول وګڼله او دواړو لوريو د همکاريو په دوام ټينګار وکړ.

په دې ليدنه کې د وزارت د راستنېدنې، د مهاجرينو معلوماتو او تحقيق او راستنېدنې ته د هڅونې رياستونو رييسانو هم ګډون درلود.

د وزارت مالي مرستيال او سرپرست د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر له مرستيال سره وليدل

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي مرستيال الحاج محمد ارسلاح خروټي د ۱۴۰۲ کال د لېندۍ پر ۲۸مه نيټه د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر له مرستيال ښاغلي محمد زيد خاطر سره خپل کاري دفتر کې وليدل.

په دې ليدنه کې د مهاجرينو د ستونزو د حل په پار د دغې اداري په راتلونکو پلانونو خبرې وشوې.

ښاغلي خاطر وويل: مونږ خپل پلان د بشري اړتياوو له مخې ترتيب کړی، هيله لرو چې راتلونکی کال به ښه وي، چې زيربنايي او اقتصادي پروژې عملي کړو، زه غواړم له مهاجرينو وزارت څخه مننه وکړم چې د هرات ولايت له زلزله ځپلو سره يې همکاري وکړه.

مالي مرستيال د دې اداري راتلونکي پلانونه وستايل او زياته يې کړه، چې په راتلونکي کال کې به ستونزې لا زياتې شي، په دې برخه کې له تېرو تجربو څخه په استفادې يو بل سره همغږي او همکاري اړينه ده او بايد بنسټې مسايل په پام کې ونيول شي.

ښاغلي خروټي زياته کړه، افغانستان په تېرو څلورو لسيزو کې له ګڼو ستونزو سره مخ شوی دی او اړينه ده چې زيربنايي چارو ته پاملرنه وشي، د اسانتياوو رامنځته کول او په اساسي ډول د ستونزو حلول بايد ستاسو د پاملرنې محور وي.

د دغه وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد چې په دې غونډه کې یې حضور درلود وویل: په تېرو دوو میاشتو کې سلګونه زره افغانان له ګاونډیو هېوادونو څخه په زوره راستانه شوي چې د سرپناه، زده کړو، ښوونې او روزنې، روغتیایی خدمتونو او د کار پیدا کولو ته اړ دي.

مالي او اداري مرستیال وویل چې د دې غونډې موخه د ځواب ورکوونکو خواوو ترمنځ د خدمت په ډګر کې د لا هماهنګی رامنځته کول دي او دواړو لورو په راتلونکي کې پر لا زیاتې همغږی او همکاری ټینګار وکړ.

په دې لیدنه کې د راستنېدنې، داخلي بې ځایه شویو ته د رسیدنې او راستنېدنې ته د هڅونې ریاستونو مسوولینو هم ګډون درلود.



د وزارت مالي مرستیال د ناروې د مهاجرینو شورا د ملاتړ او خوندیتوب له مسؤلې سره ولیدل.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مالي مرستیال الحاج محمد ارسلاح خروټي د ۱۴۰۲لمریز کال لېندۍ میاشتې پر ۲۹ مه نیټه د ناروې د مهاجرینو شورا د ملاتړ او خوندیتوب له رئیسې آغلې سلما عبداللاهي او مل پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل.

په دې لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ په افغانستان کې د دغه دفتر د کاري پروژو په اړه خبرې وشوې.

اغلې سلما د ملاتړ او معلوماتو د خوندیتوب په برخو کې د دې ادارې د فعالیتونو او خدمتونو په اړه زیاته کړه، مرستې د اړتیا له مخې په بېلابېلو برخو کې اړو کسانو ته راجع کېږي.

مالي او اداري مرستیال د زیانمنو خلکو د ستونزو د هواري په برخه کې د دغې ادارې او نورو بنسټونو د کار ستاینه وکړه او ویې ویل: زمونږ په هېواد کې ستونزې ډېرې دي، زیات شمېر مهاجرین هېواد ته راستانه شوي دي، په سلګونو زره خلک لومړنیو اساسي اړتیاوو ته ضرورت لري او داسې زمینه ورته برابره کړئ، چې زیاتې مرستې زیانمنو خلکو ته ورسوئ، او په دې حالت کې ستاسو اصلي هدف باید د خلکو سره مرسته او د لا زیاتو ګټو ترلاسه کول وي، مونږ به په دې برخه کې ستاسو سره همکاري وکړو.

ښاغلي خروټي د ورته نورو مرستوغوښتنه څرګنده کړه، هغه وویل، مونږ له هغو ادارو مننه کوو چې په دې برخه کې همکاري کوي او هیله ده چې دا همکاری لاپسې وغځېږي.

په دې لیدنه کې د وزارت د مقام دفتر او داخلي ښځایه شویو ته د رسېدنې رئیسانو هم ګډون درلود.



د وزارت مسلکي مرستیال ننګرهار ته سفر وکړ

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ یو جګپوړی پلاوی د تلې پر ۲ مه نیټه ننګرهار ولایت ته لاړ.

ښاغلي راشد د کرنې، عامې روغتیا، طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې، د کلیو پراختیا او د سړې میاشتې ټولنې د استازو په ګډون د یوه پلاوي په مشرۍ د ریاست الوزراء د حکم پر بنسټ د راستنېدونکو وضعیت ته د رسېدنې او هغو ته د سرپناه برابرولو او ورته د اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه ننګرهار ته سفر وکړ.

د ننگرهار ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له کړنو څخه د لیدنې پرمهال معین ژمنه وکړه، چې د راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شویو کسانو ستونزې چې د مهاجرینو ریس ورسره شریکې کړې د حل په موخه به یې اقدام وکړي.

مسلکي مرستیال او ورسره مل پلاوي د ننگرهار له والي مولوي محمد نعیم اخوندزاده سره هم ولیدل او د اړوندو ادارو تر منځ یې د ګډې کمیټې د جوړولو، راستنېدونکو ته یې د استوګنې، مرستو او نورو اسانتیاوو د برابرولو په اړه خبرې وکړې.

د ننگرهار والي د مهاجرینو چارو وزارت د مرستیال خبرې تایید کړې او د همکارۍ ډاډ یې ورکړ.



مسلکي مرستیال د ننگرهار د تورخم له فرضي پولې لیدنه وکړه

د وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د خپل سفر په دویمه ورځ د تلې میاشتې په دریمه نېټه په تورخم کې د مهاجرت نړیوال سازمان له دفتر څخه لیدنه وکړه.

د مهاجرت د نړیوال سازمان د ختیځ زون د دفتر مشر د دغه دفتر د فعالیتونو په اړه وویل چې دغه سازمان د شپې د راستنېدونکو د لېږد، د درملنې او لومړنیو مرستو او د نغدو پیسو او خوراکي توکو د وېش لپاره مناسب ځای چمتو کړی دی. په تورخم کې د لا زیاتو اسانتیاوو د برابرولو لپاره جدي کار کوو.

ښاغلي راشد د یادې اداري د همکاریو قدرداني وکړه او له راستنیدونکو سره د مرستې او د خدمتونو په وړاندې کولو کې یې پر رونټیا او شفافیت ټینګار وکړ.

مسلکي مرستیال او ورسره پلاوي د ننگرهار له مرستیال والي سره په ګډه د افغانستان او پاکستان تر منځ د فرضي کرښې لیدنه وکړه او د افغانانو د تګ و راتګ پر وړاندې یې شته ننګونې وخېړلې.

نومورې همدا راز د مومند درې او لعلپورې ولسوالیو د ۹۰۰ جریبه دولتي ځمکې لیدنه هم وکړه، چې د راستنېدونکو د موقتي استوګنې لپاره د پنډغالي او کمپ په توګه غوره شوې ده.



د وزارت د مسلکي مرستیال او د ننگرهار والي ترمنځ په لیدنه کې؛ د مهاجرینو او راستنیدونکو د ستونزو د حل په اړه خبرې وشوې.

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال او د ریاست الوزرا له لوري د ګومارل شوي کمیسیون رئیس مولوي عبدالرحمن راشد د ننگرهار والي مولوي محمد نعیم اخوندزاده سره د مرغومې پر ۴ مه نیټه د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو د وضعیت د ښه والي په موخه ولیدل.

په دې ناسته کې د مهاجرینو او راستنیدونکو پر ستونزو خبرې وشوې او هوکړه وشوه، چې لومړی دې کړنلاره برابره شي او بیا دې د مهاجرینو چارو وزارت او د بهرنیو چارو وزارت سره په همغږۍ د مهاجرینو د ستونزو حل کولو ته پاملرنه وشي.

همدا راز پرېکړه وشوه، چې د دغه ولایت د مومند درې ولسوالۍ په شاوخوا ۶۰۰ جریبه دولتي ځمکه کې به د ۵۰۰ کورنیو لپاره لنډمهاله سرپناه جوړېږي او تر هغو به هلته ژوند کوي، تر څو چې خپلو اصلي ځایونو ته لېږدول کېږي. او د راستنیدو څخه تر یوې میاشتې پورې به د دوی لپاره خوراکي توکي برابرېږي او د دې ترڅنګ به د ننگرهار ولایت په کچه د پورتنیو پرېکړو د عملي کولو په موخه د هغه ولایت د والي تر نظارت لاندې یوه کمیټه جوړه شي او ټاکل شوي کمیسیون ته به د ولایتي کمیټې د کار پرمختګ جریان په دوامداره توګه وړاندې کوي.

د یادونې وړ ده، چې د ریاست الوزرا د لارښوونې پر بنسټ، د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال په مشرۍ د څینو وزارتونو او خپلواکو ادارو د استازو په ګډون یو پلاوی له پاکستان څخه د راستنېدونکو مهاجرینو د وضعیت او ستونزو څېړلو لپاره درې ورځې وړاندې ننګرهار ولایت ته تللی و.



په تورخم فرضي پوله کې د ملګرو ملتونو له دفترونو او داخلي مؤسسو سره د همغږۍ غونډه جوړه شوه

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي معین او د اجباري راستنېدونکو وضعیت ته د رسېدلو کمیسیون د موقتې مېشتدنې د کمیټې مشر مولوي عبدالرحمن راشد د میزان میاشتې په ۲۶ مه نېټه ننګرهار ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د ملګرو ملتونو دفترونو او د کډوالۍ په برخه کې داخلي همکارو مؤسسو سره د اجباري راستنېدونکو مهاجرینو وضعیت ته د رسېدو د پروسې د چټکتیا په اړه ملاقات او خبرې کړې.

ښاغلي راشد وویل: هوا په سړېدو ده، نو په کار ده چې د راستنېدونکو له پاره د خدماتو او عاجلو بشري مرستو د رسولو چارې چټکې شي.

مسلکي معین د کډوالۍ د پراخو ابعادو او له پاکستان څخه د اجباري راستنېدونکو د ستونزو په اړه خبرې وکړې او د راستنېدونکو له پاره یې د خدماتو په لا ښه همغږۍ او چټکتیا ټینګار وکړ.

ورپسې د خوړو نړیوال سازمان، د مهاجرت نړیوال سازمان، د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ، بنسټونو او کورنیو ادارو استازو د خپلو فعالیتونو او اسانتیاوو په اړه معلومات وړاندې کړل او ژمنه یې وکړه، چې د مهاجرینو د راتګ بهیر ګړندی او لا همغږي رامنځته کړي.



د مهاجرینو چارو په وزارت کې د درې اړخیزې ناستې په تړاو لومړنۍ ناسته ترسره شوه

د وزارت د مسلکي مرستیال او یو شمېر مرکزي رئیسانو په ګډون د کډوالۍ په برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ له مسؤول سره د درې اړخیزې ناستې په تړاو لومړنۍ ناسته د ۱۴۰۲ د تلې په ۳۰ په وزارت کې تر سره شوه.

د غونډې په پیل کې د مهاجرینو چارو وزارت مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد له پاکستان څخه د مهاجرینو د جبري اخراجولو، د راستنېدونکو د ستونزو او د سړې هوا له املې یادونه وکړه او ویې ویل: چې پاکستان هېواد د درې اړخیزې ناستې (افغانستان، پاکستان او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنري) په هغه هېواد کې د دائرولو په اړه د توافق نه کولو په اړه، دغه وزارت پرېکړه کړې، چې یاده ناسته په کابل کې ترسره کړي او دغه موضوع د بهرنیو چارو وزارت له لوري له دوی سره شریکه او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنري هم په جریان کې اچول شوې ده.

ښاغلي راشد زیاته کړه، چې پاکستاني لوري تر اوسه د کابل د ناستې په اړه خپل توافق یا نه توافق نه دی څرګند کړی او موږ ځواب ته منتظر یو.

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ مشر لیونارد زولو د مهاجرینو چارو وزارت د دغه اقدام ستاینه وکړه او ویې ویل؛ پاکستان باید ژر تر ژره په دې مسله کې خپل توافق یا نه توافق ور سره شریک کړي.

هغه زیاته کړه، کمشنر د درې اړخیزې ناستې د دریم ګړي په توګه د غونډې د همغږۍ او ترسره کولو په برخه کې همکارۍ ته چمتو دی او په دې برخه کې د لا زیاتې همغږۍ غوښتونکي یو.

د پالیسۍ او پلان رئیس مولوي محمودالحق احدي، د راستنېدونکو د هڅونې رئیس مولوي محمد جان خدرخېل او د داخلي بې ځایه شویو وضعیت ته د رسېدنې رئیس مولوي سردار شېرزاد هم د درې اړخیزې ناستې د جوړولو او د اړوندو کسانو ترمنځ د همغږۍ د رامنځته کولو په اړه خپل نظرونه څرګند کړل.

مسلکي معین د یادې کمېشنرۍ د همکارۍ د ستاینې په ترڅ کې وویل؛ د مهاجرینو ستونزو او د افغانستان د اقلیمي حالاتو په پام کې نیولو سره له دغه کمېشنرۍ څخه د لا زیاتې همکارۍ غوښتنه کوو او د دې اداري د لومړۍ درجې مسوولین باید د کډوالو په اړه له دواړو اړخونو افغانستان او پاکستان سره اړیکې ولري.

زولو د دغه کمیسیون د مرستو او پروګرامونو د ګټه اخیستونکو په اړه یادونه وکړه او ژمنه یې وکړه، چې وړاندیزونه به یې د کمیسیون له مسوولینو سره شریک کړي.



د مهاجرینو وزارت او د ناروې د مهاجرت شورا تر منځ د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو

د مهاجرینو او راستنېدونکوچارو وزارت د ۱۴۰۲ کال د لړم په 7 مه نېټه د ناروې د مهاجرت شورا سره د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک کړ.

د یاد شوي هوکړه لیک پر بنسټ، د ناروې د مهاجرت شورا د بادغیس، فاریاب، خوست او ارزګان ولایتونو کې له ۳۶۰کورنیو سره د کورونو د ترمیمولو په موخه 4 سوه ۳۶زره ۱۶۲ډالره نغدي مرسته او په هرات ولایت کې د زلزلې له املې د زیانمنو شویو ۶۲۰کورنیو له پاره اضطراري خیمې دروي.

یاد هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي معین مولوي عبدالرحمن راشد او د یادې شورا د استازي له خوا لاسلیک شو.



د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي معینیت کار پوه معرفي شو

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي معین مولوي عبدالرحمن راشد نوی مسلکي کارپوه مولوي عزیزالله ارشاد د ۱۴۰۲کال د لړم په اتمه نېټه کارکوونکو ته ور وپیژانده.

مسلکي معین مولوي ارشاد ته د نوې دندې مبارکي وویله او له هغه یې وغوښتل چې د یادې اداري له کارکوونکو سره په پوره همغږۍ دندې په ښه توګه ترسره کړي.

له بلې خوا مولوي عزیزالله ارشاد ژمنه وکړه چې له خپلو همکارانو سره به د همغږۍ او همکارۍ له مخې کارونو ته پوره هڅې کوي.



د مهاجرینو چارو وزارت او د DAOA موسسې ترمنځ د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او د معیوبیت لرونکو اشخاصو ته د لاسرسي مؤسسې ترمنځ د همکارۍ هوکړلیک د ۱۴۰۲ کال د لړم پر ۲۰مه نېټه لاسلیک شو.

د یاد شوي هوکړه لیک له مخې، یاده اداره د څلورو دورو په ترڅ کې په هرات ولایت کې د دوه زره ۲۵۰کورنیو له پاره د خوراکي توکو د وېش په موخه ۴۸۷زره ۹۲۸امریکایي ډالره مصرفوي.

دغه هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت د معین مولوي عبدالرحمن راشد او د یادې ادارې د استازي له خوا لاسلیک شو.

د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي معین هرات ولایت ته سفر وکړ

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي معین او د اجباري راستنېدونکو د ستونزو د حل د موقتي استوګنې کمیټې مشر مولوي عبدالرحمن راشد د تلې په ۲۲مه نیټه هرات ولایت ته سفر وکړ تر څو د راستنېدونکو ستونزې واوري او حل یې کړي.

ښاغلي راشد وویل؛ دوی هڅه کوي چې د مهاجرینو ټولې ستونزې د موقتي استوګنځي له لارې هوارې کړي او په دې برخه کې د مهاجرینو له پاره کمپونه او د اوسیدو ځایونه هم پلان شوي دي.

د هېواد د اطلاعاتو او رسنیو د مرکز مشر مولانا نعیم الحق حقاني چې په دغه سفر کې له ښاغلي راشد سره ملتیا کوله، ښاغلي حقاني په هرات ولایت کې د یاد کمېسیون د عامه پوهاوي کمپټې له پیلېدو څخه خبر ورکړ نومړي زیاته کړه دغه کمیټه به په ډېر کم وخت کې د خپلو سترګو لیدلی حال مخاطبینو ته ورسوي.

ښاغلی حقاني زیاته کړه چې رسنۍ د عامه پوهاوي په کمپټه کې مهم رول لري او باید خلکو ته معلومات او حقایق ورسوي.

له بل لوري هغه مهاجرین چې ببرته خپل هېواد ته راستانه شوي وایي، چې دوی اوس بهرنیو هېوادونو ته د تګ اراده نه لري او غواړي د خپل هېواد په پرمختګ کې برخه واخلي.



د وزارت مسلکي معین د هرات ولایت له زلزله ځپلو سره د مرستې په موخه د ټاکل شوي کمیسیون له والي او غړو سره وکتل.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت معین او د استوګنې د موقتي کمیټې رئیس مولوي عبدالرحمن راشد د تلې په ۲۳مه نیټه د هرات له والي مولوي نور احمد اسلام جار او د زلزله ځپلو سره د مرستې د ټاکل شوي کمیسیون له غړو سره وکتل.

په دې کتنه کې د هرات والي له زلزله ځپلو سره د مرستې له پاره د ټاکل شوي کمیسیون له غړو مسلکي معین څخه د مننې په ترڅ کې وویل: موږ به تل د خلکو په خدمت کې یو او د دې وخت را رسیدلی چې د خپلو افغانانو خدمت وکړو.

په ورته وخت کې ښاغلي راشد په دغه ولایت کې له زلزله ځپلو سره د مرستې په موخه د یو شمېر هېوادوالو د مالي مرستې ۱۲۱ زره ۶۶۶امریکایي ډالره او یو میلیون ۵۴۹ زره ۱۵۹ افغانۍ مالي مرستې چې د ریاست الوزرا د عالي مقام له دفتر نه ورکړل شوې وې، هرات ولایت ته انتقال او اړوند کمیسون ته یې وسپارلې.

مسلکي مرستیال د دغه ستر ناورین ځپلو ته د رسیدو په برخه کې د چارواکو هڅې وستایلې او ویې ویل چې د مرستو منظم تحرک او ویش له یوې خوا زیانمنو ته په

رسيدو کې مرسته کړې او له بلې خوا يې په چارواکو باندې د خلکو باور زيات کړی دی او دا نغدي مرسته پر چارواکو د خلکو باور څرګندوي.

دغه راز ښاغلي راشد ژمنه وکړه چې په دغه ولايت کې به د لا زياتو مرستو د جلبولو هڅې وکړي.



هرات کې د مهاجرينو د ستونزو د حل په موخه دويمه ناسته وشوه

د مهاجرينو د ستونزو د حل په موخه دوهمه ناسته د هرات ولايت د والي او د مهاجرينو چارو وزارت د مسلکي استازي په مشرۍ د اړوندو څانګو او ملي او نړيوالو بنسټونو د استازو په شتون سره د لړم مياشتې په ۲۴مه نېټه ترسره شوه.

د هرات والي مولوي نور احمد اسلام جار د مهاجرينو د ستونزو د حل په برخه کې د همکارو بنسټونو څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه او ويې ويل چې نړيواله ټولنه له ګاونډيو هېوادونو څخه د افغان مهاجرينو د غير قانوني اخراج د غندلو او په دې برخه کې لازمه ده، چې د راستنيدونکو د ستونزو د حل په موخه لازم تدابير ونيول شي.

مسلکي مرستيال مولوي عبدالرحمن راشد او د موقتې هستوګنې د کميټې مشر له نړيوالو موسسو څخه چې په دې برخه کې کار کوي د همکارۍ او بشري مرستو غوښتنه وکړه، هغه وويل چې په ګډه کار کولو سره کولای شو ستونزې ژر حل کړو.



د وزارت مسلکي مرستيال فراه ته سفر وکړ

د مهاجرينو چارو وزارت مسلکي مرستيال عبدالرحمن راشد او د اجباري راستنيدونکو د ستونزو د حل په موخه د کميسيون د موقتي هستوګنې د کميټې مشر د لړم مياشتې پر۲۶ مه نېټه فراه ولايت ته سفر وکړ.

ښاغلي راشد د دغه ولايت د مهاجرينو چارو رياست له دندو څخه د ليدنې پر مهال له هغو کورنيو سره هم وکتل چې په دې وروستيو کې له پاکستان څخه د دغه ولايت موقتي کمپ ته کډه شوی دی.

مسلکي مرستيال خپلو اصلي ځايونو ته د جبري راستنېدونکو کورنيو د لېږد په اړه د دغه ولايت اړوندو مسوولينو ته لازمې لارښوونې وکړې.



د وزارت مسلکي مرستيال هلمند ته سفر وکړ

د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت مسلکي مرستيال عبدالرحمن راشد او د هستوګنې د موقتي کميټې رئيس د لينډی مياشتې په ۲مه نېټه له هلمند ولايت څخه ليدنه وکړه.



مسلکي مرستیال له ګاونډیو هیوادونو څخه د جبري راستنیدونکو د ستونزو د هواري د لارو چارو په اړه د دغه ولایت له والي او ولایتي چارواکو سره وکتل.

ښاغلي راشد د مؤسسو او سکتوري ادارو ترمنځ د همغږۍ د رامنځته کولو، د مهاجرینو د استوګنې د غصب د مخنیوي او د مهاجرینو د دایمي استوګنې په برخه کې د سیمه ییزو چارواکو د همکارۍ غوښتنه وکړه.

د هلمند والي د خپلې همکارۍ ډاډ ورکړ.

په غازي ایوب ښارګوټي کې د جبري راستنېدونکو د موقتي کمپ څخه مسلکي مرستیال هم لیدنه وکړه او له راستنېدونکو سره یې د خدمتونو د وړاندې کولو او د هغوی د ستونزو په اړه خبرې وکړې.



د وزارت مسلکي مرستیال زابل ولایت ته سفر وکړ

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د لړم میاشتې په ۲۹مه نیټه زابل ولایت ته سفر وکړ.

د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست مسلکي مرستیال د راستنو شویو مهاجرینو وضعیت او د مسؤلینو د خدمتونو ارزونه وکړه، ستونزې یې واورېدې او د حل په موخه یې لازمې لارښوونې وکړې.

همدارنګه ښاغلي راشد د استوګنې د موقتي کمپټې له غړو او د ادارو له استازو سره د کتنې پر مهال د دغه بهیر د خدمتونو، ستونزو او مناسبو حل لارو په اړه خبرې وکړې، ګډونوالو د خپلو مرستو او همکاریو ډاډ ورکړ.

د وزارت مسلکي مرستیال په کندهار ولایت کې د جبري راستنېدونکو د موقتي کمپ له بیارغاونې څخه لیدنه وکړه.

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د هستوګنې د موقتي کمیټې رئیس د لېندۍ میاشتې په ٦ مه نیټه د کندهار ولایت د تخته پل له موقتي کمپ څخه د کار د ترمیمولو په جریان کې لیدنه وکړه.

د مسلکي چارو مرسیتال کندهار ولایت ته د خپل کاري سفر پر مهال اړوندو مسوولینو ته د کاري بهیر د ګړندیتوب لارښوونه وکړه، دغه راز یې د مسوولینو پر چټکتیا او کیفیت هم ټینګار وکړ.

د یادونې وړ ده، چې یاد کمپ د زرګونو کورنیو د اوسېدو ظرفیت لري، چې له پاکستان څخه د جبري راستنېدونکو کورنیو ته د استوګنې د موقتي کمپټې له خوا جوړ او ګټې اخیستنې ته چمتو کېږي.



د وزارت مسلکي مرستیال غزني ولایت ته سفر وکړ

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د هستوګنې د موقتي کمیټې رئیس د لښدی میاشتې په ۱۲مه نېټه غزني ولایت ته سفر وکړ.

ښاغلي راشد د غزني ولایت له چارواکو سره وکتل او له پاکستان څخه یې د جبري راستنېدونکو وضعیت وارزاوه.

نومورې له اړوندو مسوولینو وغوښتل، چې د مرستو په وېش کې دې وروستیو راستنېدونکو ته لومړیتوب ورکړي او له اړوندو څانګو سره د لا ښې همکاری په موخه دې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.

همدا راز ښاغلي راشد د دغه ولایت له امنیه قوماندان سره وکتل او هغوی ته یې د جبري راستنېدونکو د امنیت د تامین په برخه کې د اړوندو ادارو سره د همکاری ډاډ ورکړ.



مسلکي مرستیال په افغانستان او پاکستان کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنری له رییسانو سره وکتل

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د ۱۴۰۲لمریز کال د لښدی میاشتې په ۲۰مه نېټه په خپل کاري دفتر کې، په افغانستان او پاکستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمیشنری له رئیس ښاغلي لئونارد زولو او مېرمن فیلیپا کندلر سره وکتل. .

په دې کتنه کې دواړو لورو د نغدي مرستو د مرکزونو د څارنې او لیدنې او له پاکستان څخه د جبري راستنېدونکو د ثبت او د دغه سازمان د ساحوي دفترونو د فعالیتونو په باب خبرې وکړې.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمیشنری مشر ښاغلي لئونارد زولو وویل: د ننني غونډې موخه د کډوالو وضعیت څېړل، د درې اړخیزو او څلور اړخیزو غونډو په اړه د دغه وزارت د پیغام رسول دي. له پاکستان څخه په باعزته او په منظمه توګه د کډوالو راستنېدل، تر څو مثبتې پایلې ولري او دغه سازمان په هر ډول حالاتو کې لازیاتو همکاریو ته چمتو دی.

په پاکستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنری مشري اغلې فلیپا کیندلر وویل: "زمونږ هدف دا دی چې له جبري کډوالو سره له نږدې وکتل شي، مونږ څو ځلې له پاکستاني چارواکو سره د جبري اخراج په اړه، د هغوی د شتمنیو ضبطول او د هغوی د حقونو ډاډمن کول په اړه کتلي او له پاکستاني چارواکو سره مو درې اړخیزې غونډې کړې، تر څو پاکستان له دغو کړنو لاس واخلي او مونږ به ستاسې پیغام پاکستاني چارواکو ته ورسو.

د دغه وزارت مسلکي مرستیال له پاکستان څخه د جبري راستنېدونکو په خدمت کې د دې اداري د همکاریو قدرداني وکړه او وې ویل: د امارت پالیسي له ګاونډیانو سره ښې اړیکې لري، د پاکستان هېواد د پخوانیو تړونونو پابند نه دی، اسلامي امارت تل چمتو دی چې د مهاجرینو په وړاندې په خپلو مکلفیتونو کې همکاري وکړي او په هر صورت به یې ملاتړ وکړي.

ښاغلي راشد زیاته کړه چې د افغانانو جبري شړل د نړیوالو قوانینو، ژمنو او ښه ګاونډیتوب خلاف کار دی او له پاکستانه یې هم وغوښتل چې د افغان کډوالو له ځورولو لاس واخلي.

په دې کتنه کې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کمېشنری مرستیالې مېرمن تر حاس بره، په پاکستان کې د حقوقي خوندیتوب د کمېشنری مرستیالې مېرمن لیلا نوګمانوا او په افغانستان کې د دغه کمېشنر د پالیسی رئیس کریستف پورتمن هم حضور درلود.



د مهاجرينو چارو په وزارت کې ګډه ناسته ترسره شوه

د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو وزارت د مالیې، اقتصاد، ښار جوړونې او کرنې وزارتونو له استازو سره ګډه غونډه د ۱۴۰۲ کال د لېندۍ میاشتې په ۲۸مه نېټه د مسلکي مرستیال په مشرۍ جوړه شوه.

په دې ناسته کې د دغه وزارت د پنځو پرمختیايي پروژو په اړه د اسلامي امارت د عالي مقام د فرمان د عملي کیدو په اړه بحث او خبرې وشوې.

دمهاجرینو د راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د یادو څانګو ترمنځ د ګډ پلان د ترتیب په اړه خبرې وکړې او ویې ویل: په یاد پلان کې باید د لا زیاتې بډاینې لپاره اساسي کارونه له اصولو سره سم په پام کې ونیول شي.

په پام کې ده چې یاد شوی پلان د مهاجرینو د چارو د وزارت له خوا ترتیب او د لا تصویب او تصمیم په موخه په راتلونکې غونډه کې له یادو ادارو سره شریک شي، چې د اصلاح په موخه به د نظریاتو له وړاندې کولو وروسته د اسلامي امارت د عالي مقام له خوا تصویب شي.



د مهاجرینو چارو وزارت له هغو بې ځایه شویو سره مرسته کوي چې ببرته خپلو اصلي ځایونو ته ستانه شي

پورتنۍ ټکي د داخلي بې ځایه شویو کسانو د وضعیت ته د رسیدنې رئیس مولوي سردار شیرزاد د تلې میاشتې په ۸ مه نېټه په کابل کې د بې ځایه شویو کمپونو د اوسېدونکو له استازو سره په کتنه کې څرګند کړل.

په یاده جلسه کې په دولتي سیمو کې د بې ځایه شویو کسانو د کمپونو د ایستلو په اړه خبرې وشوې او د یادو کمپونو استازو د ببکاری او اقتصاد په برخه کې خپلې ستونزې مطرح کړې او د کډوالو چارو وزارت د همکاری غوښتنه یې وکړه.

مولوي شیرزاد دوی ته ډاډ ورکړ، چې د مهاجرینو چارو وزارت هڅه کوي، چې له هر مستحق کس او هرې کورنۍ سره چې خپلو اصلي ځایونو ته راستنېږي، د کار زمینې برابرولو ترڅنګ مرسته او همکاري وکړي.

شېرزاد زیاته کړه چې په هېواد کې ۳۰۰ زره داخلي بې ځایه شوي د هېواد په سطحه شتون لري او د امنیت د تامین او د شرایطو د ښه والي لپاره باید بېځایه شوي کسان ببرته خپلو اصلي سیمو ته ستانه شي او د کډوالو چارو وزارت د هغوی په داوطلبانه راستنېدو کې مرسته کوي او له اړمنو سره لازمې مرستې کوي.

د بې ځایه شویو خلکو استازو د مهاجرینو د چارو وزارت د همکاریو قدرداني وکړه.



د مشهد مهاجرینو لپاره د نوی اتشه د دې دفتر کارمندانو ته معرفي شو

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت د ایران په مشهد ښار کې د افغان مهاجرینو د ستونزو د حل په موخه د اړینو مسایلو د لا ښه والي په موخه مولوي صدیق الله نصرت په هغه ښار کې د مهاجرینو د چارو د رئیس په توګه وټاکه او د تلې میاشتې په ۱۰ مه نېټه د دې څانګې اداري کارکوونکو ته ور وپیژندل شو.

د یادونې وړ ده، چې اوس مهال د ایران په تهران، زاهدان او مشهد ښارونو کې د مهاجرینو چارو مرکزونه فعال دي او په هغه هېواد کې له سفارت سره په همغږۍ د افغان مهاجرینو په خدمت کې دي.



د مهاجرینو په ریاست کې د ساري ناروغیو په اړه د پوهاوي پروګرام جوړ شو

د عامې روغتیا وزارت له خوا د مهاجرینو چارو وزارت د بشري سرچینو ریاست په همغږي د دغه وزارت د کنفرانسونو په تالار کې د یو شمیر کارکوونکو لپاره د وینې د تبې (کانګو) او لیوني سپي ناروغۍ په اړه د پوهاوي پروګرام د تلې میاشتې په ۱۱مه نېټه جوړ شو.

د پروګرام په پیل کې د بشري سرچینو رئیس مفتي مدیرګل احمدي او د بې ځایه شوو وضعیت ته د رسیدنې رئیس مولوي سردار شیرزاد د داخلي بې ځایه شویو د وضعیت په اړه خبرې وکړې او دا ډول معلوماتي پروګرامونه یې مهم او ارزښتناک وبلل.

هغه د ناروغیو او روغتیا په اړه آیتونو او د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکو احادیثونو ته په اشارې سره د چاپیریال په پاکوالي ټینګار وکړ او د پروګرام له ګډونوالو یې وغوښتل چې د ډاکټرانو خبرو ته غوږ ونیسي، په لیوالتیا سره او هغه څه شریک کړئ چې ډاکټران یې د کار او کور په چاپیریال کې له نورو سره شریکوي، ترڅو د ویروس او ساري ناروغیو د خپریدو مخه ونیول شي.

ورپسې د کانګو ناروغۍ عمومي مدیر ډاکټر بشیر امین او د عامې روغتیا وزارت د لیوني سپي د ناروغۍ د کنټرول عمومي رئیس ډاکټر جاوید اماني د دې ناروغۍ د څرنګوالي په اړه (څه ډول لېږدول کیږي، د مخنیوي لارې چارې یې څه دي) ګډونوالو ته بشپړ او هر اړخیز معلومات ورکړل.

د دغه ښوونیز پروګرام موخه د کارکوونکو د پوهاوي لوړول او هغوی ته د دې ناروغیو د مخنیوي څرنګوالی ښوول وو.



د مهاجرینو چارو وزارت سرپرست د مهاجرت نړیوال سازمان له راستنېدو وروسته مرستو ته د لاسرسي او د دغه پروګرام له مسوولینو سره وکتل.

د مهاجرینو چارو وزارت د دفتر رئیس الحاج قاري محمد اجمل ویاړ د بشري مرستو د رسولو چارو مسؤل ښاغلي عدنان باغجتي او د مهاجرت د نړیوال سازمان د پرګرامونو له مسؤل نیکولاس جیمز هیل سره په افغانستان کې د تلې میاشتې په ۱۲مه نېټه په خپل کاري دفتر کې وکتل.



په دې کتنه کې د دغه وزارت د رسمي دفتر رییس د راستنېدونکو لپاره د ننګرهار ولایت د تورخم، د کندهار ولایت د دسپین بولدک او د هرات ولایت د اسلام کلا په پولو کې د مهاجرت د نړیوال سازمان د مرستو د کمښت او د اړمنو لپاره د ژمي د مرستې په اړه د دې سازمان د راتلونکی پلان په اړه وضاحت ورکړ.

ښاغلي عدنان د ځینو ستونزو د موجودیت په اړه وویل، چې دغه اداره د خپلو خدمتونو د لا ښه کولو اراده لري، چې لا ډېرې همکارۍ ته اړتیا لري.

نومورې د تېرو میاشتو په پرتله د راستنېدونکو په شمېر کې د زیاتوالي یادونه وکړه او ویې ویل، چې دغه اداره توانېدلې، چې د مرستو ۹۲سلنه برخه، چې خوراکي توکي، روغتیایي او د موټرو کرایه په کې شامله ده، راستنېدونکو ته ورکړي او د ژمنیو مرستو ډاډ هم ورکوم، چې مونږ به په ۳۴ولایتونو کې د مستحقینو لپاره پیل کړو.

د دغه وزارت د رسمي دفتر رییس له راستنېدونکو سره د یادې اداري د مرستو پر دوام د ټینګار تر څنګ، د یادې اداري د مرستو د کمیت او کیفیت د زیاتوالي غوښتنه وکړه.

د یادې اداري له راستنېدو وروسته د پروګرامونو مسوول ښاغلي نیکولاس جمیز هیل ډاډ ورکړ چې نوی پروګرام یې په لاس کې دی او اداره به یې د مرستو د ښه والي او بېرته راستنېدونکو ته د رسولو په برخه کې زیاتې هڅې وکړي.

په دې غونډه کې د داخلي بې ځایه شویو وضعیت ته د رسیدنې رییس مولوي سردار شېرزاد هم خبرې وکړې او ویې ویل، چې د پاکستان د نوې تګلارې له مخې یو میلیون او سل زره کسان په زوره ایستل کېږي او په دې صورت کې مونږ له مرستندویه مؤسسو څخه زیاتې همکاري ته اړتیا لرو.

په دې کتنه کې د دغه وزارت د پلان او پالیسۍ رئیس مولوي محمودالحق احدي د دواړو ادارو ترمنځ د همکارۍ او همغږۍ د رامنځته کولو په موخه د تخنیکي کمېټې د جوړېدو غوښتنه وکړه.

د هرات د اسلام قلعه د سرحدي پولې آمرعبدالله قیومي وایي، هره ورځ شاوخوا ۳۰۰ زره افغانان له ایران څخه د اسلام قلعه بندر له لارې افغانستان ته راځي، خو د مهاجرت نړیوال سازمان یوازې ۲۵۰ تنو ته مرستې رسوي، چې بسنه نه کوي. مرستې باید تر ۱۰۰۰ تنو پورې ځای په ځای شي.

نیکولس وویل چې مونږ به په دې اړه له ډونرانو سره خبرې وکړو او د هوکړې له مخې به د کابل په هوایي ډګر کې ګډو فعالیتونو ته دوام ورکړو.

د مهاجرینو چارو وزارت د دفتر رییس د ناروې د مهاجرت شورا له رییس سره وکتل

د مهاجرینو چارو وزارت د دفتر رئیس الحاج قاري محمد اجمل ویاړ د ۱۴۰۲ کال د تلې میاشتې په ۱۶مه نېټه په خپل کاري دفتر کې، په افغانستان کې د ناروې د مهاجرت شورا له عمومي رییس ښاغلي نیل ترنر او په افغانستان کې د ناروې د مهاجرت شورا د پروګرامونو له مسوولې آغلې پاتریشا سره وکتل.

په دې ناسته کې ښاغلي ترنر د سرپناه، معافیت، مرستې او اړمنو کورنیو ته د ژمنیو مرستو د رسولو د عملي پلان په برخو کې د یاد دفتر د پروژو په اړه معلومات ورکړل.

د دغه وزارت د د فتر رییس د یادو شوو دفترونو د همکاریو د قدردانۍ په ترڅ کې د مهاجرینو چارو له وزارت سره په همغږۍ او د مرستو د کمیت او کیفیت پر زیاتوالي ټینګار وکړاو زیاته یې کړه چې فعالیتونه باید د یاد وزارت له لارښوونې سره سم ترسره شي، د مهاجرینو جبري راستنیدو او له یادې اداري څخه یې د لا زیاتو همکاریو غوښتنه وکړه.



جبري راستنېدونکو تـه د رسـېدو پـه موخـه د مهاجرينـو چـارو وزارت او د کډوالـو پـه چـارو کـې د ملګـرو ملتونـو د عالي کمېشنرۍ تر منځ غونډه جوړه شوه.



پـه هغـه غونـډه کـې چې د دغـه وزارت د دفتر رئيـس قـاري محمـد اجمـل ويـاړ، عملیـاتي مرسـتیال سـوبیر محمـد ابراهیـم، د بهرنیـو اړیکـو رئیسـي مېرمـن سـوارلیت بروین او د کډوالـو پـه چـارو کـې د ملګـرو ملتونـو د عـالي کمېـشنرۍ رئیـس، ډونرانـو او نـورو رییسـانو د داخلي بـې ځایـه شـوو د وضعیـت د څرنګـوالي، د مهاجرینـو پـه اړه څیړنـه او بیرتـه راسـتنیدو تـه د هغـوی هڅولـو پـه اړه د ۱۴۰۲ کال تلـې د میاشـتې پـه ۱۷ مـه نېټـه جـوړه شـوې وه، د هغـه پـه اړه وویـل چـې د ننـۍ غونـډې موخـه لـه پاکسـتان څخـه د جبري راسـتنیدونکو تـه د رسیدو او ملاتړ لپاره د میکانیزم چمتو کول دي.

هغـه زیاتـه کـړه، د مهاجرینـو چـارو وزارت د هغـو زرګونـو کورنیـو وضعیـت تـه د رسـېدو پـه برخـه کـې چـې راستانه شـوي او یـا هـم د راستنېدو په حال کې دي، د دغه کمېسیون همکارۍ ته اړتیا لري.

د داخلي بـې ځایـه شـویو د وضعیت د ارزونـې رئیـس مولـوي سردار شـېرزاد هـم د وزارت د امکاناتـو د محدودیـت یادونـه وکـړه او د راسـتنېدونکو لپـاره یـې د یـادې ادارې د مرسـتو او همکاریـو غوښـتنه وکړه.

ښـاغلي سـوبیر وویـل چـې پـه پاکسـتان کـې د دغـه کمیسـیون چارواکـو د افغـان مهاجرینـو د اخـراج پـه اړه د دغـه هېـواد لـه چارواکـو سره منظمـې ناسـتې کـړې او لـه هغـوی یـې غوښـتي چـې لـه افغـان مهاجرینـو سره د نړیوالـو اصولـو او قوانینـو پـه رڼـا کـې چلنـد وکـړي او له اخراج څخه یې ډډه وکړي.

هغـه وویـل چـې راتلونکـې اونـۍ بـه د افغانسـتان مسـئله پـه جینـوا کـې د ځانګـړې کمیټـې پـه غونـډه کـې مطـرح شي چـې دیپلوماتیکـه حل لاره به ومومي.

هغـه ډاډ ورکـړ، چـې پـه ولایتونـو کـې د کمېشنرانـو دفترونـو خپـل فعالیتونه زیات کړي او همکارۍ ته چمتو دي.

د امیرالمؤمنیـن پـه لارښـوونه لـه پاکسـتان څخـه د مهاجرینـو د راستنیدو لپاره کمیسیون جوړ شو.

د اسلامـي امـارت د مـحترم امیرالمؤمنیـن د خـاص هدایـت لـه مخـې د تلـې میاشـتې پـه ۱۷ مـه نېټـه د رییـس الـوزرا الحـاج ملا محمـد حسـن آخنـد پـه مشرۍ او د وزارت د مرسـتیالونو پـه شـتون سره لـه پاکسـتان څخـه د راسـتنېدونکو کډوالـو د کمیسـیون د جوړولـو پـه موخـه غونـډه جوړه شوه..

پـه یـاده ناسـته کـې پـه پاکسـتان کـې د افغـان کډوالـو د اوسـني وضعیـت، د ترلاسـه شـویو معلوماتـو او راپورونـو پـه پـام کـې نیولـو سره یـې د شـته سـتونزو او مشـکلاتو د حـل پـه موخـه پـر وخـت د لاس رسي پـه اړه هراړخیـزې خبرې وشـوې. د راسـتنیدونکو او د کمیسـیون تـر چتر لانـدې د ادارو د چـارو د ښـه تنظیـم او د دغـه کمیسـیون د روښـانتیا، همغـږي او فعالیـت پـه موخـه د وزارت د اداري مرسـتیال مولـوي عبدالـسلام حنفـي پـه مشرۍ یـوه کمیټـه جـوړه شـوه، د بهرنیـو چـارو وزارت تـه دنـده وسـپارل شـوه چـې د یـاد کمیسـیون طرزالعمـل پـه عاجلـه توګـه ترتیـب کـړي، تـر څـو د اړونـدو ادارو د فعالیتونـو د تنظیـم په موخه لازمه همغږي او تفاهم رامنځته کړي.

هرات ولایت ته د مهاجرینو د چارو د وزارت د ماموریت ټیم د دغه وزارت له اقتصادي مرستیال، والي او د دغه ولایت د مهاجرینو له رییس سره د کتنې په ترڅ کې خپل فعالیت پیل کړ.

د مهاجرینو چارو وزارت پلاوی چې د ۱۴۰۲ کال د تلې میاشتې په ۱۸مه نېټه هرات ولایت ته سفر کړی و، د دولتي ادارو او بنسټونو د ژغورونکو ډلو ترمنځ د همغږي رامنځته کولو په موخه د زلزلې د زیانمنو شویو کسانو د حالت د ښه والې په موخه له ملا امام سره د لیدنې ترڅنګ. د بهرنیو چارو وزارت اقتصادي مرستیال عبدالغني، والي مولوي اسلام جار او د کډوالو چارو رئیس مفتي ادم خان سره په دې ولایت کې خپل فعالیت پیل کړی دی.

په دې کتنه کې چې له یادو مسوولینو سره تر سره شوه، د ثبات او همپالنې د دایمي حل لارو چارو رئیس او د ماموریت د ټیم مشر مولوي شمل خان مصلح دغه ولایت ته د خپل سفر موخه څرګنده کړه او د ستونزو د حل په برخه کې یې د سیمه ییزو ادارو د همغږۍ او همکارۍ غوښتنه وکړه.

د هرات والي د مهاجرینو د وزارت له مرستو څخه د مننې په ترڅ کې د ولایت په کچه د مرستو د راټولولو لپاره د یوه کمیسیون د جوړولو غوښتنه وکړه، څو دغه مرستې دې کمیسیون ته وسپارل شي.

د هرات د مهاجرینو چارو رییس مفتي ادم خان سعد وویل، چې سیمې ته یې د سروې ګډې ډلې لېږلې، په سیمه کې د یو شمېر بېځایه شویو او زیانمنو شویو کورنیو لپاره خیمې، ګرم خوراکي توکي او روغتیایي خدمتونه برابر شوي او د ۱۳۱ کورنۍ چې شا او خوا تر اته سوو زیات نارینه، ښځې او ماشومان دي، د انصار کمپ ته انتقال او د مهاجرینو چارو ریاست په ساحه کې به خیمې، کمپلې، ترپالونه، روغتیایي بستې، مصالحې، د رواني درملنې خدمتونه او دری وخته ګرم خواړه چمتو او د دوی لپاره ویشل شوي.

همدارنګه پلاوي د هغو بنسټونو له استازو سره چې په انصار کمپ کې فعالیت کوي، وکتل او د مرستو د وېش پر څرنګوالي یې خبرې وکړې او د مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه، همدارنګه د UNFPA مؤسسې د انصار په کمپ کې پر ۱۳۱ کورنیو غیر خوراکي او روغتیایي بستې د مهاجرینو د چارو د رئیس او پلاوي په حضور کې ووېشلې.

دغه پلاوي په هرات کې د مهاجرینو چارو د ریاست له ګودام څخه لیدنه وکړه او په ګودام کې د زیرمه شویو توکو په اړه یې د مهاجرینو چارو ریاست ته لارښوونه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې هغه ټیمونه، چې د مهاجرینو چارو وزارت د پلاوي په اجازه هرات ته د زلزله ځپلو د سروې په موخه تللي وو، په کار پیل کړی دی.



مهاجرینو چارو وزارت پلاوي د زنده جان ولسوالۍ زلزله ځپلې سیمې وخیړلې

له هرات ولایت نه د تلې میاشتې د ۱۹ مې نېټې د راپور له مخې، د مهاجرینو چارو وزارت، د دایمي حلونو د ترلاسه کولو د رئیس مولوي شمل خان مصلح په مشرۍ د مهاجرینو چارو وزارت د نایب رفیع، سربلند، کشکک، د زنده جان ولسوالۍ د سیاه اب، کجکال، سنجاب، زوریا، غارموشک، نوآباد، خوش رباط، احمد آباد او اسغلک د پېښو خیړنه او د ګذر له وکیلانو او د یادو جوماتونو له امامانو سره خبرې وکړې او د هغوی د څرګندونو له مخې شاوخوا ۱ زرو او ۲۲۰ تنه شهیدان شاوخوا ۱۰۰۰ تنه زخمي شوي دي او ۱ زرو او ۷۱۷ کورنۍ بې ځایه شوې او احتمال شته چې دا شمېر نورهم زیات شي، ځکه چې د نایب رفیع کلی په بشپړه توګه ویجاړ شوی

او لـه دغـه کلي څخـه د ژغورنـې ډلـې تـر اوسـه دقيـق معلومـات نـه دي ترلاسـه کـړي، پـه ځينـو کليـو کـې اوس هـم کار کـوي او ښـايي نور جسدونه تر خټو لاندې وموندل شي.

پـه راپـور کـې زياتـه شـوې، چـې مسـؤل هيـآت د خوراکـي، غير خوراکـي توکـو، روغتيايـي کيټونـو، د پخلنځـي لوښـي، کمپلـې، جامـې، ترپالونـه، خيمـې او د ورځنـي گـرم خوراکـي توکـو د جريـان څخـه هـم کتنـه وکـړه، چـې د سړې مياشـتې، دولتـي ادارو لـه خـوا چمتـو او وېشـل شـوي وو. خيريـه بنسټونو او اشـخاصو او د اغيزمنـو کليـو لـه اوسـيدونکو سره خبرې وکـړې، د دوی اړتيـاوې او هيلـې يـې بيان کړې.

سرچينـې زياتـه کـړې، چـې د زلزلـې د شـدت لـه املـه د کورونـو د ويجاړولـو ترڅنـگ د څښـاک د اوبـو څاگانـې او ويالـې هـم تخريـب شـوې او مـواصلاتي لارې پـرې شـوې او ډېـری ټپيانـو تـه د سرپنـاه او د څښـاک د لومړنيـو اوبـو د برابرولـو غوښـتنه شـوې ده. او دوی د سـړې هوا په اړه شکايت وکړ.

پـه راپـور کـې دا هـم ويـل شـوي، چـې د مهاجرينـو چـارو وزارت د اداري پلاوي مشر مولـوي شـمل خـان مصلـح د سړې مياشـتې لـه عمومـي رئيـس مولـوي مطيـع الحـق خالـص او مولـوي نورالديـن تـرابي سره د کجـکال پـه کلي کـې، د اغيزمنـو او بـې ځايـه شـويو کورنيـو سره د اړيکو د ښه همغږۍ په موخه ښېرنې ناسته وکړه.

د سرچينـې د معلوماتـو لـه مخـې، پـه هغـې اداري غونـډه کـې چـې پـه هـرات ولايـت کـې د زيانمنـو شـويو خلکـو د وضعيـت د تنظيـم پـه موخـه جـوړه شـوې وه، د کجـکال، سـيابادک حاجـي رسـول، سـيابادک خليفـه، سـيابادک، کوشـکک، قلعـه نـو د کليـو مسـوولين د هـرات ولايـت د مهاجرينـو رياسـت تـه وسـپارل شـو. دهـرات ولايـت دمهاجرينـو دراسـتنولو چـارو رياسـت کارکونکـي بايـد هلتـه موجـود وي او رياست به يې يادو سيمو ته واستوي .



د دعـوت او ارشـاد رياسـت د مهاجرينـو چـارو وزارت لـه کارکوونکو څخه نظرياتي ازموينه واخيستله

د مهاجرينـو چـارو وزارت د دعـوت او ارشـاد رياسـت د تلـې مياشـتې پـه ۲۲مـه نېټـه د دغـه وزارت کارکوونکـو څخـه نظريـاتي ازموينه واخيستله.

د افغانسـتان د اسلامـي امـارت له بريـا او په وزارتونـو کـې د دعـوت او ارشـاد د رياسـت لـه جوړېـدو وروسـته، د مهاجرينـو چـارو وزارت د دعـوت او ارشـاد رياسـت د ديني علـم او پوهـې د کچـې د لوړېـدو او د مامورينـو د ديني معلوماتـو د زياتـوالي لـه پـاره جلا صنفونـه جـوړ کـړل او د هغـه لـه پـاره يـې مسـؤل اسـتادان چـې هـره ورځ بـه د تجويـد، تلاوت، ترجمـه، تفسـير، حديـث او نـورو ديني چـارو تدريـس ورتـه کوي وټاکل.

د مهالوېـش لـه مخـې، يـاد رياسـت کارکوونکـو تـه د ازمويني د وخـت پـه اړه لـه معلوماتـو ورکولـو وروسـته د ازمويـنې پارچـې چمتـو کړې او له هغوی څخه يې ذهني ازموينه واخيسته.



د مهاجرت چارو په اړه د اړوندو ادارو د مسولینوغونډه جوړه شوه

د کډوالۍ په اړه د اړوندو ادارو د مرستیالانو ګډه غونډه د ۱۴۰۲لمریز کال د تلې میاشتې په ۸ نېټه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال په دفتر کې جوړه شوه.

په دې غونډه کې چې د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد، دکرنې اوبولګولو او مالدارۍ مرستیال مولوي فضل الباري، د عامې روغتیا وزارت مرستیال ډاکتر محمد حسن غیاثي، دکلیو یراختیا او بیا رغونې وزارت مرستیال مفتي سیداحمد مستقیم او دسرې میاشتې مرستیال ملا صالح محمد اخوندزاده په ګډون جوړه شوې وه

د مهاجرینو د ستونزو د حل په موخه د پلان پر ترتیب او هغو راستنېدونکو لپاره چې له پاکستان څخه په زوره ننګرهار ولایت ته راستانه شوي پر یو کمپ جوړولو خبرې اترې او څرګندونې وشوې.



دغه هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د یادې ادارې د استازي له خوا لاسلیک



د مهاجرینو چارو وزارت او یوې ادارې ترمنځ د همکارۍ هوکړه لیکونه لاسلیک شو

د مهاجرینو وزارت او شلتر نو موسسې ترمنځ د یو سلو۶۹ زره او ۶۰۱ډالرو په ارزښت د همکارۍ درې هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د هوکړه لیک له مخې، دغه موسسه په کندهار ولایت کې د ۴۰۰اړمنو کورنیو ته د ۵۵زره او ۶۰۱امریکایي ډالرو، په ننګرهار ولایت کې د ۵۸۰بې وزلو کورنیو ته د ۷۷زره امریکایي ډالرو او په خوست ولایت کې د ۲۷۰بې وزلو کورنیو لپاره د ۳۷زره امریکایي ډالرو په ارزښت خوراکي توکي چمتو کوي.

دغه هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او د یادې ادارې د استازي له خوا لاسلیک شول.



د مهاجرینو چارو وزارت او یوې ادارې ترمنځ د څه باندې ۴۰۰زره ډالرو په ارزښت د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو

د مهاجرینو چارو وزارت او د روغتیا، معلولینو او پرمختګ موسسې ترمنځ د تلې پر ۹ مه نیټه د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شو.

د دې هوکړه لیک پر بنسټ، یاده اداره به په دوو دورو کې د ۴۹۷زره ۲۲۸ امریکایي ډالرو په ارزښت څلور ډوله خوراکي توکي په اروزګان ولایت کې پر ۲ زره ۲۵۰ بې ځایه شویو، راستنېدونکو او بې وزلو کورنیو ووېشي.

د مهاجرینو چارو وزارت اکتیډ موسسو او افغانستان له پاره د ناروې پلاوي سره د همکارۍ ټړونونه لاسلیک کړل

د مهاجرینو چارو وزارت او اکتید موسسو او د افغانستان لپاره د ناروې پلاوي ترمنځ د تلې پر ۱۲مه نیټه د څه باندې 5 میلیونو ډالرو په ارزښت د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د دې هوکړه لیک له مخې اکتید موسسه به په بلخ، ننګرهار، هرات او کندوز ولایتونو کې د مستحقو کورنیو لپاره ۳ میلیونه ۲۸۸زره ۳۸ ډالره، او له هرات ولایت څخه پرته2 میلیونه ۵۸۹ زره ۶۸۲ ډالر یادو ولایتونو کې مستحقو کورنیو ته وېشل کیږي، چې ټولټال ۴ زره او ۱۸۰ کورنۍ دي.



مسلکي مرستیال د پناغوښتنې په برخه کې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ له مشر سره ولیدل

دمهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د تلې میاشتې پر ۱۲نیټه په افغانستان کې د پناغوښتنې په چارو کې دملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ له رئیس ښاغلي لیونارد زولو سره په خپل کاري دفتر کې ولیدل

په دغه لیدنه کې، د وزارت مقام دفتر، پلان او پالیسۍ، د داخلي بې ځایه شویو د وضعیت ته د رسیدنې او د دایمي حللارو موندنې ریاستونو رییسانو هم ګډون کړی و او د افغان مهاجرینو د ستونزو په اړه بحث او څرګندونې وشوې.

مسلکي مرستیال وویل د پاکستان حکومت اراده لري چې له اسنادو پرته مهاجرین په زوره را وباسي او دوی ته یې شاوخوا یوه میاشت یا لږ وخت ورکړی دی.

ښاغلي راشد زیاته کړه، په تېرو ۱۰-۲۰ ورځو کې شاوخوا ۲۳ زره مهاجرین د تورخم او سپین بولدک له لارې په زوره ایستل شوي او دوی ته د رسېدو لپاره یې د ٦ وزارتونو له استازو یې یوه کمېټه جوړه کړې ده چې د ستونزو او ننګونو پر حللارو کار کوي.

مسلکی مرستیال وویل، پاکستان د نړیوالو قوانینو خلاف مهاجرین اخراجوي، مورږ باید هغو کسانو ته ښه راغلاست ووایو چې راایستل شوي دي او په دې برخه کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ مرستې او همکارۍ ته اړتیا لرو.

ښاغلي زولو وویل، د پاکستان هېواد باید د مهاجرت نړیوالو قوانینو ته درناوی وکړي، په پاکستان کې د کمیسیون د دفترونو مسوولینو د دغه هېواد له چارواکو سره ناستې پیل کړې او هیله لرو چې ښې پایلې به ولري.

هغه زیاته کړه، د مهاجرینو چارو وزارت او کمېشنرۍ باید خپل چمتووالی او تدابیر ولري او اسانتیاوې رامنځته کړي، چې راستنېدونکي مهاجرین په منظم او باعزته توګه خپلو اصلي ځایونو ته ستانه شي او مورږ باید پر ګډ کاري پلان کار وکړو.

د دغه وزارت د پالیسۍ او پلان رئیس مولوي محمودالحق احدي وویل، د افغان مهاجرینو د لېږد او استقبال لپاره باید یوه تخنیکي کمیټه جوړه شي، چې وکولای شو یو بل سره په همغږۍ او همکارۍ ستونزې له منځه یوسو.

ښاغلي زولو وویل چې مورږ په دې اړه د ملګرو ملتونو له نورو مرستندویه ادارو سره سلا مشورې کوو.

هغه د جبري ایستنې د ستونزې د حل لپاره د درې اړخیزې ناستې غوښتنه وکړه.

همدارنګه زولو د یوه تخنیکي تیم جوړول اړین وګڼل او ویې ویل، چې ډېر ژر به د مهاجرینو چارو له وزارت سره په دې اړه ناسته ولرو.



د جبري راستنېدونکو د ستونزو د حل او د موقتي کمپونو د جوړولو کمیسیون کندهار ته لاړ.

د جبري راستنیدونکو ستونزو ته د رسیدنې او د موقتي کمپونو جوړولو کمیسیون چې د الحاج ملا محمد حسن اخوند د فرمان له مخې د مهاجرینو چارو وزارت د مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ تاکل شوی و، مولوي صاحب د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت مرستیال فضل الباري فضلي، د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت مرستیال مولوي سید احمد مستقیم، د عامې روغتیا وزارت مرستیال ډاکتر محمد حسن غیاثي، طبیعي پېښو ته د رسیدنې چارو کې د دولت وزارت سرپرست مولوي احمدشاه ذهین او د افغاني سرې میاشتې ټولنې مشر ملا صالح محمد اخوندزاده کندهار ولایت ته په سفر کې د کندهار ولایت له سرپرست حاجي ملا صاحب سره د ۱۴۰۲ کال د تلې په ۱۵ نېټه لیدنه وکړه.

د دې لیدنې په پیل کې د مهاجرینو چارو وزارت مسلکي مرستیال او د یاد کمیسون رئیس عبدالرحمن راشد وویل چې زموږ هېوادوال په ټېرو ځلورو لسیزو کې د جګړو له املې ګاونډیو هیوادونو ته مهاجر شوي او اوس له ایران او پاکستان څخه راستانه کیږي. هغه وویل، د راستنېدونکو د ستونزو او د موقتي کمپونو د جوړولو، په تورخم، سپین بولدک، اسلام کلا او نورو سرحدي کرښو کې د راستنېدونکو د ستونزو د حل لپاره د موقتي کمپونو د جوړولو کمېسیون ته دنده سپارل شوې ده چې د راستنېدونکو ستونزې وڅېړي، د موقتې مېشتېدنې لپاره یې ځایونه تثبیت او د ژوند لومړنۍ اسانتیاوې ورته برابرې کړي.

هغه همدا راز وویل، چې دې کمیسیون تورخم ته په سفر کې د راستنیدونکو اړتیاوې مشاهده کړې وې او اوس د همدې لپاره کندهار ته راغلی یو او غواړو چې سپین بولدک ته د خپل سفر پر مهال د مهاجرینو چارو د ریاست اړتیاوې پوره کړو او د کمپ جوړولو ځای ورته غوره کړي او بیا به د دې سفر پایلې د نورو اجراتو لپاره د ریاست الوزرا محترم مقام سره شریکې کړو.

ښاغلي راشد د ځینو ادارو او د کندهار ولایت مقام همکاري مهمه وبلله او له هغو څخه یې د همکارۍ غوښته څرګنده کړه

کندهار والي حاجي ملا صاحب د دې مهمې موضوع په اړه د ولایت مقام د هر اړخیزې همکارۍ ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې په دې برخه کې ټولې ادارې له تاسو سره همکارې او همغږي دي.

د کندهار والي له کمیسیون څخه وغوښتل چې د کمپ په جوړولو کې دې د راستنېدونکو زیات شمېر په پام کې ونیسي او د هغوی ټولې اړتیاوې دې پوره کړي.

د لیدنې په جریان کې امنیه قومندان مولوي سمیع الله، د کندهار ولایت د کرنې او مالدارۍ رئیس مولوي محمود مظلوم، د کندهار د مهاجرینو چارو رئیس مولوي ولي جان بادام هم ګډون درلود.



د کندهار په سپین بولدک کې له موسسو سره د همغږۍ ناسته وشوه

د مهاجرینو چارو وزارت د مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ د جبري راستنیدونکو د وضعیت د ارزونې کمیسیون د ۱۴۰۲ کال د تلې پر ۱۶ مه د سپین بولدک په پوله کې د ادارو له استازو سره غونډه وکړه.

په دې ناسته کې د سپین بولدک په پوله کې د مهاجرینو مسول د جبري راستنېدونکو د شمېر په اړه د معلوماتو په ورکولو سره، د موقتي کمپ جوړول، د خوراکي او غیر خوراکي توکو برابرول، روغتیایي خدمتونه او د اوبو رسولو د سیستم برابرول لومړنۍ اړتیاوې وبللې.

ورپسې کمیسیون د جبري راستنیدونکو وضعیت ته په کتو ټینګار وکړ، چې له بنسټونو سره دې لا زیاته همغږي رامنځته شي او د مهاجرینو لپاره دې د خوراکي، نغدي او غیر خوراکي توکو د مرستو د ویش لړۍ چټکه شي.

د جبري راستنېدونکو وضعیت ته د رسیدنې کمیسون د مهاجرینو لپاره د افغانستان اسلامي امارت د امکاناتو او فعالیتونو په اړه خبرې وکړې او د مهاجرینو وضعیت ته د رسیدنې په موخه یې د مرستو رسولو او د روغتیایي ټیمونو د جوړولو غوښتنه وکړه.

پای کې د خوړو نړیوال سازمان، د مهاجرت نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ د دفترونو استازو د خپلو فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او د مرستو د بهیر د چټکتیا ډاډ یې ورکړ.



د راستنېدونکو د وضعیت د ارزونې کمیسیون د سپین بولدک فرضي پولې څخه لیدنه وکړه

د راستنېدونکو وضعیت ته د رسیدنې کمېسون د تلې پر ۱۶ مه نیټه د سپین بولدک له فرضي پولې څخه د لیدنې پر مهال له جبري راستنیدونکي سره خبرې وکړې.

دغه کمیسیون د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت د مرستیال الحاج مولوي عبدالرحمن راشد په مشرۍ، د عامې روغتیا، کرنې، کلیو بیارغونې او پراختیا وزارتونو د مرستیالانو او پېښو ته د رسیدنې په برخه کې د دولت وزارت او د افغاني سرې میاشتې د استازو په ګډون د سپین بولدک فرضي پولې لیدنه وکړه. د جبري راستنېدونکو ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د شته ستونزو د حل ډاډ یې ورکړ.

یاد کمیسیون د جبري راستنېدونکو مهاجرینو عمومي وضعیت ته د ښې رسیدنې په موخه د سپین بولدک په فرضي پوله کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د دفتر له استازو، ولسوال او د ولسوالۍ نورو مسولینو سره وکتل او له پاکستان څخه د راغلو مهاجرینو د ستونزو پر حل، د هغو لپاره د موقتي مېشتېدنې ځای، خوراکي توکو برابرولو او د ګرځنده روغتیایي ټیم جوړولو په اړه یې خبرې وکړې.



د جبري راستنېدونکو عمومي وضعیت ته د رسیدنې کمېسیون د ننګرهار ولایت د اجرائیه کمېټې د کړنو څارنه وکړه.

د کډوالو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد د جبري راستنیدونکو وضعیت ته د رسیدنې کمیسیون په مشرۍ ننګرهار ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې ۱۴۰۲ لمریز کال د تلې پر ۲۵ مه نیټه د جبري راستنیدونکو په تړاو د ولایتي اجرایوي کمیټې دکړنو څارنه وکړه.

په دې ناسته کې مولوي عبدالرحمن راشد د جبري راستنېدنکو د شمېر په یادولو سره وویل چې دوی د کمپونو جوړولو، خوراکي او غیر خوراکي توکو، څښلو اوبو او روغتیایي خدمتونو لپاره جدي اړتیا لري او له همکارو بنسټونو وغوښتل چې د نورو ټیمونو په رامنځته کولو خدمتونه پراخه کړي.

داخلي موسسو او انجوګانو استازو د خپلو فعالیتونو او کړنو په اړه معلومات وړاندې کړل او اړمنو ته د رسېدنې د پراختیا ژمنه یې څرګنده کړه.





پکتیکا کې ۲ زره او ۳۷۰ کورنیو سره مرسته وشوه

د پکتیکا ولایت پر ۲ زره او ۳۷۰ کورنیو د کپو، برک موسسو او د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ لخوا د خوراکي توکو او نغدي مرسته وویشل شوه.

دغه کورنۍ پخوا د برمل او اورګون ولسوالیو کې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو د ریاست له خوا اړمني پیژندل شوې وې.

هرې کورنۍ ته څلور ډوله خوراکي توکي چې ۱۶۵ زره او ۹۲۵افغانۍ کېږي، د کوچنیو کارونو د پیدا کولو لپاره، ۲۲ زره او ۶۰۰ ، ۱۰ زره افغانۍ او په کمپ کې ۱۳۰ تنو ته پاخه شوي خواړه د یاد ولایت د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې ووېشل شول.

د یو بل خبر له مخې، د راستنېدونکو لپاره د نوم لیکنې مرکز د تلې په ۲۸ مه نیټه پرانیستل شو.

د یاد وزارت د پرېکړې له مخې، د ولایت مقام او د هغه ولایت دمهاجرینو چارو ریاست په هلو ځلو د ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه د انګور اډې په سیمه کې د سرچینو د معلوماتو مرکز جوړ او په کار پیل وکړ.

سرچینې زیاته کړې، چې د یادې لارې له لارې له پاکستان څخه د راستنېدونکو کډوالو لپاره د دغه مرکز په پرانیستل کېدو سره به د هغوی د ثبت او شمېرې پر ټاکلو سربېره د هغوی معلومات د مهاجرینو چارو له وزارت او اړوندو ادارو سره شریک شي.

د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت د دفتر رییس د جینوا د نړیوال سازمان د دفتر له متخصص سره ولیدل

د مهاجرینو چارو وزارت د دفتر رییس الحاج قاري محمد اجمل ویاړ د جینوا د مهاجرت د دفتر له متخصص ښاغلي کارل بیکر او په افغانستان کې د مهاجرت د نړیوال سازمان د اړیکو له مسوول عبدالوارث سره د ۱۴۰۲د تلې په ۲۳ مه نیټه په خپل کاري دفتر کې ولیدل .

په دې لیدنه کې د منظمو مهاجرتونو په هکله بحث او د نظر تبادله وشوه ، ښاغلي کارل وویل : دا سازمان د نړۍ په کچه مهاجرتونه مدیریت او همغږي کوي او د منظمو مهاجرتونو پروسه د دوو هیوادونو تر منځ په تفاهم سره سرته رسوي او زمونږ موخه د غیر منظمو مهاجرتونو مخنیوی دی او د یو لړ پراونو د سرته رسولو وروسته د منظمو مهاجرتونو له پروسې څخه حمایت کوو.

د وزارت مقام د دفتر رییس په افغانستان کې د اوږدو جګړو او په ښلابښلو هېوادونو کې د میلیونونو افغان مهاجرینو یادونه وکړه او ویې ویل چې د اسلامي امارت له بریا سره د مهاجرینو په شمېر کې کموالی راغلی او برعکس بیرته راستنیدنه زیاته شوې ده.

هغه زیاته کړه، د مهاجرینو او راستنیدونکو وضعیت ته په پام سره د بنسټونو او موسساتو لازیاتې همکارۍ ته اړتیا ده او د مهاجرت د مخنیوي په موخه د بنسټیزو پروژو پلې کېدلو لپاره لا زیاتې همکارۍ ته ضرورت لرو.

د پالیسۍ او پلان رییس مولوي محمودالحق احدي او د راستنیدو د هڅونې رییس مولوي محمد جان خدرخیل چې په دې غونډه کې شتون درلود ، د غیر منظم مهاجرت په پرتله د منظم مهاجرت ګټې په ګوته کړې او ویې ویل، چې افغانان له ډیرو ستونزو سره مخ دي. موږ غوښتنه کوو چې د جینوا په غونډه کې د مهاجرت د نړیوال سازمان له خوا د افغان مهاجرینو موضوع راپورته او ملاتړ یې وشي.



د مهاجرت نړیوال سازمان د مهاجرینو او راستنېدونکو له وزارت سره خپلې همکارۍ ته دوام ورکوي

د مهاجرت نړیوال سازمان مسوولینو د تلې په ۲۵مه نیټه د وزارت مقام د دفتر رییس قاري محمد اجمل ویاړ سره ولیدل او له راستنېونکو سره یې د خپلو مرستو ډاډ ورکړ .

په دې لیدنه کې د وزارت مقام د دفتر رییس د دغې اداري د پخوانۍ همکارۍ د قدردانۍ په ترڅ کې د راستنېدونکو د ستونزو د حل او د هغوی د دفترونو د فعالیت د پیل په خاطر د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د دغې اداري څخه د پکتیا او پکتیکا ولایتونو په فرضي پولو کې د راستنېونکو سره همکاریو د دوام غوښتنه وکړه..

د داخلي بې ځایه شوو او د مرستو د همغږۍ رییسانو مولوي سردار شیرزاد او شیخ عبدالرحمن رحماني هم په دې لیدنه کې شتون درلود ، له پاکستان څخه یې د راستنېدونکو د جدي مشکلاتو یادونه وکړه او له هغوی سره یې د لا ډېرو مرستو غوښتنه وکړه .

پولو کې د مرستو د همغږۍ مسؤلې میرمن انګهراد او د هغه سازمان د اړیکو مسوول عبدالوارث وویل ، په لاس کې له شته امکاناتو به د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت سره مرستو ته دوام ورکوي .

انګهراد زیاته کړه په حاضر وخت کې د افغانستان په پولو کې زموږ د سازمان دفترونه له نورو مرسته کونکو بنسټونو سره په تفاهم کې چې راستنېدونکو ته مرستې وړاندې کوي او د بودیجې د زیاتوالي په صورت کې به د مرستو اندازه نوره هم لوړه کړي .



د وزارت د ۱۴بستونو تحریري ازموینه واخستل شوه

د دوو (۳، ۴) بستونو تحریري ازموینه حقوقي آمریت ، د محاسبې عمومي مدیریت ، دوه ۴ بستونه د حقوقي حمایت ، درې ۴بستونه د بې ځایه شوو عمومي مدیریت لپاره او یو ۳ بست د واخان ولسوالۍ سرحدي آمریت ، یو ۴ بست د معلوماتو او ثبت عمومي مدیر ، پنځه بستونه د معلوماتو د ثبت ۵ مسلکي غړي د مهاجرینو چارو د ولایتي ادارو اړوند هرات، بلخ، ارزګان، پکتیا، نورستان، بدخشان، دایکندي، کندهار، نیمروز د وزارت د کنفراسونو په تالار کې واخیستل شوه .

په پیل کې د مهاجرینو چارو وزارت د بشري سرچینو رییس مفتي مدیرګل احمدي ګډون کوونکو ته په خبرو کې وویل: دولتي پستونه یو امانت دی چې باید وړ کسانو ته وسپارل شي او د ازموینې له اخیستلو څخه موخه یوه اړتیا ده او له شک پرته هغه کسان چې زیاته پوهه ولري باید جذب شي .

په دې ازموينه کې د ګډون کوونکو شمېر ۱۵۰تنه و، چې د ازموينې له پايلو او مرکو وروسته به له دوی څخه ۱۴ تنه د لياقت او وړتيا پر بنسټ د يادو ولايتونو د مهاجرينو چارو رياستونو ته ور وپېژندل شي.



د مهاجرينو چارو له وزارت سره دوو موسسو د همکاريو هوکړه ليکونه لاسليک کړل

د مهاجرينو چارو وزارت له اداره انکشاف و بازسازی برای افغانستان او د رفاه اجتماعی راه رهنورد موسسو ترمنځ د ۱۴۰۲د لړم په ۲ مه نيټه د همکاريو دوه هوکړه ليکونه لاسليک شول.

د يادو شوو هوکړه ليکونو له مخې، د رفاه اجتماعی راه رهنورد موسسې له خوا د شنو خونو، د ميوو پروسس، خياطی، وړو باغونو، د کوچنيو کاروبارونو د ملاتړ او له ۴۹۰ کورنيو سره د فني او حرفوي زده کړو په برخه کې د يو لک او ۹۵زره او ۸۱۰ امريکايي ډالرو په ارزښت په هرات ولايت کې نغدي مرسته وشي او د افغانستان لپاره د پراختيا او بيارغونې اداره به د لغمان او هلمند په ولايت کې د ۹زره ۳۰۰ کورنيو لپاره د تذکرې، د زيږون کارت، د مړينې کارت، مدني اسنادو د پوهاوي په برخه کې به ۱۹۰ زره او۵۸۲ ډالره نغدې پيسې وويشي.

دغه هوکړه ليکونه د مهاجرينو چارو وزارت د پلان او پالېسۍ رييس مولوي محمود الحق احدي او د مسلکي معينيت سرپرست او د يادو شوو موسسو د استازو ترمنځ لاسليک شول.





سويس د مهاجرينو چارو له وزارت سره خپله همکاري زياتوي

دا خبره د مهاجرينو چارو وزارت د بشري سرچينو له رييس سره په اسلام اباد کې د سويس سفارت د مهاجرينو په برخه کې مسوول د ۱۴۰۲ کال د لړم مياشتې په ۱۶ مه نيټه په خپل کاري دفتر کې د ليدنې پر مهال وکړه .

په دې ليدنه کې د اجباري راستېدونکو په ستونزو د نظر تبادله وشوه او په اسلام اباد کې د سويس سفارت د مهاجرت د برخې مسوول د هرات د زلزلې ځپلو او راستنېدونکو سره د خپل هيواد د مرستو يادونه وکړه او ويې ويل : سويس غواړي په راتلوونکي ميلادي کال کې په کابل کې يو دفتر پرانېزي او له دې لارې سربېره په همغږۍ د مهاجرينو چارو وزارت سره بشري مرستې نورې هم ډېرې کړي .

هغه زياته کړه يو شمير افغانان په سويس کې ژوند کوي او موږ غواړو چې په راتلونکې کې له دې وزارت سره يو ترون ليک لاسليک ، او مهاجرينو ته د اسانتياوو برابرول او يا هغو ته په خپله خوښه راستنېدو کې ګډه همکاري ډيره کړو .



د وزارت د بشري سرچينو رييس مفتي مديرگل احمدي د سويس هيواد له مرستو د قدرداني په ترڅ کې د همغږۍ په رامنځته کولو او په ګډ کار تفاهم او تاکید وکړ .

هغه زياته کړه افغانان بيلابيلو هيوادونو ته مهاجر شوي دي او موږ د مرستو او د کوربتوب د قدردانۍ ترڅنګ د هغو په خپل خوښه راستنېدو تاکید کوو او کوربه هيوادونه دې د نړيوال سازمان د فيصلو مطابق له اجباري راستنېدلو خود داري وکړي .

د مهاجرينو چارو وزارت او د دوو موسسو ترمنځ د همکاريو هوکړه ليکونه لاسليک شول

د مهاجرينو چارو وزارت د اداره انکشاف و بازسازي برای افغانستان او د رفاه اجتماعی راه رهنورد موسسو ترمنځ د همکاريو دوه هوکړه ليکونه د ۳ لکه ۸۶زره او ۳۹۳ په ارزښت د لړم په ۲۱مه نيټه لاسليک شول .

د يادو شوو هوکړه ليکونو له مخې، د رفاه اجتماعی راه رهنورد موسسې له خوا د شنو خونو، د ميوو پروسس، خياطۍ، وړو باغونو، د کوچنيو کاروبارونو د ملاتړ او له ۴۹۰ کورنيو سره د فني او حرفوي زده کړو په برخه کې د يو لک او ۹۵ زره او ۸۱۰ امريکايي ډالرو په ارزښت به هرات ولايت کې نغدي مرسته وشي. او د اداره انکشاف و بازسازی برای افغانستان به د لغمان او هلمند په ولايتونو کې د ۹ زره ۳۰۰کورنيو لپاره د تذکرې، د زيږون کارت، د مړينې کارت، مدني اسنادو د پوهاوي په برخه کې به ۱۹۰ زره او۵۸۲ ډالره نغدې پيسې په مصرف رسوي .

يادهوکړه ليکونه د مهاجرينو چارو وزارت د پلان او پالېسۍ رييس مولوي محمود الحق احدي او د مسلکي معينيت سرپرست او د يادو شوو موسسو د استازو ترمنځ لاسليک شول .




د مهاجرينو چارو وزارت او د حرکت به سوی مصونيت موسسې ترمنځ له ۱۵میليونو څخه د زياتو افغانيو په ارزښت د همکاری هوکړه ليک لاسليک شو

د مهاجرينو او راستنېدونکو چارو وزارت او د حرکت به سوی مصونيت موسسې ترمنځ د همکاری هوکړه ليک د ۱۴۰۲کال د لړم ميا‌شتې په ۳۰ مه نيټه لاسليک شو .

د يادشوي هوکړه ليک له مخې به ، يادې اداره د يووالي د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې ۱۵میليونه ۶۹۲زره ۴۰۰افغانۍ ځانګړې کړي او يو زرو ۵۰۰بې کوره ماشومان به له خپلو کورنيو سره يو ځای کړي او بېرته به يې بېلابېلو ځانګو ته ولېږدوي، تر څو په بېلابېلو برخو کې د پوهنې، تغذيې او روغتيايي خدمتونو په کندهار او نيمروز ولايتونو کې تر لاسه کړي.

يادهوکړه ليک د مهاجرينو چارو وزارت د پالیسۍ او پلان رييس مولوي محمود الحق او د مهاجرينو د چارو وزارت د مسلکي معينيت سرپرست او د يادو موسسو د استازو له خوا لاسليک شو.





د مهاجرینو چارو وزارت او د دوو موسسو ترمنځ له یو میلیون څخه د زیاتو امریکایي ډالرو په ارزښت د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو وزارت د اسلامیک ریلیف او د خیریه بشری موسسو ترمنځ په دوو برخو کې د همکاری درې هوکړه لیکونه د لیندی په لومړی نېټه لاسلیک شول.

د یاد هوکړه لیک له مخې به د اسلامیک ریلیف بنسټ د ۲ زره او ۹۲۷ کورنیو لپاره د کمپلو ، البسې او د نغدو پیسو د ویش په برخه کې یو ملیون یو لک ٦٥ زره او ۴۰۵ امریکایي ډالره په لوګر او بامیانو ولایتونو کې لګوي.

په همدې ترتیب د خیریه بشري موسسې له خوا د ګرځنده تشنابونو نصبول، د دستشویو د جوړول ، د اوبو د سولري پمپونو نصبول، له چوکاټونو سره د درې سکرینونو نصبول ، د سولري څراغونود نصب لپاره د ۳جنراتورونو اخیستل ، د اوبو ذخیرې جوړول ، د کثافاتو د ٦ زباله دانیو چمتو کول، د یوې یوې ترپالي خیمې چمتو کول د اوبو د ټانکرونو ترمیم کول ، د ۵۱۸ روغتیایی کڅوړو ویشل ، د ۵ زره لیټره اوبو د ۲۹ ذخیرونصبول ، او له پاکستان څخه د ۱۱ زره او ٦٦٨ جبري راستنیدونکو لپاره به د ننګرهار په موقتي کمپ کې ۳۷٦ زره او۹۵۵ ډالره په مصرف رسوي .

یاد هوکړه لیک د مهاجرینو چارو وزارت د پلان او پالېسی رییس مولوي محمود الحق احدي او د مسلکي معینیت سرپرست او د ذکر شوو موسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شو .





د وزارت د راستنېدونکو رییس د مهاجرت نړیوال سازمان د بشري حالاتو له کار پوهې سره ولېدل

د وزارت د راستنېدونکو او د بیا میشته کېدنې رییس مولوي شکرالله شاکر د بېرنیو او له بحران څخه وروسته د بشري حالاتو له کارپوهې میرمن فاتو جاه او د مهاجرت د نړیوال سازمان د دایمي حل لارو له همغږې کوونکې میرمن لورین مکارتي سره په خپل کاري دفتر کې د لېندی په ۱۵مه نیټه وکتل.

په دې لیدنه کې دواړو لورو په راتلونکي کې د راستنېدونکو او بې ځایه شویو کورنیو لپاره د دغې اداري د لا زیاتو خدمتونو او فعالیتونو د برابرولو په باب خبرې وکړې.

د وزارت د راستنېدونکو رییس د هېواد په پولو کې د یادې اداري د فعالیتونو ستاینه وکړه او د ښارګوټو د جوړولو، او د جبري راستنېدونکو ستونزو ته د حل په موخه یې د راغلو کمېټو مسوولینو ته د یاد وزارت د راتلونکو پلانونو په اړه معلومات ورکړل.

هغې وویل، له وزارت سره د همکارو ادارو د لا زیاتو هڅو په همغږۍ جبري راستنېدونکې له ښو خدمتونو څخه برخمن شوي دي.

ښاغلي شاکر زیاته کړه زمونږ موخه په کاري چاپېریال کې د بشري همغږۍ رامنځته کول دي، تر څو د ستونزو د هواري په برخه کې ښې لارې چارې ولټول شي او په دې برخه کې هغو کسانو ته لومړیتوب ورکول کېږي چې تازه راستانه شوي دي.

مېرمن فاتو جاه وویل: دغه سازمان په بېلابېلو برخو کې په کار بوخته ده، د ننني غونډې له جوړېدو څخه یې موخه په بېلابېلو برخو کې د لازمو معلوماتو ترلاسه کول وو، تر څو د همدې پلان له مخې تنظیم شي، هغې دغه راز د وزارت راتلونکي پلانونو په اړه د معلومات د شریکولو غوښتونکې شوه .

دواړو لورو په راتلونکې کې په لا ډېرې همغږۍ تاکید وکړ .

په دې لیدنه کې د وزارت د فتر ریاست ، د حقوقي ملاتړ ریاست او د پلان ریاست استازو هم شتون درلود.





زرګونو کورنۍ به په کابل کې له ژمنیو مرستو برخمنې شي

په هغه لیدنه کې چې د مهاجرینو وزارت د داخلي بې ځایه شویو وضعیت ته د رسیدنې رییس مولوي سردار شیرزاد د ۱۴۰۲ کال د لیندۍ په ۲۲نېټه د مهاجرت د نړیوال سازمان د بشري مرستو د مرکزي زون له مسوول بنـاغلي محمد عمر هاشمي سره درلوده، د ژمنیو مرستو د ویش د پروګرام له پیل راهیسې، په کابل ولایت کې د ۶۲۵۰ بې ځایه شویو، راستنیدونکو او د طبیعي پېښو قربانیانو کورنیو ته به په راتلونکو څو ورځو کې خبر ورکړي .

د داخلي بې ځایه شویو وضعیت ته د رسیدنې رییس د دې ادارې د پرله پسې همکاریو د قدردانۍ په ترڅ کې وویل: هغو کسانو ته باید مرستې په سمه او شفافه توګه ورکړل شي چې مستحق دي او همدارنګه جبري راستنېدونکو ته هم باید مرسته ورسېږي .

بنـاغلي هاشمي وویل : دا مرستې چې پکې دوه دانې کمپلې ، د ژمني پوښاک بسته او ۲۰۰ امریکایي ډالر او یا د هغو معادل افغانۍ دي د هغه سازمان له خوا به له وزارت سره په همغږۍ او همکارۍ په شفافیت سره په راتلونکې اونۍ کې پیل شي .

دکابل ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د داخلي بې ځایه شوو د چارو آمر حفیظ الله حیدري چې په دې غونډه کې شتون درلود وویل: د مرستندویه بنسټونو د پریکړې له مخې هغه جبري راستنېدونکي چې له ګاونډیو هیوادونو څخه د روان میلادي کال د سپتمبر له میاشتې وروسته راستانه شوي دي د کابل بنار په کچه به له موسسو څخه د 6 میاشتنیو مرستو کڅوړې ترلاسه کړي.

د ۱۴۰۲ کال د دریمې ربعې په اوږدو کې د داخلي پلټنې ریاست کار او فعالیتونه

په دې ربعې کې د داخلي پلټنې ریاست د لاندې پلان له مخې د دغه وزارت د لومړنیو او دویمې واحدونو فعالیتونه څیړلي او په لاندې ډول دي.

- د مرکز او ولایتونو په کچه د بیاکتنې تولټال ۴۸جلده دوسیې .
- د دوسیو څیړنه پای ته ورسیده او پایلې یې د حکمونو د تطبیق په موخه اړوندو مسوولینو ته ورکړل شوې او له هغوی څخه وغوښتل شول چې د هغو د تطبیق ډاډ ورکړي .
- د (۷) جلده دوسیو څېړنه د پلان له مخې ، چې راپورونه یې تر اوسه بشپړ شوي ندي او تر کار لاندې دي.
- (۳) دانې فوق العاده قضیې د نورو اړوندو ریاستونو سره د ګډ هیات تر نظر لاندې بررسي شوې. پایلې او سپارښتنې یې اړوندې مرجع ته د تطبیق په موخه لیږل شوې دي او د تطبیق څخه یې ډاډ تر لاسه شوی دی.
- د اداري او مسلکي امریت د پلټونکو د پلټنې له مخې د ملکي خدمتونو د کارکوونکو د قانون د (۳۰) مادې له مخې، د (۳) کارکوونکو ته توصیه او(٦) تنه کارکوونکي کسر معاش شوي، چې یادې موضوعګانې د بشري سرچینو ریاست ته وړاندې شوې دي.

د اضـافي معاشـاتو، ماکولاتـو، سـفريو او غيـر عادلانـه پيرودونـو او نورو قضيو له امله مالي لاسته راوړنې.

د بيـا ګرځونـې لـه امله (۳۲۱۳۲۱۷) افغانـۍ، چـې لـه ډلـې څخـه يـې (۳۱۸۳۱۹۲) افغانـۍ تحصيـل شـوې (۳۰۰۲۵)افغانـۍ ترلاسـه شوې.

• (٦٩) قلمه جنسي توکي بيرته کرځول شوي.

د (٥٥٠) ليتره تيل بازکشت شوي دي.

له پلان څخه بهر فعاليتونه:

(٦٩) قلمه جنس ګرځول شوی دی.

(٥٥٠) ليتره ډيزلو تيل

د پلان څخه بهر کړنې:

اړوند ادارې ته په خپل وخت سره توحيدي راپورونه ليږل.

د راپورونو په ليکلو کې د پلټونکو ارزښتناکې سپارښتنې .

پـه بهرنيـو هيوادونـو کـې د اتشـه دفترونـو لپـاره مصارفـاتي کـړنلاره چمتو کول.

د فسـاد سره د مبـارزې ميکانيـزم دچـارو د کـنټرول لپـاره ترتيـب کـول او جوړول

د ريـاستونو د پروفايلونو پلټنه کول.

د ۱۴۰۲کال پـه دريمـې ربعـې کـې د مهاجرينـو چـارو د تحقيق او معلوماتو رياست کار او فعاليتونه

د مهاجرينـو چـارو د تحقيـق او معلوماتـو رياسـت پـه دې ربعـې کـې لاندې کړنې تر سره کړې دي .

• د ۱۴۰۲کال د تلـې لـه لومـړۍ نيټـې څخـه د ۱۴۰۲کال د لېنـدۍ تـر ۳۰ پـورې د معلومـاتي سيسـتم لـه لارې د هيـواد لـه رسـمي پولـو څخـه د راسـتنيدونکو د ارقامـو راټولـول چـې د (۴۷۲,۳٦۳) تنـه لـه ايـران څخـه او (۹٦۸,۳۸۲) تنـه لـه پاکسـتان څخـه چـې پـه ټوليـزه توګـه (۷۴٦۴۴۰) تنه کيږي هېواد ته راستانه شوي دي .

• د داخلي بـې ځايـه شـويو لپـاره د راسـتنېدونکو پـه معلومـاتي سيسـتم کـې د ډيټابيـس پانـې پـه جوړولـو کار کـول، د يـوې ځانګـړې کمېټـې رامينځتـه کـول، او د (ARIS) پـه سيسـټم کـې د معلوماتـو ، تجزيـو او تحليلونو راټولول .

• پـه (۳۴) ولايتونـو او د هيـواد پـه څلـورو پولـو کـې چـې معلومـاتي سيسـتم هلتـه وصـل دی د راسـتنېدونکو لـه ثبـت او راجستريشـن څخـه ځارنه .

•پـه ولايتونـو (غـور، فاريـاب، بادغيـس، غـزني، دايکنـدي) کـې کارمندانـو تـه د راسـتنيدونکو د معلومـاتي سيسـتم پـه برخـه کـې او همدارنګـه پـه (۳۴) ولايتونـو او څلـورو رسـمي پولـو کـې د معلومـاتي سيسـتم د تخنيکـي سـتونزو د حـل پـه موخـه د روزنيـز ورکشـاپ جوړول .

• د وزارت د مـحترم مقـام پـه هدايـت د فـرضي پولـو (تورخـم، سـپين بولـدک) د رياسـت د دريـو کارکوونکـو معرفـی کـول او اسـتول تـر څـو لـه پاکسـتان څخـه د اجبـاري راسـتنيدونکو د اسـتقبال، ثبـت او راجسـتر په پروسه کې همکاري وکړي.

•د زيـان منونکـو ډلـو (ماشـومانو، ميرمنـو، بـې کـوره خلکـو او ناروغانـو)، داخلي بـې ځايـه شـوو او راسـتنيدونکو تـه (د روغتيـا، تعليـم، کـور او سرپنـاه، حقونـو، مرسـتو، زيربنـا، کارموندنـې) خداماتـو ته

•د هيـواد پـه لسـو ولايتونـو (کنـدز، بـغلان، بدخشـان، تخـار، سرپـل، سـمنګان، پنجشـير، کاپيسـا، باميـان، پـروان) کـې د لاسرسي پـه اړه خبرنې بشپړې شوې دي .

•د هغـو خپرونـو سـپارل او ويشـل چـې لـه ادارو څخـه راليږل شـوې او پـه دې توګـه د کتابونـو لـه مطالعـې سره د علاقـه لرونکـو تـه د دوی نظر سره سم مواد په لاس ورکړل شوي دي .

•د کورنيـواو بهرنيـو بنسـټونو سره پـه بيړنيـو اداري غونـډو کـې د رييـس او نـورو اړونـدو کارمندانـو ګـډون او د داخلي بـې ځايـه شـويو پاليسـۍ ته د بياکتنې د کميټې د غړي په توګه د يو کارمند معرفي کول.

ولايتونو کې د خدمتونو وړاندې کول

سرپل ولايت کې له څه باندې زرو کورنيو سره مرسته وشوه

د سرپل ولايت په سانچارک او سوزمه قلعه ولسوالیو کې پر ۱ زرو او ۳۲۲راستنيدونکو او بې ځايه شوو کورنيو باندې خوراکي، غير خوراکي توکي، د پخلنځي سامان، روغتيايي کڅوړې او نغدې پيسې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ، د ناروې د کډوالۍ شورا، کومشي سادګان اوکتيد او د کډوالو چارو د عالي کمېشنرۍ له خوا ووېشل شوې.

يادې شوې کورنۍ چې مخکې د مهاجرينو د آمريت له خوا سروې او پيژندل شوې وې، چې له هرې کورنۍ سره د خوراکي او غير خوراکي توکو، پخلنځي سامان، کورنۍ او روغتيايي کڅوړې، د ژمنيو جامو يوه بسته، پاخه شوې خوراکي توکي، ۲۰۰ کورنيو ته ۳ سره لنګې وزې او نورو کورنيو ته په بېلا بېلو کتګوريو (۲۲زره او ۶۰۰، ۲۰زره او ۴۵۰، ۲۰زره او ۵۳۵، ۲۰زره او ۴۴۷) افغانۍ وويشل شوې.

د يو بل خبر له مخې د سانچارک ولسوالۍ د نسوان عالي لېسې ۲۵۶تنو ښځينه زده کوونکو ته روغتيا توکي، چې ۱۸ پوړۍ صابون چې د عفوني ضد درمل په کې موجود و، د يادې مؤسسې له خوا ووېشل شول او د ۲۵بې ځايه شوو کسانو له پاره د سواد زده کړې پرګرام چې شپږ مياشتې وړاندې د بدلون له پاره د خلکو د عمل انستيوټ له خوا پيل شوی و، پای ته ورسېد.

همدا ډول کډوالو لپاره د څښاک د اوبو خوندي زيرمه نصب کړې، چې د ۱۰ زره ليټرو اوبو په ظرفيت سره د سوزمه کلا په افغانيه ولسوالۍ کې د ۱۰۰ څخه زياتو هغو بې ځايه شوو کورنيو لپاره چې د دوهم ځل له پاره دغه ځای کې يو ځای شوي دي، اقدام کړی دی.

سرپل کې د راستنېدونکو او بېځايه شويو کسانو د تلپاتې اوسېدنې د کمېټې غونډه جوړه شوه

په سرپل ولايت کې د راستنېدونکو او بېځايه شويو خلکو د تلپاتې اوسېدنې د کمېټې لومړۍ غونډه د تلې مياشتې په ۲۳مه نېټه د مرستيال والي په مشرۍ د دولتي ادارو او ملي او نړيوالو بنسټونو د استازو په ګډون جوړه شوه.

د غونډې موخه د هغه ولايت په کچه د راستنيدونکو او بې ځايه شويو کورنيو سره لا زياته همغږي او مرستې وې.

مرستيال والي مل پاسوال محمد نادرحقجو د راستنېدونکو او بېځايه شويو د ستونزو او اړتياوو د حل په موخه پر وخت خبرې وکړې او له همکارو بنسټونو څخه يې د لا زياتې همکارۍ غوښتنه وکړه.

ورپسې د مهاجرينو چارو رياست استازي د ولايت په کچه د راستنيدونکو او بې ځايه شويو د شمير او اړتياوو په اړه پريزنټيشن وړاندې کړ.

د همکارو بنسټونو استازو د لا زياتو همکاريو ډاډ ورکړ.





بدخشان کې له څه باندې زرو کورنیو سره مرسته وشوه

په بدخشان ولایت کې پر ۱ زرو او ۵۱۴کورنیو د بې وزلۍ د راکمولو او د ژوند د کچې د لوړولو په موخه، د هالنډ کمیټې، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ دفتر او د افغانستان لپاره د ناروې کمیټې له خوا د یادو بنسټونو له خوا نغدي مرستې وویشل شوې.

یادې شوې کورنۍ د هغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له خوا سروې او په شرایطو برابرې پیژندل شوې وې او هرې کورنۍ ته په ټبلابټلو کټګوریو کې ۱۱زره ۳۳۰، ۷۸زره ۱۰۰، ۷۹زره ۴۰۰، ۱۳زره ۷۷۲، ۱۳ زره او ۸۰۰ افغانۍ نغدي مرسته او د ۳ سرونه لنګې وزې له ۶۰کیلو خوراکي توکو سره وویشل شول.

د یو بل خبر له مخې، د د تلې په ۱۱مه نېټه د بدخشان ولایت مرکز فیض اباد ښار ته څېرمه ۵،۸ کیلومتره سړک د قیرکېدو خبر ورکړل شو.

د بدخشان د مهاجرینو چارو رئیس مولوي محمد یونس جهاد مل په وینا، د ایشي فیض آباد کلي د ۵،۸ کیلومتره اوږدوالي او ۴ متر سوروالي مواصلاتي سړک به د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ په مالي مرسته د بې ځایه شوو او د هغه ځای د اوسیدونکو د ستونزو د هواري په موخه د نهه میلیونه افغانیو په لګښت د جوړولو چارې پیل او په درېیو میاشتو کې به بشپړې شي.

همدارنګه له پاکستان څخه بدخشان ولایت ته د اجباري راستنیدونکو د وضعیت او د هغوی لپاره د مرستو د راټولولو د څرنګوالي په اړه غونډه د لینډۍ میاشتې په ۶ مه نېټه د دغه ولایت د مرستیال او سرپرست په مشرۍ او د اړوندو ادارو د استازو په ګډون جوړه شوه.

په دې ناسته کې د مرستو راټولولو، وضعیت ته د رسېدو په برخه کې د دولتي ادارو د همغږۍ، د کډوالو د ادغام بهیر د چټکتیا او د مرستو د پروګرامونو د تنظیم په اړه د ټبلابټلو کمېټو پر جوړولو بحث او د نظر تبادله وشوه.





کاپیسا کې څه باندې سلو کورنیو مرسته ترلاسه کړه

په کاپیسا ولایت کې پر ۱۴۵ راستنیدونکو کورنیو نغدي مرستې او د ژمنیو جامو کڅوړې د مهاجرت نړیوال سازمان او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ د دفتر په همکارۍ وویشل شوې.

یادې شوو کورنیو چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له خوا سروې او پیژندل شوې وې، ۱۵زره او ۳۰۰ افغانۍ ، د ژمنیو جامو یوه بسته او د کور د باغ (شنه حوض) د جوړولو لپاره د اړتیا وړ ۸۷ توکي ترلاسه کړل.



کاپیسا کې د یوه ښوونځي د ترمیم چارې پیل شوې

د کاپیسا ولایت د مهاجرینو چارو د آمریت د راپور له مخې د دغه ولایت د مرکز هروکې کلي د هلکانو عالي لېسې د ترمیمولو کار د تلې میاشتې په ۶ مه نېټه پیل شو.

د یاد شوي ښوونځي د ترمیم چارې د څه باندې ۴۲۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو د عالي کمېشنرۍ له خوا د ۱۵میاشتو په موده کې په یوه دوه پوړیزه کانکریټي ودانۍ کې پیل شوې، چې ۲۴خونې لري او په یو وخت کې د ۱۲ زره زده کوونکو ظرفیت لري.

یاده شوې ودانۍ د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانیستل شوه، چې مرستیال والي مولوي اسدالله سنان، د کاپیسا د کډوالو چارو رئیس مولوي حمدالله شهیدزاده، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ مشر لیونارد زولو، د دغه ولایت د سیمه ییزو څانګو رئیسانو، استادانو، علماوو او اغیزمنو خلکو ګډون کړی وو پرانیستل شوه.

په میدان وردګو ولایت کې له څه باندې زرو کورنیو سره مرسته وشوه

په میدان وردګو ولایت کې د طبیعي پېښو له املې ۱ زرو او ۳۱ زیانمنو شویو کورنیو ته د مهاجرت نړیوال سازمان او د ډنمارک د مهاجرت شورا په همکارۍ نغدي مرسته او ژمنۍ جامې وویشل شوې. یادې شوې کورنۍ د میدان وردګو ولایت د مهاجرینو امریت له لوري پخوا سروې شوې او پېژندل شوې وې، چې هرې کورنۍ ته ۱۴زره ۸۰۰، ۳۷ افغاني، دری دانې کمپلې، یوه بسته ژمني کالي او د ۱۸ قلمه نورو توکو په ګډون ورته توزیع شول.



په میدان وردګو ولایت کې د مرستو د را ټولولو کمیټه جوړه شوه

د لیندۍ میاشتې په ٦نیټه په میدان وردګو ولایت کې له پاکستان څخه په جبري توګه د راستنو شویو کورنیو لپاره د مرستو د را ټولولو په موخه یوه کمیټه جوړه شوه.

یاده شوې کمیټه د اسلامي امارت د رهبرۍ په حکم د نومورې ولایت د والي په مشرۍ او د اړوندو ادارو د مسؤلینو په ملتیا د مرستو د را ټولولو په موخه جوړه شوې ده.

په هغه غونډه کې چې په همدې موخه جوړه شوې وه، د همکارو موسسو استازو، علماوو، قومي مشرانو او د سیمې خلکو په دغه ولایت کې له پاکستان څخه په جبري توګه د راستنېدونکو لپاره د مرستو په راټولولو کې د همکارۍ ژمنه وکړه.

د مهاجرینو د امر په وینا، په دغه ولایت کې ۲۶ کورنۍ له پاکستان څخه په زوره راستانې شوې دي، چې ځینې یې مرکز او یو شمېر یې ولسوالیو ته کډه شوې او د مرستو د رسولو په موخه ورته لازم تدابیر نیول شوي دي



ایران څخه یو لکو ٦ زره او ۴۸٦ مهاجرین هېواد ته راستانه شوي دي

له ایران څخه یو لک شپږ زره او ۴۸٦ افغان مهاجرین په خپله خوښه هېواد ته راستانه شوي دي. د اسلام قلعې د سرحدي امریت د معلوماتو له مخې پورته یاد شویو کسانو له ډلې څخه د کورنیو او مجردانو په ګډون ۱٦زره ۸۴۸ تنه ارمن او زیانمن شوي تشخیص شوي او د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شوي، خوراکي او غیر خوراکي توکي یې تر لاسه کړي دي.



پاکستان څخه ۵۶ زره ۳۹۰ کورنۍ افغان مهاجرین هېواد ته راستانه شول

د دریو میاشتو په جریان کې د ننګرهار ولایت د تورخم او د کندهار ولایت د سپین بولدک له لارې ۵۶ زره او ۳۹۰ افغان مهاجرین په جبري توګه خپل هیواد ته را ستانه شوي دي.

د ننګرهار ولایت د تورخم سرحدي امریت د معلوماتو له مخې، د تورخم له لارې ۲۱۳۳۷کورنۍ او د سپین بولدک له لارې ۸۷زره ۳۶۶ کورنۍ هېواد ته راستنې شوې دي.

په یادو راستنو شویو کې ۷۰۵ تنه بندیان شامل و، چې د پاکستان له زندانونو څخه خوشې شوي او له دواړو پولو(تورخم او سپین بولدک) له لوري هیواد ته راستانه شوي دي. د مهاجرینو د اداري له ثبت وروسته د نورو مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شوي دي. په دوی کې یو شمېر کسان، چې په ببلابېلو ناروغیو اخته وو، د سلامت روغتیایي شبکې او نورو روغتیایي ادارو له لوري یې په وړیا توګه درملنه شوې ده.

د یو بل خبر له مخې، پنځه ماشومان په خپله خوښه د تورخم له لارې هېواد ته راستانه شوي او د ننګرهار د مهاجرینو د رییس په وینا، دغه ماشومان په داسې حال کې هېواد ته راستانه شوي، چې مور یې په پاکستان کې ورکه ده او پلار یې د مور په لټه کې دی.

سرچینه زیاتوي، چې یاد ماشومان په تورخم کې د مهاجرینو سرحدي امریت له لوري د د لوړ افغانستان د بیارغونې موسسې مسوولینو ته سپارل شوي، تر څو د لومړنیو بشري مرستو وروسته یې خپلو خپلوانو ته وسپاري.

په لغمان ولایت کې یو زرو ۴۷۷ کورنۍ د مرستو څخه برخمنې شوې

په لغمان ولایت کې یو زرو په ۴۷۷ راستنو شویو کورنیو ته نغدي مرسته، پخه شوې مړۍ، غیر خوراکي توکي، بخاری، د لمریزې بریښنا وسایل او ژمنۍ جامې وویشل شوې.

یادو شویو کورنیو ته چې مخکې د مهاجرینو چارو ریاست له لوري سروې او پیژندل شوې وه، په ببلابېلو برخو کې ۶۱ زره ۸۰۰، ۷۹زره ، ۸زره ۵۰۰ ، ۳زره ،۲ زره ۵۰۰ افغانۍ نغدي مرسته او ۶۱په جبري توګه راستنېدونکو کورنیو ته د درېیو ورځو لپاره په موقت کیمپ کې خوراکي توکي یوه دانه بخاری، دوه دانې ۳۰۰ ولټه سلري تختې، دوه دانې بطری، یو دانه کنټرولر د ټولو تجهیزاتو سره او ۲زره ۶۵۰ افغانۍ د دوی د انتقال لپاره ورکړل شوې.

لغمان ولایت کې یو زرو ۲۵۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شوه

د لغمان ولایت د مهاجرینو ریاست د تلې میاشتې په ۶ نیټه یو زرو ۲۵۰ بې ځایه شویو، راستانه شویو او اړمنو ته د کار د زمینې د جوړولو خبر ورکړ.

د لغمان د مهاجرینو د رییس په وینا: یاد پروګرام د پناه غوښتونکو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر په هلو ځلو او مالي ملاتړ په لاره اچول شوی او د دغه پروګرام له لارې به د مهترلام ښار او د الینګار، الیشنګ او دولت شاه ولسوالیو په ټاکلو سیمو کې زر تنه کارکوونکي د یوې میاشتې په موخه د۱۵۰ امریکایي ډالرو په ارزښت د اوبو د لښتیو د پاکوالي په موخه په دندو ګومارل شوي دي، چې کروندګرو ته به د کرنیزو ځمکو د خړوب اسانتیاوې برابرې کړي.

دغه راز ۵۰ تنه ښځینه کارکوونکې د لغمان په ولایتي روغتون د پاکوالي په موخه کې او ۲۰۰ نورې میرمنې د ونو د کینولاو په برخه کې په دنده ګمارل شوې دي.



د ډيو بل خبر له مخې، د لېندۍ په لومړۍ نېټه دغه ولايت د والي په مشرۍ او د اړوند بنسټونو او ادارو په غړيتوب د اړمنو راستنېدونکو لپاره د مرستو د راټولولو او د لازمو اسانتياوو د برابرولو په موخه غونډه جوړه شوه.

د لغمان والي د غونډې له ګډونوالو وغوښتل، چې د مهاجرينو د خدمت او هوساينې په برخه کې لا زياتې هڅې وکړي او له يادو بنسټونو يې هم وغوښتل چې لازياتې مرستې وکړي.

مرستيال والي وويل: ولسونه دې له راستنېدونکو کورنيو سره هر څومره چې ممکنه وي همکاري وکړي؛ تر څو په خپل وطن کې د هوسا ژوند خاوندان شي.

دغه راز د يادو بنسټونو استازو ډاډ ورکړ، چې د نويو پلانونو پر بنسټ يې راستنېدونکو ته ډېرې مرستې ځانګړې کړې او له سروې وروسته به يې ډېر ژر مرستې پرې وويشل شي.

د يادونې وړ ده، چې تر اوسه ۲ زره او ۳۵ کورنۍ په جبري توګه لغمان ولايت ته راستنې شوې او د مرکز او ولسوالیو ېلابېلو موقتي کمپونو ته کډه شوې دي.



نورستان ولايت کې له ٦٩٣ کورنيو سره مرسته وشوه

په نورستان ولايت کې ٦٩٣کورنيو سره د پناه غوښتونکو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ او د ناروې د مهاجرت شورا له لوري د غير خوراکي توکو او نغدي پيسو مرسته وشوه.

يادې شوې کورنۍ چې مخکې د دغه ولايت د مهاجرينو د امريت له لوري سروې شوې او پېژندل شوې وې، هرې کورنۍ ته روغتيايي کڅوړې، د پخلنځي لوښي او ٦١زره ۸۰۰ افغانيو په اندازه نغدي پيسې ورته توزيع شوې.



د ډيو بل خبر له مخې، په نورستان ولايت کې د پيسو په بدل کې د کار د پروژې په پيلېدو سره ۴۲۹ تنو ته د کار زمينه برابره شوه.

دغه پروژه په نورګرام، دو آب، مندول، کانتوا ولسوالیو کې د زنان برای زنان موسسې په مرسته د مهاجرينو چارو رياست تر څارنې لاندې ۳۵۸نرينه او ۷۱ اړمنو ښځو ته کار د پيسو په بدل کې پيل شوه. يادې پروژې د يوې مياشتې د کار په بدل کې ۱۳۲۵۰ افغانۍ کارګرانو ته وېشلې دي.



پکتیا ولایت کې له ۸۲ کورنیو سره مرسته وشوه

د پناه غوښتونکو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر، د مرستو د همغږۍ او مالي کمېټي په همکارۍ په پکتیا ولایت کې پر ۸۲ کورنیو باندې نغدي مرسته ووېشل شوه. یادې مرستې هرې کورنۍ ته ۶۱۸۰۰افغانۍ، د سرپناه جوړولو په موخه ۲۲۶۰۰ افغانۍ په جبري توګه راستنېدونکو کورنیو ته او همدا ډول ۱۰زره افغانۍ خپل اصلي کور ته د لېږدولو په موخه نغدي مرسته وشوه.



خوست ولایت کې له۱۸ زره او ۳۸۹کورنیو سره مرسته وشوه

په خوست ولایت کې د پناغوښتونکو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ دفتر، د ناروې د مهاجرت شورا، برک، رفاه اسلامي، د افغانستان د بشري مرستو نړیوال صندوق، د خوړو نړیوال سازمان، د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ او د کپوو په همکارۍ په ۱۸۳۸۹ کورنیو باندې خوراکي توکي، پرېښنایي وسایل او د نغدو پیسو مرستې وویشل شوې. یادې شوې کورنۍ تر دې وړاندې د دغه ولایت د مهاجرینو د ریاست له لوري په ځائي میدان، صبري، سپیره، دوه منده، ګربز ولسوالیو او د ګلانو په کمپ سروې شوې او پېژندل شوې وې.

یادو شویو هرې یوې کورنۍ ته د سرپناه د ترمیم په موخه د ۲۲۶۰۰، ۲۵۰۰۰، ۶۱۸۰۰، ۳۰۹۰۰ افغانۍ نغدې پیسې، ۴ قلمه خوراکي توکي، د لمریزې برېښنا وسایل او د جامو مرسته ووېشل شوه.



خوست ولایت کې د موسساتو د همغږۍ غونډه جوړه شوه

د خوست ولایت د مهاجرینو چارو ریاست د تلې په ۸ نیټه په دغه ولایت کې د همکارو بنسټونو د همغږۍ غونډې د جوړېدو خبر وکړ.

یاده غونډه د مهاجرینو وزارت د مرستو د همغږۍ رییس شیخ عبدالرحمن رحماني په مشرۍ جوړه شوې وه. په غونډه کې د خوست د مهاجرینو رییس په دغه ولایت کې د موسساتو د پروژو په اړه معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه، چې دا مهال په خوست ولایت ګې د مرکز په ګډون په پنځو ولسوالیو کې د داخلي بې ځایه شویو او راستنېدونکو کورنیو لپاره پنځه پروژې پلې کېږي او تر بشپړېدو وروسته به د ګټې اخیستنې وړ وي.

د مرستو د همغږۍ رییس د یادو موسساتو د استازو د ستونزو له اوربدو وروسته د حل په برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه او هم یې ټینګار وکړ، چې مستحقو کورنیو ته دې لومړیتوب ورکړل شي.

رحماني وويل، ولس په تېرو څو لسيزو کې ډېر کړاوونه ګاللي، د دوی ستونزو ته بايد رسيدګي وشي او د اسلامي امارت د مسؤلينو ټينګار هم همدا دی، چې د دولت د امکاناتو تر څنګ بايد په هېواد کې دننه ملي او نړيوال بنسټونه هم د بې ځايه شويو، راستنېدونکو او اړمنو کورنيو په برخه کې د ستونزو د حل لپاره خدمات وړاندې کړي.



هرات ولايت کې له زلزله ځپلو سره لومړنۍ مرستې وشوې

د ملکي او نظامي څانګو او موسساتو ګډو ژغورونکو ډلو د زلزلې د قربانيانو د ژغورنې سربيره د ۱۴۰۲ کال د تلې مياشتې په ۱۷ نيټه لومړنۍ مرستې هم ورته توزيع کړې.

د هرات ولايت د مهاجرينو رياست د معلوماتو له مخې، د مهاجرينو رياست ، له طبيعي پېښو سره د مبارزې رياست، سره مياشت ، ولايت مقام ، ۲۰۷ الفارق قول اردو، او همکارو موسساتو ګډې ژغورونکې ډلې د مرستې په موخه سيمې ته رسيدلي او په خپلو فعاليتونو يې پيل کړی دی.

سرچينه زياتوي، چې تر اوسه ژغورل شوي کسان او کورنۍ د ښار بېلابېلو چمتو شويو سيمو ته لېږدول شوي دي.

د سرچينې په وينا، د هرات د مهاجرينو رياست د انصار په کمپ کې د قربانيانو د ځای پر ځای کولو په موخه ګڼې خيمې نصب کړې، چې تر اوسه ۳۹۸کورنۍ هلته کډه شوې او پر ۲۵۰کمپلو سربېره يې ۲۰۰جمپرونه هم ورته توزيع شوي دي.

دغه راز د حساس خيريه بنسټ له لوري د سهارنې ډوډۍ وېش او د ډنمارک د مهاجرت شورا له لوري په انصار کمپ کې د ګرځنده روغتيايي کلينيک او نغدي مرستې ويشل شوې. د مهاجرت نړيوال سازمان له لوري د ۱۲۱ خيمو نصبول او د ۱۲۱ بستې د پخلنځي لوښي او پلاستيکي غالۍ ورته ورکړل شوي دي. همدا ډول د WARCHILDموسسې له لوري ۴ لويې خيمې او ۲۵وړې خيمې ورته نصب شوې دي. د تجارت خونې او انصار موسسې له لوري ۲۰۰تختې کمپلې، د شپې ډوډۍ د څښاک پاکې اوبه ورته توزيع شوې. د پاملرنې د موسسې له لوري ۱۲۰تختې کمپلې، ۱۲۰دانې روغتيايي کڅوړې، د شام هرات رستورانت له لوري ۵۰۰ بستې خوراکي توکو مرسته ور سره شوې ده.

د يادونې وړ ده چې په هرات ولايت کې د زلزلې له امله تر ۲۴۴۵زيات شهيدان او ۲۴۴۰تنه ټپيان شوي دي او ښايي د دې شمېر نور هم زيات شي. د زنده جان، رباط سنګي او غوريان ولسوالۍ تر ټولو زيات زيانمنې شوې، چې په ۲۰کليو کې يې ۱۹۸۳کورونه ويجاړ شوي دي.



هرات ولايت کې له ۴۷۷ کورنيو سره نغدي مرسته وشوه

په هرات ولايت کې له ۴۷۷ کورنيو سره د ډنمارک د مهاجرينو شورا نغدي مرسته وکړه. يادې مرستې په هرات ولايت کې زلزلې ځپلو کورنۍ ته ورکړل شوې دي، چې له سروې او پېژندنې وروسته د مرستې وړ ګڼل شوې او هر کورنۍ ته ۱۲زره ۴۰۰ افغانۍ نغدي ورکړل شوې دي.



د یونما دفتر د سیاسي څانګې مسوول او سرپرست رییس د هرات ولایت د مهاجرینو له رییس سره وکتل.

د هرات ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو ریاست د خبر له مخې د افغانستان په لویدیځ زون کې د ملګروملتو دسازمان دسیاسي چارو مسوولې او سرپرست رییس آغلې ګولډن ایروز دتیرې شنبې په ورځ د لړم په ۲۳مه نیټه ددغه ولایت دمهاجرینو له رییس سره وکتل .

په دې ناسته کې له پاکستان او ایران څخه د راستنیدونکو او افغان مهاجرینو د وضعیت، د مهاجرینو او راستنیدونکو لپاره د اسلامي هیوادونو د مرستو، د مهاجرینو د ستونزو د هواري په اړه د اسلامي امارت د رهبر په لارښوونه او د همغږۍ لپاره د ارتباطي پل په جوړولو او د مهاجرینو د ریاست او همکارو موسسو او د یوناما د دفتر ترمنځ په راتلونکي برنامو باندې خبرې وشوې.

سمنګان ولایت کې له ۲۳ زره ۱۶۵کورنیو سره مرسته وشوه

په سمنګان ولایت کې پر ۲۳زره او ۱۶۵کورنیو باندې د پناغوښتونکو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ دفتر، د ډنمارک د مهاجرت شورا، اکشن اید ، بشری صلح سازان افغان ،راه های مبتنی برجامعه بنسټونو په همکارۍ نغدي او روغتیایي مرستې ووېشل شوې.

یادې شوې کورنۍ، چې مخکې د یاد ولایت د مهاجرینو د امریت له لورې په دره صوف بالا وپائین ولسوالیو او د یاد ولایت په نورو سیمو کې سروې شوې او پېژندل شوې وې په مختلفو کټګوریو کې د ۲۷زره ۵۰۰ ، ۲۲زره ۶۰۰، ۹زره ۳۰۰، ۱۲رزه ۴۰۰، ۱۲زره ۸۵۰، 5 زره ۶۰۰، ۸زره ۸۲۳، افغانیو په ارزښت؛ همدا ډول یوه بسته روغتیایي کڅوړه، چې ۱۵قلمه جنس یې درلوده او نورې مرستې پرې وویشل شوې.



سمنګان ولایت کې په جبري توګه د راستنېدونکو د ستونزو د حل په موخه غونډه جوړه شوه

د سمنګان ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو امریت د راپور له مخې د پاکستان څخه په جبري توګه د راستنېدونکو د ستونزو د حل په موخه د مرستو د جلب او جذب کمیټې د یاد ولایت د والي په مشرۍ او د نورو اړوند ادارو د مسوولینو په ګډون د لړم په ۲۴مه نیټه غونډه وکړه. د سمنګان ولایت والي د یادې ناستې موخه له اړمنو راستنېدونکو سره همکاري او چمتووالی وبالله او له مرستندویو بنسټونو یې د همکارۍ او مرستې غوښتنه وکړه او همکارو بنسټونو استازو د خپلو همکاریو ډاډ ورکړ.



پروان ولایت کې له یو زرو ۲ کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د ډنمارک د مهاجرینو اتحادیې، د مرستو د همغږۍ، د مهاجرت نړیوال سازمان او د بشردوستانه مرستو د همغږۍ اداري په همکارۍ په پروان ولایت کې پر یو زرو۲ راستنیدونکو کورنیو باندې نغدي مرسته او ژمنۍ جامې وویشل شوې.

د پروان ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په همکارۍ او د ډنمارک د مهاجرینو د اتحادیې په همغږي او ملاتړ د پورته یادو شویو راستنیدونکو کورنیو څخه هر فرد ته، چې د چاریکار ښار په ۱۲ ښارګوټو کې د کانالونو د پاکولو په موخه ګمارل شوي وو، د کار په بدل کې ۱۷۰ تنه کاریګرو ته ۷ زره ۲۰۰افغاني او ٦ زره ٦٥٠ افغانۍ د یوې میاشتې د کار په بدل کې ورکړل شوې.

همدا ډول هغه کورنۍ، چې مخکې یې سروې شوې وه او اړمن پکې پیژندل شوي و ۲۲زره ٦٠٠ ، ۱۴زره ۸۰۰ افغاني د کوچنیو کاروبارونو د پراختیا او ژمنیو بستې، چې ۱۸ قلمه توکي پکې شامل و، ور سره مرسته وشوه.



د یو بل خبر له مخې د پروان ولایت د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو ریاست د تلې میاشتې په ۳ مه نیټه د دغه ولایت د مرستیال والي په مشرۍ د موسساتو د همغږۍ غونډه جوړه شوه.

مرستیال والي په بیلابیلو برخو کې د یادو بنسټونو د فعالیتونو د ستاینې پر مهال د راستنیدونکو او بې ځایه شویو ستونزو یادونه وکړه او دا یې یو دیني او شرعي مکلفیت وباله.

نومورې له بنسټونو وغوښتل، چې د مرستو د وېشلو او راستنیدونکو او بیځایه شویو ته د کار د موندنې په برخه کې جدي پاملرنه وکړي.

د غونډې په دوام کې سکتوري ادارو او موسساتو د خپلو فعالیتونو راپورونه وړاندې کړل او له راستنیدونکو او بې ځایه شویو سره یې د لا زیاتو مرستو ژمنه وکړه.

دغه راز د مهاجرینو لپاره د مرستو د را ټولولو د کمیټې غونډه د ولایت مقام د مرستیال والي په مشرۍ د موسساتو له استازو سره ترتیب شوه. ګډونوالو د راستنیدونکو لپاره د خدماتو او د مرستو د چمتو کولو ته چمتووالی وښود.



د مرکزي بغلان ولسوالۍ د راستنیدونکو په ښارګوټي کې یو نوی ښوونځی جوړېږي

د بغلان ولایت د مرکزي بغلان ولسوالۍ د بېرته راستنیدونکو په ښارګوټي کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر په همکارۍ یو باب ابتدایي ښوونځي جوړېږي.

د بغلان د مهاجرینو چارو ریاست څخه د ترلاسه شوو معلوماتو په اساس، د یو لړ مراسمو په ترڅ کې چې د بغلان د مهاجرینو د چارو رئیس الحاج محمد ابراهیم عمري او د هغه ولایت د یو شمیر نورو غړو او د TRES BREACH شرکت انجینرانو په کې ګډون کړی وو، چې له اړوندو مسولینو سره یې ترون لري. د تلې په ۱۰ نیټه د یونسیار دفتر ته د ودانۍ د جوړولو دنده وسپارل شوه.

د یادونې وړ ده، چې د یاد ښوونځي په ودانۍ کې ۸ درسي ټولګي، ۵ تشنابونه، سولر سیسټم، د اوبو ذخیره، احاطه دېوال، د ساتونکو خونه، شنه ساحه، د زده کوونکو لپاره د لوبو سامان الات او یوه ژوره څاه شامله ده، چې د ولایت مقام په همکارۍ د پورته ذکر شوي کمشنرۍ دفتر او د مهاجرینو د چارو ریاست تر څارنې لاندې د ټریس برچ شرکت لخوا جوړ شوې دی.



بغلان ولایت کې له ۹۲۳ کورنیو سره مرسته وشوه

په بغلان ولایت کې پر ۹۲۳ کورنیو نغدي او غیر خوراکي توکي د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر، د مهاجرت نړیوال سازمان او د ملي سوداګرو په همکارۍ وویشل شول. یادې شوې کورنۍ پخوا د مهاجرینو د چارو د ادارې له خوا سروې او پیژندل شوې وې، چې له هغې وروسته په بېلابېلو کټګوریو (۷۹ زره او ۱۰۰، ۶۲زره او ۱۰۰، ۵۰ زره، ۹زره، ۲۹زره او ۴۵۰، ۲۲زره او ۶۰۰، ۲۷زره او ۵۰۰، ۷۸زره او ۱۰۰) افغانۍ د کار پیدا کولو په موخه ورکړل شوې او هغو چې مخکې یې لومړی قسط ترلاسه کړی و، دویمه قسط یې هم ترلاسه کړ.



بغلان ولایت کې د تلپاتې تصفیې کمیټې لومړنۍ غونډه جوړه شوه

په بغلان ولایت کې د ثبات او پیوستون د ولایتي کمیټې لومړنۍ غونډه د لړم میاشتې په ۳ نیټه د بغلان ولایت مقام د دفتر رییس په مشرۍ د اړوندو ادارو او همکارو بنسټونو د استازو په شتون کې جوړه شوه.

دبغلان ولایت مقام د دفتر رییس مولوي لعل جان رشید او دمهاجرینو دچارو رییس محمد ابراهیم عمري د راستنېدونکو د ستونزو او د ژمي د سړېدو یادونه وکړه او د هغوی د ستونزو د حل لپاره یې له ادارو څخه د جدي پاملرنې غوښتنه وکړه .

ورپسې د ولایتي بیا مېشتېدنې او تلپاتې تصفیې کمیټې د دندو لایحه وړاندې شوه او غوښتنه وشوه چې د یادې کمیټې هر یو غړی دې د دغه قانون له مخې د راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو د ستونزو په حل کې فعاله ونډه واخلي.

په دې وروستیو کې د مرستندویه ادارو استازو له راستنېدونکو او بې ځایه شویو سره د مرستې او همکارۍ ډاډ څرګند کړ.

د یو بل خبر له مخې، په بغلان ولایت کې د لړم په ۲۷ مه نیټه د داخلي بې ځایه شویو د احتمالي ستونزو او د ناقانونه کډوالۍ د څارنې تر نامه لاندې درې ورځنی ورکشاپ جوړ شو.

یاد ورکشاپ د افغانستان د پرمختیایي انستیتوت په همکارۍ په لاره اچول شوی و او د مهاجرینو د چارو د ادارې لسو تنو کارکوونکو په کې ګډون کړی و.

د ورکشاپ موخه د ستونزو د څارنې د نویو میتودونو سره د کارمندانو د پوهاوي او پیژندنې کچې لوړول دي.

دغه راز دبغلان ولایت دمهاجرینو دراستنولو دچارو ریاست تر څارنې لاندې دبغلان ولایت دامنیتي تیمونو له خوا دسروې او انتخاب شوو ۱۰۱ کورنیو لپاره د۱۰۱ بابه جوړو شویو سرپناوو د سپارلو بهیر پیل شو. یوه سرپناه چې دوه خونې، یو دهلیز او یو تشناب لري په اساسي بڼه د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ له خوا د ۳ زره او ۳۰۰ امریکایي ډالرو په لګښت جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.



هلمند ولايت کې ۱۲۵ کورنيو نغدي مرسته تر لاسه کړه

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر او د ژغورنې نړيوالې کمېټې په همکارۍ په هلمند ولايت کې پر ۱۲۵ اړمنو کورنيو نغدي مرسته ووېشل شوه.

په دوو کتګوريو کې يادې شوې مرستې ۷۹زره او ۴۵۰ او ۱۲ زره افغانۍ وې چې هرې کورنۍ د مهاجرينو رياست له خوا تر پېژندلو وروسته ترلاسه شوې.

د يو بل خبر له مخې، له پاکستان څخه د جبري راستنېدونکو د پېژندنې په موخه ګډه کمېټه جوړه شوه.

د دې کمېټې مشري د سرحدونو او قبايلو چارو وزارت نظامي کارپوه مولوي سراج کوي او مرستيال يې د هلمند د مهاجرينو چارو رئيس مولوي زاهد ، سره مياشت، استخبارات، امنيه قومندانۍ، عامې روغتيا او د احصايې او معلوماتو رياست استازي غړي دي.

د هلمند ولايت په مختار کمپ کې يو روغتيايي مرکز پرانيستل شو

د هلمند ولايت په مرکز لښکرګاه کې د مختار کمپ روغتيايي مرکز د لړم په ۲ نېټه د يو لړ مراسمو په ترڅ کې د سيمه ييزو چارواکو او همکارو بنسټونو په ګډون پرانيستل شو.

د هلمند د عامې روغتيا رئيس ډاکټر سيد احمد سعيد په وينا، يادشوی مرکز د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ په مرسته د ۲۷۸ زره ۹۶۹امريکايي ډالرو په لګښت د مختار کمپ اوسېدونکو ته د روغتيايي خدمتونو د وړاندې کولو په موخه د مهاجرينو د چارو رياست سره په همغږي، د اړتيا وړ تجهيزاتو او ظرفيت په درلودلو سره جوړ شوی او د ۶۵زره کورنيو لپاره ۲۴ساعته خدمات وړاندې کوي. د مرکز د پرانستې په مراسمو کې د هلمند ولايت استازي مولوي ثاقب او د مهاجرينو د چارو د هغه ولايت رئيس مولوي الله داد انقيادي د موضوع په اړه خبرې وکړې او د همکارو بنسټونو له همکارۍ يې مننه وکړه. د سيمې د خلکو استازي د دغه روغتيايي مرکز په پرانېستلو خوښ دي او وايي، چې د دغه مرکز له پرانېستل کېدو مخکې يې روغتيايي خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې له ستونزو سره مخ وو.

د هلمند د مهاجرينو چارو رئيس د هېواد په سويل لوېديځه حوزه کې د ملګرو ملتونو د کډوالو اداري له مشري سره وکتل.

د هلمند ولايت د مهاجرينو چارو رئيس مولوي الله داد انقيادي د لړم مياشتې په ۲ مه نېټه په خپل کاري دفتر کې ، په جنوب لويديځه حوزه کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ له مشري مېرمن مسعودي سره وکتل.

په دې کتنه کې له ايران او پاکستان څخه د کډوالو د جبري او داوطلبانه شړلو او له هغوی سره د مرستې د څرنګوالي په اړه خبرې وشوې.

اغلې مسعودي وويل، د هر راستنيدونکي لپاره چې نوم يې په کمېشنرۍ کې ثبت دی، د بيرته راستنيدو په صورت کې به ۳۷۵ ډالره او نور راستنيدونکي به ۲۵ سلنه تر پوښښ لاندې راولي.

نومورې وويل، چې يادې کمېټه له راستنېدونکو سره د مرستې تر څنګ د کورونو، د اوبو د شبکې، پلونو، ښوونځيو او کلينيکونو د جوړولو پلان هم لري، چې دا مهال د يادو پروژو ډېره برخه د هلمند په مرکز او ولسوالیو کې پلې شوې او يا هم تر کار لاندې ده.

هغه دغه راز ژمنه وکړه چې د راستنېدونکو لپاره به د خدماتو د وړاندې کولو لپاره ځای چمتو کړي



هلمند ولايت کې د دريو پروژو د پلې کولو کار پيل شو

د هلمند ولايت د مهاجرينو او راستنيدونکو چارو رياست د لړم مياشتې په ۲۰ نېټه د دريو پروژو د کار د پيل خبر ورکړ، چې په کې يو پارک او د اوبو رسولو دوه شبکې شاملې دي.

د دغه ولايت د مهاجرينو چارو رئيس د معلوماتو له مخې، يادې شوې پروژې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ په مالي مرسته د لښکرګاه ښار د درېيمې ناحيې په بولان او نهرسراج سيمو کې د بې ځايه شويو کورنيو لپاره پيل شوې ده.

سرچينې زياته کړه، چې يادې پارک ۱۱ زره او ۹۰۰متره مربع ځمکه لري، چې په کې د والیبال او کرکټ ميدانونه او کتابتون هم شامل دی.

د يادو شويو پروژو د جوړولو لګښت ۷۷۵زره ۸۱ امريکايي ډالره دی، چې د شپږو مياشتو په موده کې به بشپړ شي او ٦٨٠ کورنۍ به تري ګټه واخلي.



د تلپاتې تاسيساتو د کمېټې درېيمه غونډه په بلخ ولايت کې جوړه شوه

د راستنيدونکو او داخلي بې ځايه شويو د تلپاتې مېشتېدنې د کميټې دريمه ناسته د بلخ ولايت مقام د سرپرست مولوي سلطان محمد سعيد په مشرۍ د سکتوري ادارو د رئيسانو او د ملي او نړيوالو بنسټونو د رئيسانو په حضور د تلې مياشتې په ۴ مه نېټه د همدې ولايت د غونډو په تالار کې جوړه شوه.

هلمند ولايت کې د ملکيتونو د حقوقو او مدني اسنادو د پوهاوي پروګرام ترسره شو

د املاکو د حقوقو او مدني اسنادو د ګټو په اړه د پوهاوي پروګرام د لیندۍ مياشتې په ۱۴ مه نېټه په هلمند ولايت کې د مهاجرينو چارو رياست له خوا د راستنيدونکو او بې ځايه شويو لپاره د ARDA موسسې په همکارۍ ترسره شو.

يادې شوی پروګرام د هغه ولايت د مهاجرينو چارو رياست له خوا جوړ شوی و او د بېځايه شويو او راستنېدونکو په يوه غونډه کې ګډون کړی و.

د دغه پروګرام په ترڅ کې د مهاجرينو د چارو رياست استازي حاضرينو ته د تذکرې، د نکاح د سند او نورو مدني اسنادو د ترلاسه کولو او ګټو په اړه معلومات ورکړل.

د دې پروګرام له پيلولو څخه موخه دا ده چې بې ځايه شوي او راستانه شوي کسان وهڅول شي چې خپل هويت کارتونه، د واده سندونه او نور مدني اسناد له اړوندو دولتي ادارو څخه ترلاسه کړي. په وروستي پروګرام کې ګډون کوونکو ته ۴۰۰ افغانۍ ورکړل شوې. تاکل شوې چې دغه پروګرام په راتلونکو ورځو کې هم په دغه ولايت کې د سلګونو کسانو لپاره دوام وکړي



د غونډې موخه په دغه ولایت کې د راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره د لا زیاتې همغږۍ رامنځته کول او مرستې ترلاسه کول وو.

د بلخ د ولایتي دفتر رئیس مولوي اسدالله وفا او دهغه ولایت د مهاجرینو رییس د یادو بنسټونو له همکارۍ څخه د مننې ترڅنګ د راستنیدونکو او بې ځایه شویو د ستونزو او اړتیاوو د حل په برخه کې د لا زیاتې همغږۍ پر رامنځته کولو ټینګار وکړ.

ورپسې د راستنیدونکو شمېر او اړتیاوې، چې د بلخ ولایت په کچه د راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو په معلوماتي سیستم کې ثبت شوې وې، د غونډې له غړو سره شریکې شوې.

د سکتوري ادارو او ملي او نړیوالو بنسټونو استازو د خپلو وروستیو دندو او نویو پروګرامونو په اړه معلومات وړاندې کړل.

د مهاجرت د نړیوال سازمان د دفتر رییس په بلخ ولایت کې د ۱۱۳ راستنېدونکو او بېځایه شویو کسانو لپاره د حرفوي زده کړو او د وسایلو د وېش د پیل په مراسمو کې وویل چې په راتلونکي کې به له ایران څخه د راستنېدونکو څه د پاسه ۷۲۰ کورنۍ مهاجرینو د چارو ریاست سره په همغږۍ کې سروې اوورسره به نغدي مرستې وشي.

د اکتید مؤسسې استازي د مهاجرینو چارو وزارت تر منځ د هوکړه لیک د لاسلیک یادونه وکړه او زیاته یې کړه، چې د ۲۰۰۰ کورنیو لپاره د نغدي مرستو ترڅنګ به د راسنېدونکو په سیمو کې د ژورو څاګانو ۴ حلقې ترمیم شي.

ورپسې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ استازي د خپلو پروژو د تطبیق په اړه معلومات ورکړل او د تطبیق په برخه کې یې د مهاجرینو چارو له ریاست څخه د لا زیاتو همکاریو غوښتنه وکړه.

بلخ ولایت کې له ۲ زره ۹۴۷ اړو راستنېدونکو کورنیو سره مرسته وشوه

په بلخ ولایت کې له ۲ زره او ۹۴۷جبري راستنېدونکو کورنیو سره د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې، د صابون د تولید وسایل، پاخه شوي خواړه او نغدې پیسې، د ژمنیو جامو بسته د پکو، هلال ابي خیریه بنسټ، دافغانستان د امریکا د دوستۍ بنسټ، د نړیوې د مهاجرت شورا ، یونیسف، رفاه اسلامی، بشیر نوید شرکت، د بیړنیو حالاتو کمیټه، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ سازمان، اکتید، صراط الجنت خیریه بنسټ، کمال نبی زاده بنسټ او(QASE) دفترونو په همکارۍ وویشل شول.

یادې شوې کورنۍ د مهاجرینو چارو ریاست لخوا په موقتي کمپ کې د یاد ریاست له خوا وپیژندل شوې او هرې کورنۍ ته د خوراکي توکو د بستې په شمول ۸ ډوله توکې او د ژمنیو جامو کڅوړې، د روزنیز کورس وروسته د صابون د تولید ۱۲ډوله توکي، پاخه شوې خواړه.

په ببلابلو کټګوریو کې ۷ او ۱۰ ډوله خوراکي توکي او نغدې پیسې چې ۲۱زره ۴۰۰، ۳۵زره ۵۰۰، ۴زره ۵۰۰، ۲۲زره ۶۰۰، ۲۷زره ۵۰۰، ۱۲زره ۴۰۰، ۱۸زره، ۲۹زره ۴۰۰، ۲۰زره ۴۷۰ افغانۍ دي.

د چرګانو د شرکتونو له خوا د ۳۰۰کیلو چرګانو غوښه د ۵۰زره، ۲۰ زره ۹۸۰، ۲۰زره ۵۳۵او ۳زره افغانیو په ارزښت د دغه ولایت د بیړنیو حالاتو د کمیټې تر څارنې لاندې په موقتي کمپ وویشل شوه.

د یو بل خبر له مخې، په بلخ ولایت کې د راستنېدونکو د ستونزو د حل په موخه یما پټرولیم ۲۰زره امریکایي ډالره او کام ایر۲ هوایي شرکت له پاکستان څخه په زوره راستنېدونکو سره د پنځه میلیونه افغانیو نغدي مرسته وکړه او د کمال نبي زاده خیریه بنسټ له کورنیو سره ۲۰زره امریکایي ډالره او ۲۱تختې کمپلې د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو ریاست ته ډالۍ کړې .





بلخ ولایت کې د جبري راستنېدونکو لپاره د مرستو د چمتو کولو په موخه غونډه جوړه شوه.

د بلخ ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست د لړم میاشتې په ۱۳ نېټه له جبري راستنېدونکو سره د مبارزې او د کار جوړولو په مقصد د بلخ ولایت د والي دمرستیال تر مشری لاندې یوه غونډه جوړه کړه.

د غونډې موخه دا وه چې د امیرالمؤمنین د لارښوونو سره سمه باید یوه کمېټه جوړه شي او یاده کمېټه چې د دولتي ادارو له چارواکو څخه جوړه ده، د خپلو اسانتیاوو سربیره مکلفه ده، چې د عامه غونډو له لارې راستنېدونکو ته مرستې ورسوي.

د بلخ مرستیال والي مولوي نورالهادي ابو ادریس وویل، ټولې اداري باید په ببلابېلو برخو کې د خدماتو په وړاندې کولو کې لکه: سرپناه، خوراکي توکي، روغتیایي خدمات، امنیت، د ترانسپورت لپاره وسایط، ثبت او د راستنېدونکو لپاره د لنډ مهاله کمپ جوړولو له پاره باید پوره چمتووالی ولري

په دې غونډه کې د اجباري راستنېدونکو لپاره ځانګړې کمېټه د مهاجرینو د رئیس په مشری جوړه شوه او هغې ته دندې او مسوولیتونه وټاکل شول.



د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو رئیس د ملګرو ملتونو د عالي کمشنری له مرستیال سره وکتل.

د بلخ ولایت د مهاجرینو او راستنیدونکو چارو رئیس د لړم په ۲۹ مه نېټه په خپل کاري دفتر کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنری له مرستیال او ورسره مل پلاوي سره وکتل او خبرې یې وکړې.

د یادې اداري مرستیال محمدجبار وویل، بلخ ته یې د سفر موخه د یادې اداري د فعالیتونو څارنه او له پاکستانه د جبري راستنېدونکو د ستونزو اوربدل دي.

هغه له هغو مجبورو راستنېدونکو سره چې اسناد لري او اسناد نه لري او دوی نه شي کولی په پولو کې له مرستو څخه برخمن شي ، د هغو د مرستو لپاره د مرکز د جوړېدو او دغه راز په راتلونکي کال کې د مهاجرینو چارو ریاست په همکاری د سرپناه د جوړېدو خبر ورکړ. .

د بلخ ولایت د مهاجرینو چارو رییس مولوي اسدالله وفا ددغه هیئت دنبه راغلاست په ترڅ کې دهغوی دپریکړه لیک هرکلی وکړ او ویې ویل: راستانه شوي مهاجرین له ګڼو ستونزو سره مخ دي او دغه ریاست د خدمتونو او اسانتیاوو په برابرولو بوخت دی، نومورې له راستنېدونکو سره په ببلابېلو برخو کې د یاد کمیسون څخه د زیاتو مرستو غوښتنه وکړه.



د بلخ مرستیال والي په شمال زون کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر له مشر سره وکتل.

دبلخ ولایت د مهاجرینو دراستنېدونکو چارو ریاست د خبر له مخې، دبلخ ولایت مرستیال مولوي نورالهادي ابو ادریس د لیندۍ په ۲۶ مه نېټه په شمال زون کې دملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر له رییس ښاغلي نوا او له مل پلاوي سره وکتل.

په دې کتنه کې دواړو لورو د روغتیا، پوهنې، سرپناه جوړولو، څښاک، اوبو، له مهاجرینو او راستنیدونکو سره د مرستو پر دوام ټینګاروکړ، او د ۲۰۲۴ کال له پاره د پلان جوړول او د خلکو اړتیاوو ته د لومړیتوبونو ورکولو په اړه بحث او خبرې وکړې.

بناغلي نوا د شمال زون د دفتر د فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل: دغه دفتر په شمال زون کې د ملګرو ملتونو له دفترونو سره په همغږۍ ۴۰۱ میلیونه وګړي د ببرنیو خدمتونو، د خوړو خوندیتوب، روغتیا او حفظ الصحې، د څښاک پاکو اوبو، تغذیې، تعلیم، ملاتړ، قانوني خوندیتوب، بیړنۍ سرپناه جوړول او بیړنۍ پروژې تر پوښښ لاندې نیسي.

بناغلي نوا زیاته کړه چې دغه دفتر د ژمني پوښاک ۹۰ سلنه مرستې له هغو مهاجرینو او راستنیدونکو سره چې له پاکستان او ایران څخه په زوره ایستل شوي برابرې کړې دي.

سربیره پر دې د پوهنې په ریاست کې له هغو ۷۹ زره زده کوونکو سره چې زده کړو ته یې لاسرسی نه درلود او د ولسوالیو په لرو پرتو کلیو او بنارګوټو کې اوسیږي، تر مالي او تحصیلي ملاتړ لاندې نیول شوي دي.

مولوي نورالهادي ابودریس د شمال زون خلکو ته د خدمتونو د وړاندې کولو له املې مننه وکړه او ویې ویل: د اسلامي امارت رهبري د ټولو هغو مؤسسو امنیت او ملاتړ کوي چې په افغانستان کې فعالیت کوي او په بېلابېلو برخو کې مرستې او اسانتیاوې برابروي.

مرستیال والي له دوي غوښتنه وکړه چې په شمال کې د خلکو اړتیاوي د خپل پلان په لومړیتوبونو کې ځای پر ځای کړي او د اوږدمهاله پروژو پلي کول چې د ټولنې لپاره اغیزمنې او ګټورې وي عملي شي.

مرستیال والي د بلخ په ولسوالیو کې د څښاک د پاکو اوبو، روغتیا، پوهنې، د پلونو او پلچکونو جوړولو، ښوونځیو او سړکونو په برخو کې د مرستو د زیاتېدو غوښتنه وکړه.



راستنېدونکو سره د مرستې په موخه په ننګرهار ولایت کې د ادارو او مؤسسو غونډه ترسره شوه

له پاکستان څخه راستنېدونکو مهاجرینو ته د مرستو د جلب او چمتووالي په موخه د ننګرهار ولایت د مرستیال والي په مشرۍ او د بېلابېلو ادارو او مؤسسو د استازو په ګډون د وړې میاشتې په ۳۰ مه نېټه د هغه ولایت په مرکزي دفتر کې غونډه جوړه شوه.

د غونډې په پیل کې د ننګرهار مرستیال والي مولوي سعید احمد بنوري هغه ولایت ته د راستنېدونکو د زیاتوالي په اړه معلومات ورکړل او له مرستندویه ادارو یې وغوښتل، چې له دوی سره په بېلابېلو برخو کې مرستې وکړي او د ژمنیو مرستو په رسولو کې دې له اوس څخه لاس په کار شي.

د مهاجرینو چارو رییس حاجي باز محمد عبدالرحمن وویل، چې په دې وروستیو کې د تورخم له لارې ۱۷ زره او ۸۲۷ کډوالي کورنۍ هېواد ته راستنې شوې دي، چې له دې کورنیو څخه ۱۳ زره او ۲۰۰ کورنۍ په ننګرهار ولایت کې مېشتې دي، چې ډېرې یې لومړنیو مرستو او سرپناه ته اړتیا لري.

له بلې خوا د پوهنې ریاست استازي وایي، چې دوی چمتو دي، چې راستانه شوي زده کوونکي جذب کړي اوپه دې برخه کې د درسي موادو اوکتابونو چمتو کولوهمکارۍ ته اړتیا لري. د مهاجرت د نړیوال سازمان استازي وویل چې هره ورځ شاوخوا ۲۰۰ کورنۍ د تورخم له لارې هېواد ته راځي او هرې کورنۍ ته ۷ زره افغانۍ نغدي او د اړتیا وړ توکي وېشي او د دې ترڅنګ ۵۰۰ راستنېدونکو او ۸۵ نورو کسانو ته د کار زمینه هم برابرېږي.

د نورو ۲۰۰۰ کورنیو لپاره، ۲۱۰ ډالر د ژمنیو مرستو په توګه په پام کې نیول شوي.

نومـوړي زياتـه کـړه، چـې د مومنـد دره ولسـوالۍ د ښـوونځي د ودانـۍ د جوړېـدو په موخـه پـه نـورو برخـو کـې هـم د روغتيـا رياسـت مرسته کوي.

د ډاکار موسسـې مسـوول ووېـل، چـې دوی لـه راسـتنېدونکو سره د نغدي مرستو، پاکو اوبو او کرنې په برخو کې مرستې کوي.

د ډنمـارک د مهاجرينـو ټولنـې اسـتازي پـه تورخـم کـې لـه ٦٤بـې ځايـه شـويو او پـه اچيـن ولسـوالۍ کـې لـه ٤٩کورنيـو سره د ١٩زره ٥٠ ډالـرو مرسـتې پـه يادولـو سره لـه راسـتنيدونکو سره د خپلـو مرسـتو د دوام ډاډ ورکـــــړ.



ننګرهـار ولايـت کـې لـه پاکسـتان څخـه د افغـان کډوالـو د جبري راستنېدونکو په اړه بيړنۍ ناسته وشوه

د ننګرهـار ولايـت د مهاجرينـو چـارو رياسـت د تلـې پـه ١١مـه نېټـه لـه پاکسـتان څخـه د افغـان مهاجرينـو د جبري راسـتنيدو پـه اړه د بيړنـۍ ناسـتې د جوړولو اعلان وکړ.

د غونـډې برخـه والـو پـه يـاده ناسـته کـې د هغـو راسـتنېدونکو د سـتونزو پـه اړه خپـل وړانديزونـه او نظرونـه څرګنـد کـړل چـې پـه زوره شړل شوي دي.

پـه يـاده ناسـته کـې د ننګرهـار ولايـت د مهاجرينـو چـارو رئيـس حاجـي بـاز محمـد عبدالرحمـن لـه راسـتنېدونکو کورنيـو سره د خيريـه بنسټونو د مرستې غوښتنه وکړه.

د راسـتنېدونکو د سـتونزو د هـواري د کمېسـيون مرسـتيال فضـل البـاري فـضلي د همـکارو بنسـټونو د تېـرو مرسـتو د سـتايني پـه تـرڅ کـې له جبري راستنېدونکو سره د مرستې غوښتنه وکړه.

او پـه دې برخـه کـې يـې د خپلـې همـــــــــکارۍ ډاډ ورکړ.



د کډوالـو پـه چـارو کـې د ملګـرو ملتونـو عـالي کمېشنرۍ د تورخـم پـه سـيمه کـې د جبري راسـتنېدونکو لپـاره يـو سربنـد، د اوبـو ذخيـره، تشـنابونه او يـو تفريحـي پـارک جوړوي

د لـړم پـه ٤ مـه نېټـه د ننګرهـار ولايـت د مهاجرينـو چـارو رئيـس بـاز محمـد عبدالرحمـن او د کډوالـو پـه چـارو کـې د ملګـرو ملتونـو د عـالي کمېـشنرۍ د مشر تـر منـځ پـه جـوړه شـوې غونـډه کـې د يـاد دفتر مسـوولينو پـه يـاده سـيمه کـې د راسـتنېدونکو لپـاره د ١٠مترو پـه اوږدوالي او ٢٤ مترو پـه سـور سره د خېمـود د درولـو يادونـه وکـړه او همدارنګـه دوی زياتـه کـړه چـې د راسـتنېدونکو لـه پـاره بـه د 2 زره لـېترو پاکـو اوبـو ذخيـره، يـو سربنـد، تشـنابونه او يـو تفريحـي پـارک برابـر کړي.

پـه دغـه ولايـت کـې د همـکارو بنسـټونو پـه اسـتازيتوب د شرقـي زون مشر ډاکټـر عـالم د جـوړ شـوي پلان لـه مخـې د همـکارۍ ډاډ ورکړ.

د يـو بـل خبر لـه مخـې، د ننګرهـار والي مـل پاسـوال محمـد نعيـم اخنـد د اقتصـاد لـه رئيسـانو، مهاجرينـو او قومـي مخـورو سره د تلـې پـه ٣٠ مـه نېټـه د لعـل پـورې ولسـوالۍ پـه مربوطاتـو کـې لـه پاکسـتان څخـه د جبري راسـتنېدونکو د استوګنې پـه موخـه د جـوړ شـوي موقتـي کمپ څخه ليدنه وکړه.

يـادو مسـوولينو د تورخـم پـه فـرضي پولـه کـې د روغتيايـي او طبـي مرکزونـو، د جبري راسـتنېدونکو کورنيـو د ثبـت او نـورو برخـو څخـه هـم ليدنـه وکـړه او د راسـتنېدونکو د سـتونزو د حـل پـه موخـه يـې د اړوندو ادارو کارکوونکو ته لازمې لارښوونې وکړې.

د يادونـې وړ ده، چـې لـه پاکسـتان څخـه پـه زوره راسـتنې شـوې کورنـۍ يـوازې د څـو ورځـو لپـاره پـه موقتـي کمپونـو کـې ځـای پـر ځای کېږي او بيا خپلو اصلي سيمو ته لېږل کېږي.

د يـو بـل خبر له مخـې، د اسلامـي امـارت لخـوا د تورخـم پـه سـيمه کـې لـه پاکسـتان څخـه د اجبـاري راسـتنو شـويومهاجرينو د رسـېدو پـه موخـه يـوه بـل انتظارځـای چـې ۵۰ متره اوږدوالـی او۱۰ متره سـور بـه لـري جوړيـږي او همـدا راز د خالـد بـن وليـد قـول اردو موټـر د جبري راستنيدونکو د کورنيو د ليږد رالږد د انتقال لپاره همکاري کوي.

د تورخـم پـه پولـه کـې د جبري راسـتنېدونکو لپـاره د لابراتـوار او غابنـونو د روغتيـا رياسـت د فعاليتونـو تـر څنـګ، د دغـه قـــول اردو پـه همـکاري، د څښـاک د اوبـو د څاګانـو د کينډلـو پـه برخـه کـې د ٦٥ اوبـو د زخيـرو پـه مرسـته د خدمتونـو د وړانـدې کولـو پـه موخـه همکاري وکړه.



ننګرهار ولايت کې له ۳زره ۹۲٦ کورنيو سره مرسته وشوه

پـه ننګرهـار ولايـت کـې د (نړيوالـې ژغورنـې کميټـې، د ډنمـارک د مهاجـرت شـورا، د نـاروې د مهاجـرت شـورا، د مهاجـرت نړيـوال سـازمان، د کډوالـو پـه چـارو کـې د ملګـرو ملتونـو د عـالي کمېشنرۍ، د ژغورنـې کميټـې) پـه همـکاري پـه پـر درې زره او ۹۲٦ اړو راسـتانه شويو کورنيو نغدي او خوراکي توکي وويشل شول.

پـه يـادو شـويو کورنيـو کـې بـې ځايـه شـوي، راسـتنېدونکي، بـې کـوره، معيـوب، ناروغـه او زيانمنـې شـوې کورنـۍ شـاملې دي، چـې پخـوا د دغـه ولايـت د مهاجرينـو چـارو رياسـت لـه خـوا پـه سرخـرود او بهسودو ولسوالیو کې مستحقې پيژندل شوې وې.

پـه يـادو مرسـتو کـې هـرې کورنـۍ تـه پـه ېيلابېلـو برخـو کـې ۱۵زره، ۱۵زره او ۵۰۰ ، ۱۳زره، ۱۴زره، ۱۸زره، ۱۷زره، ۱۴زره ۵۰۰، ۱٦زره ۵۰۰، ۱۲زره، ۲۱ زره ۴۵۰، ۲۷زره، ۲۳زره افغانـۍ ورکـړل شوې.

دوی د مهاجرينـو چـارو رياسـت تـر څارنـې لانـدې ٦۱ زره ۸۰۰ او ۱۳ زره ۸۰۰ افغانـۍ نغـدې او څلـور صندوقـه خوراکـي توکـي، يـوه د تودوخـې دسـتګاه، دوه سـولره، دوې بټـرۍ، او د تخـم او سـبزيجاتو يوه کڅوړه وويشله.





د يـو شـمېر نړيوالـو موسسـو اسـتازو د کندهـار د سـپين بولدک له فرضي پولي څخه ليدنه وکړه

د کندهـار ولايـت د مهاجرينـو دراسـتنولو چـارو رياسـت د معلوماتـو لـه مخـې، د کندهـار ولايـت دمهاجرينـو چـارو د ادارې يـو شـمير اسـتازو د لـړم مياشـتې پـه اوومـه نېټـه د سـپين بولـدک لـه فرضـي پـولي څخه ليدنه وکړه.

سرچينـه زياتـوي، چـې پـه دې سـفر کـې د کډوالـو پـه چـارو کـې د ملګـرو ملتونـو د عـالي کمېشنرۍ د سـوېلي حـوزې مشرې کريسـتينا، د ماشـومانو د سـاتنې د څانګـې مشرې هاليـپ، د يونيسـف عمومـي رييـس پـران سـيز او د ملګـرو ملتونـو د خلکـو د ټولنـې مشرې کنينتـا هـم پـه کـې شـامل دي. فنـډ د يـادې شـوې پولـې او لـه پاکسـتان څخـه د کډوالـو د راسـتنېدو د بـهير د ليدنـې پـر مهـال لـه مولـوي ولي سره د کندهـار د مهاجرينـو د چـارو رئيـس جـان بـادام او د سـپين بولـدک د سرحـدي ادارې مسـؤول د جبري راسـتنېدونکو د سـتونزو، د هغـوی لپـاره د خدمتونو او د ژوند د شرايطو په اړه خبرې وکړې.

مېرمـن کريسـتينا پـه صفـري نقطـه کـې د ملګـرو ملتونـو د کمېشنرۍ پـه مرسـته د جبري راسـتنېدونکو لپـاره د څښـاک د اوبـو د برابرولـو او د انتظار خونې د جوړولو په اړه معلومات ورکړل.

دغـه راز د نـورو ادارو اسـتازو هـم د راسـتنېدونکو د سـتونزو د حـل په موخه د همکاري ډاډ ورکړ.

د يـو بـل خبر لـه مخـې، د البدريـک د ۲۰۵ اتـل قـول اردو د دې ادارې د ګارنيزيـون د قومانـدان پـه مشرۍ، لـه يـو ۱۰۰ بسترېـز روغتـون څخـه د ېيلابېلـو وسـايطو او د ډاکټرانـو يـوه ډلـه د خدماتـو د وړانـدې کولـو پـه موخـه ګمارل شـوې ده. د معلوماتـو لـه مخـې د راسـتنيدونکو د ثبـت او راجسـتر لپـاره پـه کندهـار ولايـت دوه تـم خونـې جـوړې شـوې او د ۲۰ ګرځنـده تشـنابونو او د اوبـو سـمبال ټانکرونـو سربېـره اړين تدابير نيول شوي ترڅو راستنيدونکو ته ډوډۍ وويشي.

د سپين بولدک په سرحدي سيمه کې د ۵۰.۱۵ مترو په اوږدوالي د يوه سربند د جوړولو کار بشپړيدو ته نږدې دی او د سپين بولدک د عالي ليسې په کمپ کې ۱۰ خېمې، ۴ ټانکرونه او ۴ تشنابونه ګټې اخيستنې ته چمتو شوي او د ښوونځي انګړ هم په کې شتون لري.

دغه راز د تخته پول ولسوالۍ په کمپ کې هم د څاه کيندلو او د نلونو د غځولو چارې پيل شوې او د اوبو ٦ ذخيرې نصب او ګڼ شمير کمپونو ترميم شوی دی.



کندهار ولايت کې ۵۰۰ کورنيو مرسته تر لاسه کړه

د سپين بولدک په پوله کې له پاکستان څخه په ۵۰۰ جبري راستانه شويو کورنيو خوراکي توکي وويشل شول .

له پاکستان څخه د جبري راستنېدونکو هرې کورنۍ ته د اتصالات مخابراتي شرکت له خوا چې پکې ۷ ډوله خوراکي توکي شامل وو ، د کندهار د مهاجرينو چارو رياست تر څارنې لاندې ووېشل شول .



جوزجان کې له پنځه زره او ۲۳۵ کورنيو سره مرسته وشوه

پنځه زره ۲۳۵ راستنېدونکو کورنيو ته د مهاجرت نړيوال سازمان، اجتماعي رفاه، د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ او د مرستو د همغږۍ اداري، اکتيد، د طبيعي پېښو پر وړاندې د مبارزې اداري، د ترکيې د سوداګرو مدنيت بنسټ او يونيسف موسسې په همکارۍ نغدي مرسته ووېشل شوه.

دغه کورنۍ پخوا د جوزجان ولايت د مهاجرينو رياست لخوا په آقچه، فيض اباد او مرکزي ولسوالیو کې پيژندل شوې وې او د هرېکورنۍ لپاره په بيلابيلو کټګوريو کې ۲۴زره ۶۰۰، ۶۱زره ۶۰۰، ۲۷زره ۵۰۰، ۲۲زره ۶۰۰، ۴۳زره ۹۰۰، ۴۱زره، ۷۵زره ۲۰۰، ۶۱زره ۸۰۰افغانۍ د سرپناه د جوړولو په موخه ووېشل شوې، همدارنګه د دغه ولايت مرکز شبرغان ښار په ۹ کليو کې چې د مهاجرينو د اداري له خوا سروې او پيژندګلوي شوي وو، ۲۰۰کورنيو هرې يوې ته د وړيو اوبدلو ماشين، سولر، يوه اندازه وړۍ د مهاجرينو رياست د استازي په شتون کې ووېشل شوې.

د جوزجان ولايت د مهاجرينو رياست د تلې په ۱۸مه يې د دغه ولايت د والي په حضور کې د ۱۸ سرپناوو د جوړولو خبر ورکړی.

د جوزجان د مهاجرينو رييس په وينا، دغه سرپنا د صدقه خيريه بنسټ په مالي مرسته د مهاجرينو د رياست په همغږۍ د هغو ۱۸ کورنيو لپاره چې څو کاله وړاندې له فارياب ولايت څخه جوزجان ته ښځايه شوي وو او خېمو کې مېشت وو، جوړې شوې دي.



سرچيني زياته کړې، چې جوړې شوې سرپناوې يوه د ناستې خونه، دهليز، تشناب او پخلنځی لري، چې د ۱۷۰ امريکايي ډالرو په لګښت جوړې شوې دي دغه شوي سرپناه د ننګرهار والي او د مهاجرينو رييس قاري ګل حيدر شفق په شتون کې ګټې اخيستنې ته وسپارل شوې.

دغه راز د جوزجان ولايت دمهاجرينو رياست د لړم پر ۱۹ نيټه په دغه ولايت کې له پاکستان څخه په جبري توګه راستنو شويو مهاجرينو ته د مرستو راټولولو کمپاين پيل کړ.

د جوزجان والي قاري ګل حيدر شفق د متقابل منلو، يووالي او پيوستون په اړه خبرې وکړې او د راستنېدونکو د ستونزو په حل کې يې له ټولو ادارو څخه د همکارۍ غوښتنه وکړه.

د جوزجان والي قاري ګل حيدر شفق د يو بل منلو، يووالي او همغږۍ په اړه خبرې وکړې او د راستنېدونکو د ستونزو په حل کې يې له ټولو ادارو څخه د همکارۍ غوښتنه څرګنده کړه.



بادغيس ولايت کې له ۳۷۰ کورنيو سره مرسته وشوه

د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ، د ناروې د مهاجرت شورا او د ډنمارک د مهاجرت شورا په همکارۍ بادغيس ولايت کې پر ۳۷۰ بې ځايه شويو او راستنيدونکو کورنيو نغدي مرسته وويشل شوه.

په يادوکورنيو کې هغه بې ځايه شوي کسان هم شامل دي، چې پخوا يې د بادغيس په مرکز قلعه نو او کرايي کورونو کې اوسېدل او اوس د بالامرغاب، جوند، غورماچ، مقر، دره بوم، قادس او ابکمري ولسوالیو خپلو اصلي ځايونو ته کډه شوي دي.

دې مرسته کې (۱۷۵) کورنيو ته چې هرې کورنۍ ته د ۷۹زره او ۴۵۰ افغانيو او (۴۵) نورو کورنيو ته د کار او کوچنيو کاروبارونو د رامنځته کولو په موخه د ۵۰زره او ۳۰زره افغانيو په ارزښت ورکول کېږي. او نورو کورنيو ته په بيلابيلو کټګوريو کې ۱۶ زره، ۱۷ زره، ۱۴ زره، ۱۲ زره او ۷۰۰ افغانۍ د ژوند د نورو برخو په موخه د مهاجرينو د چارو د اداري د استازي په حضور کې وويشل شوې.



بامیانو ولایت کې د راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شویو د تلپاتې مېشتېدنې کمیټې غونډه جوړه شوه.

د راستنېدونکو او داخلي بې ځایه شویو د تلپاتې مېشتېدنې د کمیټې غونډه دتلې په ۲۶مه نیټه دولتي چارواکو او د ملي او نړیوالو بنسټونو د رئیسانو په حضور کې جوړه شوه.

د غونډې له جوړیدو څخه موخه د ولایت په مرکز او ولسوالیو کې د راستنیدونکو او راستانه شویو کورنیو سره همغږي او د مرستو ترلاسه کول وو.

مولوي فضل عمراخندزاده د مهاجرینو چارو امر د راستنېدونکو او بې ځایه شویو خلکو د ستونزو په حل کې د اسانتیاوو په برابرولو کې د اړوندو ادارو له همکارۍ مننه وکړه او د لا زیاتې همغږۍ او همکارۍ غوښتنه یې وکړه.

بیا د راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو احصایې او شمیر په برخه کې د حاضرو شریکانو او ګډون کوونکو سره د همکارۍ ژمنه وکړه.



ارزګان ولایت کې ۱۹۱۰ کورنۍ له مرستو برخمنې شوې

په اروزګان ولایت کې د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر، د ناروې د مهاجرت شورا، د طبیعي پېښو پر وړاندې د مبارزې اداري HDDOپه همکارۍ په اروزګان ولایت کې پر ۱۹۱۰ بې ځایه شویو کورنیو او په زوره راستنېدونکو سره خوراکي توکي او نغدي مرسته ووېشل شوه.

هرې یادې کورنۍ ته له سروې او پېژندنې وروسته ۲۲۶۰۰، ۲۷۵۰۰افغانۍ او د خوراکي توکو بستې، چې ۵ قلمه خوراکي مواد په دوو کټګوریو په کې شامل وو؛ د ۱۶۵امریکایي ډالرو او ۲۳۴۷۹افغانیو په بدل کې د کور د کرایې او د سرپناه د ترمیم لپاره ورکړل شوې، چې هرې کورنۍ ته د مهاجرینو د چارو ریاست لخوا د پیژندلو وروسته ورکړل شوې.

د یوه بل خبر له مخې، د مجبوریت له مخې راستنېدونکو ته د چمتووالي او همکارۍ په موخه د دې ولایت د مسوولینو غونډه د لړم په ۱۱مه نیټه د ریاستونو ترمنځ د همغږۍ په موخه جوړه شوه.

د دې غونډې موخه چې د اروزګان والي مولوي علي جان احمد په مشرۍ جوړه شوې وه، د ادارو تر منځ د همغږۍ رامنځته کول، د لومړنیو مرستو چمتو کول او د اړمنو راستنېدونکو ته د اړتیا وړ تدابیر نیول وو.

د اروزګان والي د یادې موضوع په اړه خبرې وکړې او له مرستندویه بنسټونو یې وغوښتل چې له یادو کورنیو سره په بېلابېلو برخو کې مرستې وکړي.



تخار کې د حرفوي زده کړو له ۱۷۶تنو فارغانو سره نغدي مرسته وشوه

په تخار ولایت کې د مهاجرینو چارو ریاست له لوري او د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ په همکارۍ د حرفوي زده‌کړو د پروګرامونو په ۱۷۶تنو فارغینو نغدي مرسته وویشل شوه.

د تخار ولایت د مهاجرینو د چارو د رییس په وینا، یادو فارغانو ته پخوا د خیاطۍ، ګلدوزۍ، وایرېنګ، فلزي‌کارۍ او معمارۍ په برخه کې روزنه ورکړل شوې وه.

دغه مرستې چې په بېلابېلو کټګوریو کې(۳ زره، ۵ زره او ۲ زره او ۵۰۰ افغانۍ) وې، د ملګرو ملتونو د کډوالو چارو د عالي کمېشنرۍ له خوا پر دوی ووېشل شوې.

دغه راز د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ د دفتر په مرسته له ۱۱۰ بې ځایه شویو او راستنو شویو کډوالو سره نغدي او د غواګانو مرسته وشوه.

یادې کورنۍ د مهاجرینو چارو ریاست له لوري د دشت قلعه، ورسج، خواجه غار، کلفګان او فرخار په ولسوالیو کې پیژندل شوې وې، یادې مرستې چې په بیلابیلو کټګوریو کې ۲۲زره او ۵۰۰، ۲۲زره او ۴۸،۶۰۰زره او۵۵۰ او ۲۹زره او ۱۵۰افغانۍ د سرپناه د ترمیم په موخه په او په شپږو سروې شوو ځایو کې ۶۰ نارینه او ښځینه‌وو یوه یوه شیدې ورکونکې غوا له ۲۹۰کیلو ګرامه خوراکي توکو سره د مهاجرینو چارو ریاست تر څارنې لاندې ووېشل شوې.



د يـو بـل خبر له مخـې، د تخـار د مهاجرينـو چـارو رياسـت پـه دغـه ولايت کې د څښاک د اوبو د ۱۳ څاګانو کيندلو د پيل خبر ورکړ.

د دغـه ولايـت د مهاجرينـو چـارو رئيـس د معلوماتـو لـه مخـې، د دغـه ولايـت پـه خواجـه بهاءالديـن، دشـت قلعـه، خواجـه غـار او تالقـان ولسـوالیو کـې د څښـاک د اوبـو د ۱۳ نيمـه ژورو څاګانـو کيندلـو چـارې د مهاجرينـو چـارو رياسـت د اسـتازو او د کليـو پراختيـا او قـراردادي شرکتونو په حضور کې پيل شوې.

د سرچينې د معلوماتـو لـه مخـې، ۲ حلقـې د تالقانـو بنـار د جـټ تغـي ولـدي او ګلسـتان بـالا پـه کليـو کـې، ۱ حلقـه د خواجـه بهاوالديـن ولسـوالۍ پـه مهاجـر قـشلاق کـې، يـوه حلقـه د خواجـه غـار ولسـوالۍ پـه زرد کمـر کلي کـې او ۹ حلقـې د دشـت قلعـه ولسـوالۍ پـه کليـو (آی خانـم، قـروق سـای، دونـګ قـشلاق، شـهرکهنه، شـهرنو، توحيـد آبـاد، توحيـد آبـا يـک، خمـدان) کـې د قـراردادي شرکتونـو لـه خـوا د ملګـرو ملتونـو د عـالي کمېـشنرۍ پـه مرسـته د ځاه‌ګانـو د کېندلـو چـارې تـر سره کېږي.

د يـادو څاګانـو کيندلـو چـارې بـه د دوو مياشـتو پـه مـوده کـې بشـپړې شي او د دغـو څاګانـو پـه کيندلـو سره بـه د ٦٨٠ کورنيـو د څښاک د اوبو د کمښت ستونزه هواره شي.

همدارنګـه سرچينـه زياتـوي، چـې د تخـار ولايـت د مرکـز تالقانـو اړونـد پـه 6 سـيمو کـې د ۱۰ کورنيـو باغونـو جوړولـو چـارې بـه د ملګـرو ملتونـو د کډوالـو د عـالي کمېـشنرۍ پـه مرسـته د دوو اونيـو پـه موده کـې جوړې شي.



پـه ګټـه اخيسـتونکو کـې (راسـتنې شـوې، بـې ځايـه شـوې او بـې وزلـه کورنـۍ) شـاملې دي، چې(۷)بنـځې او(۳) نارينـه شـامل دي او پـه هـر ډول موسـمي شرايطـو کـې پـه يـادو باغونـو کـې هـر ډول سبزيجات کري.



فراه کې له ۴۰۰ کورنيو سره مرسته وشوه

پـه فـراه ولايـت کـې ۴۰۰ اجبـاري راسـتنېدونکو کورنيـو تـه د کډوالـۍ نړيـوال سـازمان د دفتر پـه همـکارۍ نغـدي مرسـتې او د ژمنيـو جامو بستې وويشل شوې.

يـادې کورنـۍ پخـوا د مهاجرينـو چـارو رياسـت لـه لـوري سروې او پيژنـدل شـوې وې، چـې لـه هغـې وروسـته د ۱۳ زره او ۸۰۰ ، ۷۵ زره ۱۵ زره ۱۷ زره افغانيـۍ ، دوه کمپلـې او د ژمنيـو جامـو يـوه يـوه بسـته مرسته تر لاسه کړه .



همـدا راز د فـراه ولايـت پـه مرکـزي سـيمو کـې د ويالـو او سړکونو د پاکولـو لپـاره ۱۸۰ تنـه کارګـران چـې د مهاجرينـو چـارو رياسـت سره په همغږۍ ګمارل شوي وو.

هـر يـوه تـه ۱۰۵۰۰ افغانـۍ د کار پـه ځـای کـې د ډنمـارک د مهاجرينـو ټولنـې لـه خـوا د يـوې مياشـتې کار پـه بـدل کـې وويشـل شوې.



۵۷۱ کورنۍ له نغدي مرستو برخمنې شوې

په غور ولایت کې پر ۵۷۱ زیانمنو شویو کورنیو د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ له لوري نغدي مرسته وویشل شوه.

یادې شوې کورنۍ پخوا د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له خوا پیژندل شوې وې چې وروسته یې د ۲۲۶۰۰ افغانیو په ارزښت مرسته ترلاسه کړه .



کندز کې ۳۲۹ کورنیو ته د کار وسایل او نغدې پیسې ورکړل شوې

په کندز ولایت کې پر ۳۲۹ کورنیو د خیاطۍ وسایل، نغدې پیسې، د CECO موسسې، د ناروې د مهاجرت شورا او د افغان ښځو لپاره د ښځو په همکارۍ وویشل شوې.

دکندز ولایت دمهاجرینو دچارو د رییس په وینا چې له دې مخکې د راستنېدونکو کورنیو ۱۲۰ تنه د امام صاحب ولسوالۍ په پنځو ځایونو کې د حرفوي زده کړو په څانګه کې د شپږو میاشتو لپاره په زده کړو بوخت وو او له روزنیز کورس وروسته هر یوه ګډونوال ته له نورو وسایلو سره یو د ګنډلو ماشین؛ پر کورنیو د۲۱۷۶۰، ۲۰۴۲۰او ۵۰۰۰۰ افغانیو نغدي، یوه یوه بخارۍ د وسایلو ترڅنګ وویشل شول.



د یو بل خبر له مخې، د کندوز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې پر ۲۴ بېځایه شویو او راستنېدونکو کورنیو د شیدو غواوې ووېشل شوې.

دکندز ولایت دمهاجرینو دچارو د رییس په وینا هر یوې یادې شوې کورنۍ ته چې مخکې د معیشت پروګرام تر نامه لاندې د ګډو تیمونو له خوا سروې او پیژندل شوې وې، دملګرو ملتونو د عالي کمیشنرۍ له خوا ورسره د شیدو د غواوو مرسته وشوه، چې د هغوی خوراکي توکي هم ورسره مله وو.

په پام کې ده چې په راتلونکي کې به پر لسګونو نورو کورنیو د شیدو غواوې وویشل شي.



کندوز کې د بې ځایه شویو او راستنېدونکو لپاره د روغتیایي پوهاوي پروګرام جوړ شو

د کندز ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له خوا د تلې میاشتې په ۱۷ نیټه د بې ځایه شویو او راستنېدونکو لپاره د روغتیایي پوهاوي پروګرام جوړ شو.

دغه پروګرام د کندز د مرکز اړوند د حاجي عبدالعلیم او صاحب خان په کلي کې د ۱۲۴بې ځایه شویو او راستنیدونکو لپاره جوړ شوی و او د حفظ الصحي چاپیریال، شخصي او کورنۍ په اړه معلومات ورکړل شول.

دغه پروګرام د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونوعالي کمېشنرۍ له خوا د مهاجرینو چارو ریاست په همغږۍ د یوې ورځې لپاره جوړ شوی و.



۴۱۴ زره ۹۹۰ تنه جبري راستنېدونکي د هېواد په فرضي پولو کې د عالي کمېشنرۍ له خدمتونو څخه برخمن شول.

د تورخم، اسلام کلا او سپین بولدک په پولو کې د جبري راستنیدونکو وضعیت ته د رسیدو په موخه له پاکستانه څخه راستنېدونکي څلور لکه څوارلس زره او ۹۹۰جبري راستنیدونکي د ګومارل شوي کمیسیون له خدمتونو څخه برخمن شوي دي.

د ترلاسه شوو معلوماتو له مخې د تورخم پولې له لارې ۳۷زره کورنۍ راستنې شوې، د ۵ زره ۴۷۸کسانو نوم لیکنه او بایومټریک شوی او ۲۰۰زره کسان د خپلو اسنادو له اداری بهیر څخه تر تېرېدو وروسته ببرته خپلو اصلي ځایونو ته ستانه شوي دي.

همدا راز ۷۵۰۰ کورنیو ته سیمکارتونه وړیا ویشل شوي او ۱۰۱۵۵تنه له روغتیایي خدمتونو برخمن شوي، ۱۵۰ورک شوي ماشومان خپلو کورنیو ته ستانه شوي او ۵۳ ماشومان د زیږون په موقتي کمپونو کې د هغوی میندو ته راستانه شوي او روغتیایي خدمتونه ورته برابر شوی دی.

په راپور کې ویل شوي چې په موقتي کمپونو کې د لمونځ کوونکو لپاره د جومات ۳ بابه پرانستل شوي او ۱۸۰ زره تنه پاخه شوې خواړه ویشل شوي، په لعلپورې ولسوالۍ کې ۷۰ کورونه جوړ شوي، د څښاک اوبو درې ځاګانې کیندل شوي او ۲۰۰ خیمې نصب شوې دي .

دغه راز ۴۵ تنه له دولسم ټولګي فارغ، ۱۰ تنه له څورلسم ټولګي فارغ، ۳ تنه د لیسانس، ۱۴ تنه حافظان، ۴۰۲ تنه له مسلکي زده کړو او ۸۳۸ تنه غریبکاره ثبت شول

د یادو شویو کمیټو مسوولینو د ترکیې او جاپان له سفیرانو او د ۳۷۰ مرستندویه موسسو له مسوولینو سره د مرستو د جلب او جذب او د مرستو د رسولو د چټکتیا په خاطر وکتل.

د ترکیې د سفیر د معلوماتو له مخې، ۲۰ زره خیمې د هرات د زلزلې ځپلو او له ایران او پاکستان څخه د جبري راستنو شویو کورنیو ته استول شوې دي.

دغه راز د جاپان سفیر او د همکارو بنسټونو مسوولینو هم د خپلو مرستو ژمنه وکړه.

دغه راز د کندهار ولایت د سپین بولدک په سرحدي سیمه کې هم تاکل شوې کمیټو د څښاک د اوبو څاه او ۴۰ ګرځنده تشنابونه نصب کړي او له سوداګرو او ځایي خلکو څخه یې څه دپاسه ۱۲۶۱۰تنه پاخه شوي خوراکي توکي ترتیب او وېشلي دي.

او۳ زره ۵۱۸ کورنۍ خپلو اصلي ولایتونو ته انتقال شوي دي.

همدارنګه د ۱۲۳۵۵کسانو درملنه، (۲۰۰) کمپلې، (۲۴۰۰) سیم کارتونه، (۱۲۰) غالۍ، (۲۰۰) د څښاک اوبه بستې، (۴۹۰) څادرونه، (۱۴۰۰) د اوبو ذخیرې او (۱۵۵۵) کورنیو ته لس لس زره افغانۍ ورکړل شوې.

د سرچینې د معلوماتو له مخې، د پکتیکا ولایت په انګور هډه کې مسوولو کمیټو ۷۹کسانو نوم لیکنه کړې، ۲۴سیم کارتونه یې وېشلي، په شرنه کمپ کې یې ۳۰ خیمې او په تروی کمپ کې 22 خیمې نصب کړې او په انګور اډه کمپ کې یې تشنابونه هم ورته لېږدولي دي. دغه کمپ ته ۱۵۰۰ لیتره د اوبه ذخیرې لیږلې دي .

دغه راز په پکتیکا ولایت کې د یادو شویو کمیټو له لارې ۲۲۰ تنو ته بېلابېل روغتیایي خدمات وړاندې شول، د هغوی لپاره ډوډۍ پخول او هرې ۱۱کورنیو ته لس زره افغانۍ نغدي مرسته وشوه.

همدا راز د زابل ولایت په فرضي کرښه کې د ډیورنډ فرضي کرښې ته څېرمه ۷۵خیمې د راستنېدونکو د هرکلي په موخه نصب او د خدمتونو وړاندې کولو ته چمتو شوې دي.

۳زره او ۱۴۴تنه مهاجرین په خپله خوښه او جبري توګه له ایران څخه د اسلام قلعه د پولې له لارې راستانه شوي چې له دې جملې څخه ۱۶۴ تنه یې د مهاجرت د نړیوال سازمان دفتر ته ور وپیژندل شول او خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.

په یاده شوې سرحدي سیمه کې د جوماتونو د تنظیم او تدریس کمیټې له راستنېدونکو سره وکتل، د هغوی ستونزې یې واورېدې او د هغوی وضعیت یې وڅېړه.

د یادې کمیټې مسوولینو د عامې روغتیا وزارت له مرستیال او د استوګنې د موقتي کمیټې له غړي محمد حسن غیاثي سره د موقت کمپ او نورو اسانتیاوو د برابرولو په اړه هم وکتل.

د یادو شویو کمیټو فعالیتونه اوس هم د تورخم، سپین بولدک او اسلام کلا په پولو کې روان دي او پر دې سربېره په بهرنیو هېوادونو کې د مېشتو افغان مهاجرینو (مدني، کورنیو او خصوصي) حقونو څخه د دفاع په موخه د حقوقي پوهانو یوه ځانګړې کمیټه د عدلیې وزارت د تقنیني چارو د عمومي ریاست تر څارنې لاندې جوړه شوې او هڅه کوي چې په بهرنیو هېوادونو کې د مېشتو افغان کډوالو له حقونو او ملکیتونو څخه په قانوني لارو دفاع وکړي.



د جبري راستنېدونکو د هرکلي په موخه د هېواد په ولایتونو کې موقتي کمپونه جوړ شول

د ننګرهار، لغمان، پکتیا، پکتیکا، سرپل، فراه ولایتونو د مهاجرینو چارو ریاستونو د امارتي ادارو او خیریه موسسو او نورو بنسټونو په همکاری له پاکستان څخه د جبري راستنیدونکو د نبه هرکلي او نبه راغلاست لپاره د روان کال لړم میاشت کې موقتي کمپونه جوړ کړي دي.

په ولایتونو کې د مهاجرینو د چارو ریاستونو او آمرینو د اړمنو راستنیدونکو کورنیو د ثبت او راجستر په برخه کې د لا اسانتیاوو د برابرولو، د روغتیایي درملنې په موخه پر وخت رسیدني، د نغدو پیسو، خوراکي او غیر خوراکي توکو د مرستو وېش او انتقال د دوی کورنیو ته د مرستندویه ادارو په همکاری او مرستې د مهاجرت اړوند او نورو مسلو او د عامه پوهاوي کمیټو له لارې ګومارل شوي مسوولین په کمپ کې چمتووالی نیسي چې راستنیدونکي کورنیو هرکلی پر خپل وخت ترسره کړي.



لوګر کې ۳۷۲ کورنیو سره مرسته وشوه

لوګر کې ۳۷۲ راستنېدونکو کورنیو سره د مهاجرت نړیوال سازمان له لوري د ژمنیو جامو او نغدو پیسو مرسته وشوه

دغه کورنۍ پخوا د مهاجرینو چارو آمریت له لوري اړمنې پېژندل شوې وې چې هرې کورنۍ ته ۱۴ زره او ۸۰۰ افغانۍ، درې کمپلې او د ۱۸ ډوله ژمنیو جامو یوه کڅوړه ورکړل شوه.



فاریاب کې ۷۳۳ کورنیو سره مرسته وشوه

فاریاب کې ۷۳۳ راستنېدونکو او بې ځایه شوو کوررنیو سره د کمپلو، ژمنیو جامو، بخارۍ او وسایلو یې د مهاجرت نړۍ وال سازمان، د ناروې مهاجرت شورا او ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ په همکارۍ مرسته وشوه.

په دې مرسته کې یادو کورنیو ته تر پېژندو وروسته ۱۳ زره او ۸۰۰، ۱۰زره، ۱۲زره، ۴۷زره او ۷۰۰، ۲۲زره او ۶۰۰ افغانی، درې کمپلې، یوه کڅوړه ژمنۍ جامې، یوه بخارۍ او وسایل یې او ۲۰۰د ګنډلو سولري ماشین ، بتری او کنترولر د مهاجرینو اداري تر خارنې لاندې ورکړل شول.



تخارکې ۳۰ تنو ته کاري وسایل ووېشل شول

په تخار ولایت کې د لبندۍ پر ۲۵مه هغو ۳۰ کسانو ته چې مخکې یې د فلزکارۍ په برخه کې حرفوي زده کړې وې، کاري وسایل ووېشل شول.

هر یوه زده کونکي ته د ملګرو ملتونو د مهاجرینو چارو عالي کمېشنرۍ له خوا د عاید د لاسته راوړلو او د ځان بسیاینې په موخه ۸ ډوله کاري وسایل ورکړل شول چې د هغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست تر خارنې لاندې ووېشل شول.



غور ولایت کې ۲ زره ۷۸ کورنیو سره مرسته وشوه

په غور ولایت کې په ۲ زره ۷۸زیانمنو، راستنېدونکو او بې ځایه شویو کورنیو باندې د اسلامک ریلیف موسسې په همکارۍ مرستې وویشل شوې.

یادې شوې کورنۍ پخوا د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ریاست له لوري اړمنې پیژندل شوې وې چې هرې کورنۍ ته ۷ زره او ۵۰۰ افغانۍ او درې کمپلې ورکړل شوې.






تورخم کې د راستنېدونکو وضعیت ته د رسېدنې کمیسیون غړو سره د پلان او پالیسۍ د مرستیال لیدنه



د ترکیې له نوي سفیر سره د مهاجرینو چارو سرپرست وزیر د لیدنې پرمهال



د جبري راستنېدونکو لپاره تورخم ته د جګپوړو چارواکو سفر



د هرات زلزله ځپلو وضعیت ته د رسېدنې په موخه اړین تیاری



بې ځایه شوو او راستنېدونکو ته د خوراکي توکو د مرستې وېش



د هرات د زلزله ځپلو د استوګنې یو عکس



د سپين بولدک له لارې پاکستان څخه جبري راستنېدونکي
د راستنېدنې پرمهال



د مهاجرينو وزير؛
تورخم کې له پاکستان څخه راستنېدونکو ته د ښه راغلاست
پرمهال



د يونان په اوبو کې د افغان مهاجرينو کړه شوې کشتۍ



د کاپيسا ولايت د هروکي کلي د مهاجرينو په ښارګوټي کې د
هلکانو د عالي لېسې د ودانۍ د پرانيستلو جريان



په ولايتونو کې د سولري بريښنا وېش جريان



تورخم کې له پاکستان څخه جبري راستنېدونکي د
راستنېدنې پرمهال

Islamic Emirate of Afghanistan
Ministry of Refuges and Repatrations
Information and Public Relation Department

Mohajer magazine
The 20th number autumn 1402



The return of forced returner from Pakistan through the spin boldak border in Kandahar province.

www.morr.gov.af Morr.af moRR AFG Ministry of refugees and repatriation